د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# سیرت النبي صلی الله علیه وسلم

## اتم ټولګی

## (د دیني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

سیرت النبي ﷺ — اتم ټولګی (د دیني مدارسو لپاره)

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل
او پلورل يې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# سیرت النبي ﷺ

## اتم ټولگی

## (د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ . ش.

## مؤلف

– دکتور اسد الله حنیف

## علمي او مسلکي ایډیټ

- قیام الدین کشاف
- رقیب الله ابراهیمي

## د ژبې ایډیټ

- محمد قاسم هیله من
- فضل الله نیازی

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه

- دکتور فضل الهادي وزین
- عبدالصبور عربي
- ګل آقا شایق

## إشراف

- دکتور شیر علي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی  دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې  هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی  د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو  د ترکمنو د تاجکو
ورسره عرب، گوجر دي  پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي  هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي  لکه لمر پر شنه اسمان
په سینه کې د اسیا به  لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر  وایو الله اکبر وایو الله اکبر

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د پوهنې د وزير پيغام**

الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على رسوله محمد و على آله و اصحابه اجمعين، اما بعد:

د پوهنې تعليمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هيواد د اوسنيو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختيا کې بنسټيز او ارزښتمن رول لري.

تعليمي نصاب بايد د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډگرونو کې له بدلون او پرمختگ او د ټولنې له اړتياوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د وړکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختيا ومومي.

د تعليمي نصاب په ډگر کې يو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بيا کتنې او ودې ته يې جدي اړتيا ليدل کېده؛ ځکه له يوې خوا بايد د ديني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توگه د معارف د هڅو د پوره پام وړ وگرځي او له بلې خوا د ديني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دين عقايد، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام، قانون او د نړۍ د خالق او پروردگار د وروستني پيغام په توگه د قيامت تر ورځې پورې، د بشريت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاريخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعليماتو د سيستم په رامنځته کولو، پراختيا او بډاينه، په تېره بيا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعليمي نصاب په تدريجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاريخ ته کره کتنه، دا څرگندوي چې د ديني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتياوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختيا موندلې ده.

زموږ گران هيواد افغانستان د علمي ځلانده تاريخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانگو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې يې مهم رول درلود. د علم او فرهنگ په مختلفو ډگرونو، په ځانگړې توگه د عقايدو، تفسير، حديث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرگونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وينا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ويښتابه له پراختيا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د خومره والي او څرنگوالي له مخې زيات بدلون موندلی او د هېواد کوچنيان او ځوانان په ډېره مينه او ليوالتيا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د خپل مسؤوليت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کيفي او کمي پراختيا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ گامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استاذانو او متخصصانو څخه په بلنه د ديني مدرسو د تعليمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متونو د شرحې او توضيح او د فعاليتونو، ارزونو او تمرينونو په ورزياتولو د درسي کتابونو له نويو معيارونو سره سم چمتو کړل.

هيله من يم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاينې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختيا او بډاينې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله التوفيق

دکتور محمد ميرويس بلخي

د پوهنې وزير

## مقدمه

**ښاغلو ښوونکو او ګرانو زده کوونکو!**

د سيرت علم چې د الله تعالی د پيغمبر حضرت محمدﷺ له ژوند او د ده د زمانې له حالاتو او پېښو څخه بحث کوي، د قرآن او سنتو په پوهه کې ارزښتمن اغېز لري، ځکه چې د آيتونو شان نزول او د احاديثو شان ورود د سيرت له علم څخه زده کيږي، له همدې کبله د سيرت زدکړه د اسلام د دين د لارښوونو د سمې پوهېدنې لپاره مهمه او بنسټيزه چاره ګڼل کيږي.

همدارنګه موږ د مسلمانانو په توګه د دين د عملي تطبيق لپاره په رسول اللهﷺ پسې اقتداء کولوته اړتيا لرو، ځکه چې د هغه مبارک ژوند، د اسلام د دين ژوندۍ بېلګه او عملي تطبيق دی.

د نبوي سيرت ارزښت ته په کتلو سره، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د پوهنې وزارت د ښوونيز نصاب د پراختيا رياست د نبوي سيرت تدريس، د ديني مدارسو د منځنۍ دورې په دوو ټولګيو (٧- ٨) کې د مستقل مضمون په توګه مقرر کړ او د دغه مضمون د مفرداتو په برابرولو کې يې د مطلبونو لومړيتوبونه، د موضوعاتو تسلسل او د زده کوونکو عمرونه په پام کې نيولي دي.

دغه درسي کتاب د ليکنې له نويو اصولو سره سم په ګټوره او اغېزمنه توګه تأليف شوی او د مطالبو په راټولولو کې يې په موثوقو او معتبرو رواياتو بسنه شوې ده.

هيله لرو د علماوو او مدرسينو د منلو وړ وګرځي او زده کوونکي يې له مطالبو څخه د علم او عمل په ډګر کې پوره ګټه واخلي.

و الله الموفق

# لړلیک


| شمیره | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | مدينې منورې ته د پیغمبر ﷺ هجرت(۱) | ۱ |
| ۲ | مدينې منورې ته د پیغمبر ﷺ هجرت(۲) | ۵ |
| ۳ | انصار د پیغمبر ﷺ په استقبال او هرکلي کې | ۹ |
| ٤ | پیغمبر ﷺ او د نوې ټولنې جوړښت | ۱۳ |
| ۵ | د نبوي جومات ودانول | ۱۷ |
| ٦ | د مواخات (ورورولۍ) تړون | ۲۱ |
| ۷ | مدني تړون | ۲۵ |
| ۸ | د مدينې منورې د دولت ځانګړنې | ۲۹ |
| ۹ | د مدينې منورې د نوي دولت په مقابل کې د یهودو دریځ | ۳۳ |
| ۱۰ | د جهاد مشروعیت | ۳۷ |
| ۱۱ | د ځینو احکامو تشریع | ٤۱ |
| ۱۲ | د بدر غزا (۱) | ٤۵ |
| ۱۳ | د بدر غزا (۲) | ٤۹ |
| ۱٤ | د بدر د غزا لاس ته راوړنې او د پیغمبر ﷺ د ترور دسیسه | ۵۳ |
| ۱۵ | د بدر او احد د غزاګانو تر منځ تر ټولو مهمې پېښې | ۵۷ |
| ۱٦ | د احد غزا(۱) | ٦۱ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۷ | د احد غزا(۲) | ٦٥ |
| ۱۸ | د احد غزا(۳) | ٦۹ |
| ۱۹ | د احد غزا(٤) | ۷۳ |
| ۲۰ | د احد په غزا کې د مسلمانو ښځو رول | ۷۷ |
| ۲۱ | د احد او خندق د غزاګانو ترمنځ مهمې پېښې(۱) | ۸۱ |
| ۲۲ | د احد او خندق د غزاګانو ترمنځ مهمې پېښې(۲) | ۸۳ |
| ۲۳ | د پیغمبر ﷺ د وژلو لپاره د بنی نضیر یهودو هلې ځلې | ۸۷ |
| ۲٤ | د ذات الرقاع غزا | ۹۱ |
| ۲٥ | د بنی مصطلق غزا | ۹٥ |
| ۲٦ | د احزاب(خندق) غزا (۱) | ۹۹ |
| ۲۷ | د احزاب (خندق) غزا(۲) | ۱۰۳ |
| ۲۸ | د بنی قریظه یهود او د ژمنې ماتول | ۱۰۷ |
| ۲۹ | د خندق غزا او د حدیبیې د سولې ترمنځ مهمې پېښې | ۱۱۱ |
| ۳۰ | د حدیبیې سوله(۱) | ۱۱٥ |
| ۳۱ | د حدیبیې سوله(۲) | ۱۱۹ |
| ۳۲ | د حدیبیې سوله(۳) | ۱۲۱ |
| ۳۳ | پیغمبر ﷺ د هېوادونو مشران اسلام ته را بولي | ۱۲٥ |
| ۳٤ | د خیبر غزا | ۱۲۹ |

| | | |
|---|---|---|
| ٣٥ | قضايي عمره | ١٣٣ |
| ٣٦ | د موته او ذات السلاسل سريه | ١٣٧ |
| ٣٧ | د مكې فتحه (١) | ١٤١ |
| ٣٨ | د مكې فتحه (٢) | ١٤٥ |
| ٣٩ | د حنين او طائف غزاګانې | ١٤٩ |
| ٤٠ | د تبوك غزا | ١٥٣ |
| ٤١ | د پیغمبر ﷺ غزاګانو ته یوه لنډه کتنه | ١٥٧ |
| ٤٢ | حجة الوداع | ١٦١ |
| ٤٣ | د پیغمبر ﷺ ناروغتیا او رحلت | ١٦٥ |
| ٤٤ | د پیغمبر ﷺ د رحلت په وړاندې د صحابه وو دریځ او د حضرت ابوبکر رضي الله عنه غوره کول | ١٦٩ |
| ٤٥ | د پیغمبر ﷺ کورنی | ١٧٣ |
| ٤٦ | د حضرت محمد ﷺ صفتونه او خیره | ١٧٥ |

## لومړی لوست

# مدينې منورې ته د پيغمبر ﷺ هجرت (۱)

### ۱- د قريشو ناکامي او د پيغمبر ﷺ خلاصون

په اووم ټولګي کې مو ولوستل، چې د مکې کافران وروسته له دې چې ونه توانيدل د مسلمانانو په تهديد، تعذيب او له هغو سره د اړيکو په پرې کولو د اسلام د سپيڅلي دين د پرمختګ او خپراوي مخه ونيسي، نو د اسلام د ستر لارښود او قايد حضرت محمد ﷺ د له منځه وړلو يوه کرغيړنه دسيسه يې طرحه او په عملي کولو يې لاس پورې کړ، خو د الله ﷻ اراده داسې وه چې خپل پيغمبر ﷺ خوندي وساتي او حق پر باطل برلاسی کړي.

### د حضرت محمد ﷺ د وژلو د پلان ناکامي

کله چې د قريشو کفار مدينې منورې ته د مسلمانانو د هجرت په مخ نيوي کې ناکام شول، ددې کار خطرناکو پايلو ته په پاملرنه يې اقتصادي ګټې او په ميشتو قبيلو او عربي ټولنه کې خپل مقام په خطر کې وليد، نو ځکه د قريشو رهبران او مشران دار الندوې ته ور ټول شول، تر څو د اسلامي دعوت د لارښود د له منځه وړلو لپاره مشوره وکړي. تر بحث او څيړنې وروسته يې پدې اتفاق وکړ چې بايد هغه ووژل شي، پلان داسې ترتيب شو چې د قريشو له ټولو قبيلو څخه يوه ډله ځوانان يوځای پر حضرت محمد ﷺ باندې بريد وکړي، تر څو دده وينه د قريشو د قبايلو په مينځ کې وويشل شي، چې په دې صورت کې بني هاشم نشي کولای چې له ټولو سره وجنګيږي، نو د ديت په اخيستلو به رضايت وښيي او په دې ډول به ورځنې خلاص شو.

په دې وخت کې جبرئيل عليه السلام پيغمبر ﷺ ته راغی او د کفارو له شيطاني دسيسې څخه يې خبر کړ او ورته يې وفرمايل: الله ﷻ درته له مکې مکرمې څخه د وتلو امر کړی دی.

د هجرت وخت او د قريشو د دسيسې دشنډولو لاره يې ورته وښوده او ويې فرمايل: نن شپه په خپله بستره کې مه ويده کيږه .نو نبي کريم ﷺ علی بن ابی طالب رضي الله عنه ته امر وکړ چې د ده په بستره کې ويده شي او ډاډ يې ورکړ چې د دښمن لخوا به ورته هيڅ ضرر نه رسيږي.

### د هجرت لپاره د پيغمبر ﷺ عالي ترتيبات

حضرت عايشه رضي الله عنها روايت کوي: پيغمبر ﷺ به په عادي توګه سهار ماښام د حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه کورته تشريف راوړ؛ خو کومه ورځ يې چې د هجرت اجازه ومونده په غير معمول وخت (غرمه) کې راغی، عايشه رضي الله عنها فرمايي:کله چې رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته راغی نو مجلس کې يوازې زه او زما خور اسماء وو.رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه ته

وفرمايل: کوم کسان چې ستا سره موجود دي هغوی بهر ته وليږه! ابوبکر صديقﷺ وفرمايل: ای د اللهﷻ رسوله! دا زما لورګاني دي، زما مور او پلار دي له تا ځار وي څه شوي دي؟

پيغمبرﷺ وفرمايل: ما ته له مکې څخه د وتلو او مدينې منورې ته د هجرت کولو اجازه شوې ده.

ابوبکر صديقؓ وفرمايل: ای د الله رسوله! آيا زه دې ملتيا کولای شم؟ ويې فرمايل: هو! حضرت عايشهؓ زياتوي، په الله سوګند ما له دې څخه مخکې هيڅوک نه وو ليدلي چې له خوشحالی څخه وژاړي، خو حضرت ابوبکر صديقؓ مې وليد چې له خوشحالی يې وژړل.

حضرت ابوبکر صديقؓ وفرمايل: ای د الله رسوله! ما دغه دواړه اوښان د همدې ورځې لپاره تيار کړي دي، نو عبدالله بن اريقط يې د لارښوونې لپاره په کرايه ونيو او هغه دواړه اوښان يې ورته وسپارل چې تر ټاکلي وخت پورې ورسره وي.همدا راز ابوبکر صديقؓ او دکور خلکو يې د هجرت د سفر لپاره توښه تياره کړه او اسماء د ابوبکر صديقؓ لور خپل ملاوستنی(نطاق) دوه ټوټې او دهغه جوال خوله يې پرې وتړله چې د سفر توښه يې پکې اچولې وه له همدې کبله اسماء رضي الله عنها په ذات النطاقين سره شهرت لري.

### (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، ولې قريشو په پای کې دا هوډ وکړ چې پيغمبرﷺ ووژني؟ دده د وژلو لپاره يې ولې د مختلفو قبيلو ځوانان غوره کړل؟

## د پيغمبرﷺ دکورکلابندي

د قريشو مشران د ورځې په اوږدو کې د خپلې ناوړې نقشې د اجرا کولو لپاره په پټه تيار شول.او د پيغمبرﷺ دله منځه وړلو لپاره يې (۱۱) تنه ځوانان وټاکل، په هغه شپه حضرت عليؓ د پيغمبرﷺ په امر دده په بستره کې ويده شو، کله چې تياره شوه کفارو په پټه د پيغمبرﷺ کور کلابند کړ او په دې انتظار کيناستل څو د دسيسې د اجراء وخت راورسيږي. په همدې مهال پيغمبرﷺ له خپله کوره ووت او يو موټی خاورې يې د دوی په سرونو ور وشيندلې او د قرآن کريم دا آيتونه يې تلاوت کړل: ﴿وَجَعَلْنَا مِنْ بَيْنِ اَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَاَغْشَيْنَاهُمْ فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ﴾ [يس: ۹] چې له امله يې دوی ټول ويده شول او د دوی په مينځ کې تېر شو او د ابوبکر صديقؓ کور ته ولاړ. بيا يې په شپه کې د يمن په لوري مخه کړه. کله چې سبا شو،کفارو وليدل چې علي کرم الله وجهه په بستره کې ويده دی، له هغه څخه يې د پيغمبرﷺ په هکله پوښتنه وکړه. ده وفرمايل: زه خبرنه يم.کفارو د نبي کريمﷺ پلونه تعقيب کړل او د ثور غره ته ورسيدل. په هغه ځای کې يې د قدم نښه ورکه کړه وروسته غره ته وختل او غار ته نږدې ورغلل ويې ليدل چې د غار خوله غنې

په خپلې ځالې بنده کړې وه، نو يو او بل ته يې وويل:که چيرې دلته ننوتلی وای، نو د غنې ځاله به نه وای.

پيغمبرﷺ حضرت عليرضي الله عنه ته امر کړی ترڅو په مکه کې پاتې شي او هغه امانتونه چې خلکو له رسولﷺ سره ايښي وو خپلو خاوندانو ته وسپاري.

سره له دې چې د قريشو کافرانو د رسول اللهﷺ او اسلام سره سخته دښمني درلوده، خو بيايې هم د رسول کريمﷺ په رښتينولۍ او اما نتدارۍ اعتراف او يقين کاوه، تردې چې خپل هغه مالونه چې په ضائع کيدو به يې ډاريدل دده سره د امانت په توګه ايښودل، چې د دوی دغه کار له يو لوري د رسول اللهﷺ په صدق نبوت، امانت دارۍ او عصمت دلالت کوي او له بل لوري دده په هکله د کفارو په متناقض موقف دلالت کوونکی دی. رښتنولي، امانت داري او لوړ اخلاق داسې صفتونه دي چې دښمن ور باندې د اعتراف څخه پرته بله چاره نه لري، نو هر مسلمان او خصوصاً علماء کرام او دين ته دعوت کوونکي بايد د لوړو اخلاقو څخه برخمن او د رسول الله ﷺ د سيرت اقتداء کوونکي وي.

## د مکې په جدايۍ د پيغمبرﷺ د افسوس څرګندونه:

پيغمبرﷺ چې کله مکه مکرمه پريښودله، نو د يوې غونډۍ پرسر ودريد او ويې فرمايل: ای مکې! په الله سوګند ته د الله په وړاندې تر ټولو غوره او ګرانه ځمکه يې. که زه دې خلکو نه ايستلی، هيڅکله به له تاڅخه نه وم وتلی.




## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، پيغمبرﷺ د کفارو له منګولو څخه په څه ډول وژغورل شو؟

## د لوست عبرتونه

- د قريشو کافرانو چې د پيغمبرﷺ وژنې ته اقدام کاوه دا د اسلام د پياوړي منطق په وړاندې ددوی په بيوزلۍ دلالت کوي.

•- پيغمبرﷺ سره له دې چې د الله تعالی معنوي تاييد درلود، عالم اسباب او مادي وسيلو ته يې هم لاس واچاوه .

•- د اللهﷻ تدبير تر ټولو تدبيرونو لوړ دی.کله چې الله ﷻ د يوه کار اراده وکړي، مخلوق د هغه مخه نشي نيولای .

•- د رسول اللهﷺ په رښتينولۍ او امانتدارۍ د قريشو اعتراف د هغه په عصمت او صدق نبوت دلالت کوي.

•- رښتينولي، امانتداري او لوړ اخلاق ددې لامل کيږي چې يو داعي،خپل دښمن هم تر تاثير لاندې راولي.

•- له هېواد سره مينه يوه فطري غريزه ده، ان ترڍې چې غوره انسانانو په ډېرو ستونزمنو شرايطو کې نه ده هېره کړې.

•- د رسول الله ﷺ په هجرت کې د ابوبکر صديقؓ او دهغه دکورنۍ رول (ونډه) او په سختو شرائطو کې په دوی باندې د رسول اللهﷺ اعتماد او باور لرل.

•- د هجرت د لوازمو په تيارولو کې د ښځو او پيغلو نجونو برخه اخيستل چې د عائشې او اسماء رضي الله عنهما مشارکت په اسلامي دعوت او مبارزه کې دښځو د رول بيانوونکی دی.

## ارزونه

١- مشرکانو د حضرت محمدﷺ د وژنې لپاره څرنګه پلان طرح کړی و؟

٢- کله چې کفار د ثور غار ته ورسيدل د غار په خوله کې يې څه وليدل او ولې غار ته ور دننه نشول؟

٣- پيغمبرﷺ ولې عليؓ د هجرت په وخت کې له ځان سره ملګری نه کړ ؟

٤- د هجرت په سفرکې څوک له نبي کريمﷺ سره ملګری و؟

٥- د يو اسلامي دعوت کوونکي اخلاقي لوړتياوې په ټولنه کې څه اغيزه (تاثير) لري؟

## کورنۍ دنده

زده کونکي دې د کفارو له منګولو څخه د پيغمبرﷺ د خلاصون څرنګوالی په خپلو کتابچو کې وليکي.

# مدينې منورې ته د پیغمبرﷺ هجرت(۲)

## ۲- پیغمبرﷺ د ثور په غارکې او د مدینې په لورې یې د سفر هوډ:

په تېر شوي لوست کې مو ولوستل، سره له دې چې د پیغمبرﷺکور د مشرکانو تر سختې کلابندۍ لاندې و، خو هغهﷺ په شپه کې له کوره وځي یو موټی خاورې د دوی پر سرونو باندې شيندي او د قرآن کریم آیتونه تلاوت کوي چې له برکته یې مشرکین ټول ویده کېږي، نبي کریمﷺ د دوی له منځه تېرېږي او له حضرت ابوبکر صدیقرضي الله عنه سره د مکې د باندې ځای وعده کوي او بیا د شپې په مهال دواړه د ثور د غره پر سر په یوه غار کې پناه اخلي.

## د ثور په غارکې

رسول اللهﷺ او حضرت ابوبکر صدیقرضي الله عنه د بعثت په ۱٤کال د صفرې په ۲۷ شپه چې د۶۲۲ م کال د سپتامبر له ۱۲ اویا ۱۳ نیټې سره سمون خوري، د ثور غار ته ورسیدل او درې شپې (د جمعې، شنبې او یکشنبې شپې) هلته پاتې شول.

عبدالله د ابوبکررضي الله عنه زوی چې یو هوښیار ځوان و، د نبي اکرمﷺ پر ضد د قریشو هره دسیسه او تدبیر به یې، چې واورید، زړه ته به یې سپارلو او د شپې په پیل کې به یې نبي اکرمﷺ او دده ملګرې ته بیانوه سبايي به د مکې مکرمې ښار ته راتللو او داسې به یې ښودله چې ګواکې ټوله شپه په مکه کې د خپل قوم په مینځ کې دی.

عامر د فهیره زوی د حضرت ابوبکررضي الله عنه غلام او شپونکي به په دې دریو شپوکې خپل پسونه هغه لورې ته بیول. پیغمبرﷺ او ابوبکر صدیقرضي الله عنه به په ډاډه زړه له غاره راوتل او د خپلو میږو شیدې به یې څښلې. نوموړې شپونکي به د عبدالله پسې خپله رمه د مکې په لورې بیوله څو د هغه د قدمونو نښې ورانې کړي .

## د مدینې منورې په لاره کې

دا چې کفار د رسول اللهﷺ په وژنه بریالي نشول نو غرونه، درې، لوړې او ژورې یې ویلټلې او د ثور د غار تر خولې پورې ورسیدل، په دغه وخت کې ابوبکر صدیقرضي الله عنه د ډېر خفګان له امله په ژړا شو، رسول اللهﷺ ورته تسلي ورکړه لکه چې قرآن کریم د دغه حالت بیان کوي: (لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا) ژباړه: مه خفه کېږه الله تعالی له موږ سره دی، کله چې پیغمبرﷺ د اللهجل جلاله په پناه کې و،کفار په داسې حال کې چې له نبي کریمﷺ څخه د څو قدمونو څخه په زیاته فاصله کې نه وو،

خالي لاسونه راوګرځيدل.

کله چې د نبي کريمﷺ د نيونې څخه نا هيلي شول، نو د الله رسول او د سفر ملګری يې، حضرت ابوبکرؓ، د مدينې په لوري تګ ته چمتو شول.

عبدالله د اريقط ليثی زوی که څه هم د مشرکانو په دين ؤ خو له دې امله چې هغه تکړه لارښود او په لارو ښه بلد ؤ، نو ابوبکر صديقؓ له مخکې نه په اجاره نيولی و. د غار له وتلو وروسته عبدالله لومړی دوی د جنوب (يمن په لوري) بوتلل. او بيا يې د لويديځ په لوري د سرې بحيرې خوا ته مخه کړه او د اسې لارې ته ورسيدل چې خلکو ته نه وه معلومه. بيا يې د سرې بحيرې(بحر احمر) غاړې ته نږدې دشمال په لوري حرکت وکړ او په داسې لاره ولاړل چې ډير لږ شمير کسان له دې لارې څخه مدينې منورې ته تلل.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، له هغو کارونو او ترتيباتو څخه چې پيغمبرﷺ د هجرت په هکله د مشرکانو د غافل کولو لپاره نيولي وو، څه ترلاسه کوئ؟

## مدينې منورې ته د سفر پر مهال د پيغمبرۍ د معجزې څرګنديدنه

پيغمبرﷺ له خپلو ملګرو سره دويمه يا دريمه ورځ د معبد خزاعي د مور خيمې ته، چې د(قُدَيد) په سيمه کې د مکې په ۱۳۰ کيلومترۍ کې پرته وه، ورسيدل. د معبد خزاعي مور يوه پاک لمنه او سخي ښځه وه. هر څوک به چې ددې د خيمې تر څنګ تيريدل، خواړه او اوبه به يې ورکولې.

پيغمبرﷺ او ملګرو يې له دې څخه پوښتنه وکړه: چې د خوړلو لپاره څه لرې؟ ويې ويل، په الله سوګند که څه مې درلودی له تا سو مې نه سپمول. سږکال وچکالي ده. د الله رسول يوې ميږې ته، چې د خيمې په څنګ کې ولاړه وه، وکتل او ويې پوښتل: دا ميږه څرنګه ده ای د معبد مورې؟ ځواب يې ورکړ: دا ميږه د کمزورۍ له امله له رمې څخه پاتې شوې ده. د الله رسول وفرمايل: آيا شيدې لرې؟ ويې ويل: نه، ويې فرمايل: اجازه راکوې هغه ولوشم؟ دې وويل: مور او پلار مې درځنې ځار شه که په هغې کې شيدې وينې ويې لوشه! پيغمبرﷺ د الله په يادولو د ميږې تيونو ته لاس وروړ او دعا يې وکړه. سم له لاسه د ميږې تې له شيدو څخه ډک شول. نبي کريمﷺ له دې څخه لوښی وغوښت او په هغه کې يې د ميږې شيدې ولوشلې. لوښی له شيدو ډک شو؛

د معبد له مورځخه يې وغوښتل چې له هغه شيدوڅخه وڅښي. ښځې شيدې وڅښلې او مړه شوه. د پيغمبرﷺ ملګرو هم شيدې وڅښلې او پرې ماړه شول او په پای کې پيغمبرﷺ په خپله هم وڅښلې. د اللهﷻ پيغمبرﷺ دويم ځل ميږه را ولوشله او بيا يې لوښی له شيدو ډک شو او هغه يې ښځې ته ورکړ او پخپله له هغه ځای څخه ولاړل.

څه وخت لا نه و تير شوی چې د ښځې خاوند خيمې ته راغی کله يې چې شيدې وليدې په تعجب يې وپوښتل: دا دې له کومه کړې دي؟ د معبد مور ورته وويل: داسې يو مبارک سړی چې داسې او داسې صفتونه يې درلودل داسې څېره يې وه او داسې خبرې يې کولې، زموږ د خيمې تر څنګ تيريده او دهغې وچې ميږې څخه يې راولوشلې. د معبد پلار وويل: په الله سوګند، ګومان کوم دا همغه د قريشو يار دی چې دوی يې پلټنه کوي. دا همغه قريشي سړی دی چې دده په هکله خبرې کيږي، نيت لرم چې ويې وينم او که وکولای شم ملګرتيا يې وکړم.

## سراقه بن مالک او د پيغمبر ﷺ د نيولو جايزه

قريشو اعلان وکړ چې که هر چا محمدﷺ مړ يا ژوندی راوست، سل اوښان جايزه لري. سراقه د مالك زوی ددې جايزې د لاس ته راوړلو لپاره ډيرې هڅې وکړې، خو اللهﷻ خپل پيغمبرﷺ وساته.

کله چې سراقه خبر شو، چې څو تنه د سرې بحيرې په غاړه ليدل شوي، نو خپله نيزه يې راواخيسته او په آس سپور شو. په ځغاسته يې د دوی په لوري حرکت وکړ. کله چې پيغمبرﷺ ته نږدې شو، آس يې پړمخې ولويد او سراقه يې له شا څخه را وغورځيده، سراقه دوه ځله په خپلو غيشو فال ونيوه، خو نتيجه يې ور نه کړه. بيا يې خپل آس وځغلاوه تردې چې نبي کريمﷺ ته نږدې شو، ناڅاپه يې د آس پښې تر زنګنونو پورې په ځمکه کې خښې شوې او سراقه د آس له شا څخه په ځمکه ولويد؛ چيغې او نارې يې کړې او له رسولﷺ څخه يې امن وغوښت؛ د الله رسولﷺ ودريد. سراقه د الله رسولﷺ ته وويل: ستا قوم ستا د نيولو لپاره جايزه ټاکلې ده. نبي کريمﷺ يې د خلکو له ارادې څخه، چې د ده په هکله يې لرله خبر کړ؛ د اللهﷻ پيغمبرﷺ سراقه ته نصيحت وکړ چې د دوی په هکله قريشو ته څه حال ونه وايي او د پټ ساتلو په بدل کې يې د ايران د خسرو د لاس بندونو ورکولو وعده وکړه، چې هغه بيا وروسته د عمر فاروقؓ د خلافت په وخت کې ده ته ورکړل شول.

سراقه مکې مکرمې ته راستون شو او ويې ليده چې خلك د پيغمبرﷺ د پلټنې لپاره راوتلي وو. سراقه هغوی دده ﷺ له پلټلو څخه راوګرځول. په همدې توګه سراقه چې په پيل کې د پيغمبرﷺ د

نیولو لپاره هلې ځلې کولې، د ورځې په پای کې د ده په ساتونکي بدل شو.

## (۲) هڅونه

له شیدو څخه د ام معبد د میږې د تیو ډکیدل او په ځمکه کې د سراقه د آس د پښو غرقیدل په څه شي د لالت کوي؟ واضح یې کړئ.

## د لوست عبرتونه

- پیغمبرﷺ د هجرت له پیله مدینې ته تر رسیدو پورې د الله ﷻ په پناه او څارنه کې و.
- پیغمبرﷺ یو له برکتونو څخه ډک انسان و، د هجرت په سفر کې یې ډیرې ښکاره معجزې درلودې.
- الله تعالی د زړونو گرځوونکی او اړوونکی دی، څرنگه یې په لږه موده کې سخت دښمن په گران او صمیمي دوست تبدیل کړ.
- هغه تدابیر چې حضرت محمدﷺ د هجرت په وخت کې نیولي وو، پدې دلالت کوي چې یو لاربښود باید په الله تعالی د توکل تر څنگ په دنیوي کارونو کې ښه تدبیر ونیسي.
- د ابوبکر صدیق رضي الله عنه ثبات (ټینگښت)، د رسول اللهﷺ په حمایت کې زیار، دهجرت په سفر کې ملگر تیا ددې جلیل القدر صحابي په لوړ مقام دلالت کوي.
- د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په دور خلافت کې د ایران د فتحی نه پس د سراقه سره د رسول اللهﷺ دوعدې تحقق دده د معجزو څخه یوه معجزه او د نبوت د ریښتینولی مهم دلیل دی.

## ارزونه

۱- پیغمبرﷺ څو شپې د ثور په غار کې پاتې شو؟
۲- د قُدَید په سیمه کې څه حادثه پیښه شوه؟
۳- کله چې سراقه د پیغمبرﷺ په تعقیب او پلټنه پسې و څه حادثه ور پیښه شوه؟
٤- د هجرت په سفر کې له پیغمبرﷺ سره څو تنه ملگري وو؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د هجرت په سفر کې د نبي اکرمﷺ دپیغمبرۍ معجزې په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# انصار د پیغمبر ﷺ په استقبال او هرکلي کې

په مخکیني لوست کې مو ولوستل چې د الله ﷻ پیغمبر ﷺ د ثور په غارکې له دریو شپو تم کېدو وروسته د صفر د میاشتې په ۳۰ شپه د مدینې منورې په لورې حرکت وکړ او کابو د پنځه سوه کیلو متره ستونزمنې لارې له وهلو وروسته د ربیع الاول په اتمه د قبا سیمې ته ورسید چې د مدینې منورې له سیمو څخه ده.

## د بشریت ژغورونکي ته سترګې په لاره

په مدینه منوره کې چې کله مسلمانانو له مکې مکرمې څخه د پیغمبر ﷺ د وتلو خبر واورېده، نو هر سهار به د حره سیمې ته تلل او د الله تعالی د رسول ﷺ د را رسیدلو په انتظار به کیناستل، تردې چې د غرمې ګرمی به تنګ کړل. یوه ورځ چې له اوږد انتظار څخه وروسته خپلو کورونو ته راستانه شوي وو، نابېره یوه یهودي د خپل کور له برج څخه رسول الله ﷺ او ملګري یې، چې سپینې جامې یې په تن وې ولیدل چې د سراب په څېر به کله ښکاره او کله پټ شول. یهودي نارې کړې: ای مسلمانانو! دا دی ستاسې هغه دوست چې تاسو یې په انتظار کې یاست. مسلمانان له خپلو کورونو څخه راووتل او د الله ﷻ رسول یې ولید.

د مدینې منورې مسلمانان چې د رسول کریم ﷺ راتګ ته یې په بې صبرۍ انتظار کاوه، د ده په لیدلو دومره خوشحاله شول چې په جامو کې نه ځایېدل، خوشحالي یې کولې او د مدینې منورې ماشومانو هغه مشهوره ترانه (طَلَعَ البَدرُ عَلَينا * مِن ثَنِيّاتِ الوداع) د بشریت ناجي ته د ښه راغلاست لپاره ویله او خوشحالي یې کوله.

پیغمبر ﷺ له روغبړ څخه وروسته د هرکلي کوونکو سره یو ځای د بني عمرو بن عوف په سیمه کې ستون شو. دا د پیغمبرۍ د څوارلسم کال د ربیع الاول اتمه او د دوشنبې ورځ وه چې د ۶۲۲ میلادي کال د سپتامبر له ۲۳ نیټې سره یې سمون درلود.

حضرت علی رضي الله عنه درې ورځې په مکه مکرمه کې پاتې شو، تر څو له پیغمبر ﷺ سره د خلکو ایښې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپاري، بیا پلی د مدینې منورې په لوري روان شو او په قبا کې له پیغمبر ﷺ سره یو ځای شو.

د الله رسول څلور ورځې (دوشنبه، سه شنبه، چهار شنبه او پنجشنبه) په قبا کې تم شو او د قبا د جومات بنسټ یې کیښود. دا لومړنی جومات و چې د پیغمبر ﷺ له بعثت څخه وروسته یې بنسټ کیښودل شو.




د قبا د جومات انځور

په قباکې ټول انصار چې شمېر يې (۵۰۰) تنو ته رسېده، د نبي کريمﷺ هرکلي او ليدلو ته راغلي وو.

## (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، مشرکانو ولې خپل امانتونه له نبي کريمﷺ سره ايښودل، په داسې حال کې چې له ده سره يې دښمني هم درلوده، ان تردې چې د ده د وژلو هوډ يې کړی و.

## د جمعې لومړنی لمونځ

کله چې پنځمه ورځ يعنې د جمعې ورځ را ورسيده، نو د الله رسولﷺ د الله ﷻ په امر په خپله اوښه، چې قصوا نوميده، کيناست او حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه يې په شا پسې کيناوه. د بني نجار د خلکو په ملتيا د يثرب په لوري وخوځيدل. کله چې د بني سالم بن عوف سيمې ته ورسيدل، نو د جمعې د لمانځه وخت را ورسيد. د الله ﷻ پيغمبر له سلو تنو سره يوځای د جمعې لمونځ اداء کړ او وروسته له هغه يثرب ته راغی. دا ښار وروسته له دې په مدينة الرسول يعنې د الله د پيغمبر د ښار په نامه و نومول شو.



## پيغمبرﷺ په مدينه منوره کې

مدينې منورې ته د الله د پيغمبر د راتللو ورځ يوه تلپاتې او ځليدونکې ورځ وه. د شکر او د حق تعالی د تسبيح غږونه له کورونو او کوڅو څخه راپورته کيدل. د مدينې منورې ښار خوشحاليو او ولولو نيولی و، خلکو د اختر د ورځو په څير نوې جامې اغوستې وې، پرته له شکه دا پر هغوی د اختر ورځ وه. په دې ورځ د انصارو نجونو په ډيره خوشحالی سره دا بيتونه زمزمه کول:

طَلَعَ البَدرُ عَلَينا * مِن ثَنِيّاتِ الوداع

وَجَبَ الشُكرُ علينا * ما دَعا لِله داع

أيُّها المَبعوثُ فينا * جئتَ بالأمرِ المُطاع.(۱)

هر انصاري دا هيله درلوده چې پيغمبرﷺ دده په کور کې استوګن شي. نبي کريمﷺ به چې د هر کور له مخې تيريده د کور خاوند به يې د اوښې واګې نيولې او ويل به يې: پر موږ احسان وکړه موږ د خدمت لپاره چمتو يو، خو د الله رسول به فرمايل: د اوښې جلب پريږدئ، هغه د الله ﷻ له لوري ماموره ده.

---

۱. ژباړه: د وداع له کنډو څخه پر موږ د څوارلسم سپوږمی راوختله. د الله شکر پر موږ واجب شو، تر څو چې بلونکی د الله لوري ته خلك رابولي، يعنی تر ابده پر موږ د الله شکر لازم شو.
ای پر موږ کې را ليږل شويه، تا له ځانه سره واجب الاطاعت امر راوړی دی.

اوښه همدارنګه تلله، تر څو د اوسني نبوي جومات ځای ته ورسیده او ګونډه شوه، خو د الله رسول ورځنۍ راښکته نشو ترڅو دویم ځلې پورته شوه، یوې خوا او بلې خوا ته یې وکتل او بیا لومړني ځای ته راوګرځیده او ګونډه شوه. په دې وخت کې د الله پیغمبرﷺ له اوښې څخه راښکته شو، هغه مبارک د ابو ایوب انصاريرضي الله عنه په کور کې استوګنه غوره کړه. او اوښه اسعد بن زرارهرضي الله عنه خپل کور ته بوتله.

وروسته له څو ورځو د نبي کریم ﷺ بي بي سودهرضي الله عنها د زمعه لور، د پیغمبرﷺ دوه لوڼې، فاطمه او ام کلثوم، همدارنګه اسامه بن زید او ام ایمن مدینې منورې ته راورسیدل. خو د پیغمبرﷺ زینب نومې لور د هجرت امکان ونه موند او د خپل خاوند ابو العاص سره په مکه مکرمه کې پاتې شوه چې بیا یې د بدر له غزا څخه وروسته هجرت وکړ.

عبدالله د ابوبکر صدیقرضي الله عنه زوی، د ابوبکر صدیق کورنی د حضرت عایشېرضي الله عنها په ګډون مدینې منورې ته راوستله او په دې ترتیب له مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته د پیغمبرﷺ او یارانو هجرت یې پای ومونډ.

د رسول اللهﷺ هجرت د بشریت په تاریخ کې یو مهم او ارزښتناک رول لري چې پدې سره د انسانیت په ژوند کې نوی عصر پیل او په نړۍ کې یو بنیادي اونوی بدلون منځ ته راغی. مدینې منورې ته د رسول کریم ﷺ په هجرت او په مدینه منوره کې د اسلامي دولت په تاسیس سره یو هر اړخیزه تغییر او انقلاب ګړندی شو چې د پیغمبرﷺ په بعثت او د قرآن کریم په نزول سره پیل شوی و. په دغه هجرت سره د یو داسې تمدن بنیاد کیښودل شو چې د بشریت تاریخ یې بدل کړ.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د جمعې لومړنی لمونځ په کوم کال او چیرته فرض شو او په اسلام کی لومړنی جومات کوم دی؟

## د لوست عبرتونه

- د پیغمبرﷺ هجرت یو ستونزمن سفر و، خو هغه یې خپل مقدس هدف ته د رسیدلو او د الهي مسؤولیت د ادا لپاره وګاللو.
- انصار چې د زړه له کومي اخلاصمند خلک وو، د پیغمبرﷺ او ورسره مهاجرو ملګرو خدمت یې خپل ویاړ ګاڼه.
- نبي کریم ﷺ تل داکوښښ کړی دی چې د امانت داری اصل وساتي، نو له همدې امله یې حضرت عليرضي الله عنه ته امر وکړ چې په مکه کې پاتې شي تر څو د خلکو امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپاري.
- د لارښود او رهبر د ساتلو او حفاظت لپاره لازمه ده چې انسان خپل ځان قرباني کړي په ځانګړې توګه چې هغه پیغمبر وي، د نبي کریم ﷺ په مخ کې د حضرت عليرضي الله عنه له خپل ځان څخه تېرېدل د لوړو موخو د تر لاسه کولو لپاره ښه عملي بېلګه ده.

• د پيغبر ﷺ هجرت د انبياء عليهم السلام سنت عملي كول دي ځكه نورو پيغمبرانو هم د الله تعالى په لار كې او د الله تعالى د دين او دعوت د نشر لپاره هجرت كړى وه.

• د پيغمبر ﷺ او دهغه د اصحابو هجرت د بشريت په تاريخ كې د پام وړ ټكى بلل كېږي، ځكه په دې سره د امت، تمدن او نوي نظام بنياد كيښودل شو چې د بشر (انسان) ژوند يې بدل كړ.

• د هجرت پيښې دا ثابتوي چې د اهدافو په لاس ته راوړلو كې په الله تعالى باندې د توكل تر څنګ د كارونو برابرول او د مادي او معنوي اسبابو څخه كار اخيستل هم ډېر مهم دي او مسلمان بايد د اسبابو څخه په كار اخيستلو كې خپل ټول توان او كوشش وكړي او بيا نتائج الله تعالى ته وسپاري او په هغه توكل وكړي.

• د هجرت په سفر كې له پيغمبر ﷺ څخه معجزې صادرې شوې(لكه په غار ثور كې د غنى(عنكبوت) كور جوړونه، د سراقه بن مالك واقعه، د ام معبد خزاعي د كور قصه) دا ټولې محسوسې معجزې د رسول الله ﷺ د نبوت په رښتنوالى دلالت كوي چې په هغو يقين كول پر هر مسلمان لازم دي.

• په اسلامي دعوت او د اسلام په لار كې جهاد د ښځو رول ته پاملرنه، لكه څرنګه چې د هجرت په واقعه كې د صحابياتو (لكه ام المؤمنين عائشة، اسماء بنت ابى بكر) رول دا روښانه او ثابتوي چې ښځې د بعثت له پيل څخه د اسلامي دعوت په نشر او خپراوي كې د پيغمبر ﷺ ترڅنګ ولاړې او له هغه سره يې د اسلامي دعوت په خپرولو او له هغه څخه په دفاع كې مرسته كوله.

• هجرت د بشريت په تاريخ كې د پاملرنې وړ ستر بدلون دى. مدينې منورې ته د پيغمبر ﷺ په هجرت سره د بشريت په ژوند كې نوې او زرينه پاڼه پرانستل شوه او د بشر د نېكمرغى لپاره د نوي نظام او تمدن ډبره كېښودل شوه.

• هجرت د ايمان او عقيدې د ساتلو او د دين د نشر لپاره د پيغمبرانو سنت او دمسلمانانو ديني وجيبه ده.

## ارزونه

۱ـ مسلمانان چا د پيغمبر ﷺ له راتګه مدينې منورې ته خبر كړل؟

۲ـ د پيغمبر ﷺ په راتګ سره مدينې منورې كې څه ډول حالت رامنځ ته شو؟

۳ـ پيغمبر ﷺ په قبا كې څومره پاتې شو اوهلته يې كوم غوره كار سرته ورساوه؟

٤ـ دپيغمبر ﷺ هجرت له مكې مكرمې څخه تر مدينې منورې پورې څو ورځې ونيوې؟

## كورنى دنده

ګران زده كوونكي دې مدينې منورې ته د پيغمبر ﷺ د راتګ او د انصارو د تود هركلي په اړه يوه مقاله وليكي.

## څلورم لوست

# پیغمبرﷺ او د نوې ټولنې جوړښت

په مدینه منوره کې د نبي کریم ﷺ په میشت کیدو سره د پیغمبرﷺ او مسلمانانو د ژوندانه په تاریخ کې یوه نوې دوره پیل شوه. کولای شو دا دوره په دریو پړاوونو ووېشو:

۱ـ د اسلامي ټولنې د تأسیس پړاو چې د حدیبیې د سولې په تړون سره د هجرت په شپږم کال پای مومي.

۲ـ له اصلي دښمن(قریشو)سره د روغې، جوړې او سولې پړاو چې د مکې په فتحې سره پای مومي.

۳ـ له استازو سره د کتلو او د اسلام په دین کې د خلکو د ډله ییز داخلیدلو پړاو چې د هجرت په یوولسم کال له نړۍ څخه د نبي کریمﷺ په رخصتیدو پای ته رسیږي.

## د اسلامي ټولنې بنسټ ایښودل

د مدینې په ټولنه کې سره له دې چې د چارو واګې د رسول اللهﷺ په لاس کې وې، خو دا ټولنه یولاس نه وه، بلکې لاندې درې ډلې خلک پکې اوسیدل:

### الف ـ اصحاب کرام

د هغو ستونزو له جملې څخه چې پیغمبرﷺ او ملګري یې په مدینې منورې کې ورسره مخ وو، د مکې ژوند له حالت سره په مدینې منورې کې د دوی د موقعیت او ژوندانه د حالاتو زیات توپیر و. په مکه مکرمه کې که څه هم د مسلمانانو کلمه او موخه یوه وه خو دا چې یو له بل څخه لرې اوسیدل خورا بېوزلي وو، ونه توانیدل په خپله خوښه په اعتقادي او دیني اصولو ولاړه ټولنه جوړه کړای شي. په مدینه منوره کې له پیله مسلمانان خپلواک وو، غلیم ورباندې برلاسي نه درلوده او دداسې یوې ټولنې د جوړولو زمینه ورته چمتو وه، چې د ژوند په ټولو برخو کې له جاهلي ټولنې او د بشري تاریخ په اوږدو کې د رامنځته شویو ټولو ټولنو څخه توپیر او غوره والی ولري.

### (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د مدینې منورې ټولنې د مکې مکرمې له ټولنې سره څه توپیر درلود؟ په دې هکله خپل نظر څرګند کړئ.

د مدينې منورې په نوې جوړه شوې ټولنه کې ډېرې ستونزې اومشکلات موجود وو چې حکيمانه چټکې د حل لارې يې غوښتلې. تر ټولو مهمه يې د مسلمانانو له دوو اصلي ډلو (مهاجرينو او انصارو) څخه د اسلامي ټولنې جوړښت و:

۱ـ لومړۍ ډلې په خپلو ځمکو،کورونو او شتو کې ژوند کاوه دا د انصارو ډله وه چې ترمنځ يې پخوانۍ دښمنۍ اوکينې موجودې وې.

۲ـ بلې ډلې خپل هر څه له لاسه ورکړي او يوازې ځانونه يې مدينې منورې ته رسولي وو. دا همغه د مهاجرينو ډله وه چې نه يې کوم کسب او ما ل درلوده او نه کومه جونګړه. د مهاجرينو شمير ورځ په ورځ زياتيده.

**ب ـ د مدينې مشرکين**: بله ډله د مدينې مشرکان وو چې په مسلمانانو يې برلاسی نه درلوده. د دوی يو شمېر د خپلو نيکونو ددين په پريښودو دوه زړي وو، خو له مسلمانانو سره يې کومه دښمني هم نه درلوده. دې ډلې لږ وروسته اسلام راوړ.

په دې ډله کې داسې خلک وو چې په خپلو زړونوکې يې له رسول اللهﷺاو مسلمانانو سره کينه او سخته دښمني درلوده ، خو دا وس يې نه و چې خپله دښمني اعلان او عملي کړي، شرائطوته په پاملرنې سره اړ وو چې له مسلمانانو سره د مينې او يو والي ځرګندونه وکړي.

د دوی مشري او رهبري عبدالله بن ابی بن سلول کوله چې د منافقانو رئيس و، دغه سړی به چې هرکله د نبي کريمﷺ او مسلمانانو سره د چل او فريب موقع موندله، نو خپلې دسيسې يې نه سپمولې.

**ج ـ يهود**: وروستنۍ ډله يهود وو چې د عراقيانو او روميانو په واسطه له خپلو سيمو څخه شړل شوي وو. حجاز ته يې مخه کړې او په څو سيموکې ميشت شوي وو چې يوله هغو سيمو څخه يثرب(مدينه منوره) وه. په يثرب کې د يهودو دريو مشهورو قبيلو استوګنه درلوده:

۱ـ بنی قينقاع :چې د خزرج له مشهورې عربي قبيلې سره يې د دوستۍ ژمنه درلوده او د مدينې په چاپيريا ل کې اوسيدل.

۲ـ بنی نضير: دوی هم د خزرج له قبيلې سره ژمن وو او د مدينې منورې شاوخوا ميشت وو.

۳ـ بنی قريظه، چې د اوس له مشهورې عربي قبيلې سره يې د دوستۍ ژمنه درلوده، هم د مدينې منورې په اړوندو سيموکې ژوند کاوه.

البته همدا يهودي قبيلې وې چې له پخوا راهيسې يې د دوو عربي قبيلو په منځ کې د جنګونو اور تازه کاوه.

يهود چې کله پوه شول چې پيغمبرﷺ په مدينې منورې کې د پښو د ټينګولو په کوښښ کې دی. نو د اوس او خزرج قبيلو ترمنځ د اتفاق او يووالي او همدارنګه د سودي معاملو له منعې څخه چې د يهودو د اقتصادي معاملاتو د ملا تير حيثيت يې درلود، په ويره او تشويش کې شول.

له همدې امله يې په زړونو کې مدينې منورې ته د پيغمبرﷺ له تشريف راوړلو سره سم له اسلام او پيغمبرﷺ سره کلکې کينې او دښمنۍ ته ځای ورکړ، که څه هم تر يوه وخته يې د ښکاره کولو جرأت ونشوکړای. دا هم بايد ووايو: په يهودو کې داسې کسان هم وو لکه عبدالله بن سلامؓ چې د محمدﷺ د پيغمبرۍ په حقانيت يې پرته له ځنډه ايمان راوړ او د خپل قوم د دروغو په وړاندې يې له اسلام او پيغمبرﷺ څخه ملاتړ کاوه.

## (٢) هڅونه

گرانو زده کوونکو، ستاسې په اند ولې يهودو له پيغمبرﷺ سره دښمني او اختلاف درلود او اوس د اسلام په وړاندې د يهودو دريځ څرنګه ارزوئ؟

له بلې خوا مدينه منوره د داسې کسانو په محاصره کې وه چې د قريشو په دين وو او قريش خو د حرم او بيت الله د اوسيدونکو او مجاورانو په عنوان د عربو د دنيوي او ديني رهبرۍ او مشرۍ امتياز په لاس کې درلود او نه يې غوښتل چې دا يې له لاسه ووځي، نو ځکه د اسلام له سختو او اصلي دښمنانو څخه ګڼل کيدل.

رسول اللهﷺ د الله ﷻ په توفيق او تاييد دا ټولې ستونزې په ډيرې ښې طريقې حل کړې او د نفسونو سپيڅلتيا، د خلکو د تربيې او د کتاب او پوهې د ښودنې په ترڅ کې يې له ټولو لوريو سره د دوی د حال مناسب مهربانۍ او حکمت باندې چلند وکړ، ترڅو چې د ډېر لږ وخت په تېريدو سره مسلمانانو قدرت وموند او کاروانه يې د غوښتنو سره سم پرمخ لاړل.

## د لوست عبرتونه

• رهبر باید د خپلې ټولنې واقعیتونه په پام کې ونیسي او د ستونزو د حل مناسبه او حکیمانه لارې بیامومي.

• یهودو د اسلام د سپیڅلي دین له پیل څخه د اسلام له دین، پیغمبرﷺ او مسلمانانو سره پخوانی دښمني درلوده او تل یې د اسلام په ضد دسیسې جوړولې.

• پیغمبرﷺ د اسلامي حکومت د ټینګښت لپاره په لومړي قدم کې د مسلمانانو خپلمنځي اختلافات او ستونزې هوارې کړې.

## ارزونه

۱ـ د اسلام مدني دوره په څو مرحلو ویشل شوې؟ د هرې دورې پای او ختم بیان کړئ.

۲ـ د مدینې ټولنه له څو قومي او دیني ډلو څخه جوړه شوې وه؟ هره یوه یې بیان کړئ.

۳ـ یهود له کومې زمانې راهیسې په یثرب(مدینه) کې میشت شوي وو؟

٤ـ ایا ټولو یهودو پر پیغمبرﷺ باندې له ایمان راوړلو غاړه غړوله؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په مدینه کې د یهودي قبیلو نومونه او همدارنګه د دوی هغه عربي ملګري، چې د دوستۍ زمنه یې ورسره کړې وه، په خپلو کتابچوکې ولیکي.

پنځم لوست

# د نبوي جومات ودانول




مخکې وويل شول چې رسول اکرمﷺ د هجرت په اول کال د ربيع الاول په۱۲ د جمعې په ورځ، چې د۶۲۲ زیږدیز کال د سپتامبر ۲۷ نیټې سره سمون خوري، مدينې منورى ته راغى، د ابو ايوب انصاريرضي الله عنه کور ته مخامخ د بني نجار په سيمه کې له اوښ څخه راښکته شو، ويې فرمايل:که اللهجل جلاله وغواړي دلته زما د اوسيدلو ځاى دى. وروسته د يوې لنډې مودې لپاره د ابو ايوب انصاريرضي الله عنه په کور کې واوسيد.

## په مدينه منوره کې د پيغمبرﷺ لومړنى کړنې

مدينې منورې ته د نبي کريمﷺ هجرت د ځمکې پر مخ د لومړني دار اسلام او همدارنگه د دهﷺ په مشرتابه د لومړني اسلامي دولت د اعلانيدو په معنى و.

په مدینه منوره کې پیغمبرﷺ د نوي اسلامي دولت د ټینګښت لپاره لاندې درې غوره کارونه وکړل:

۱ـ د جومات ودانول

۲ـ د ټولو مسلمانانو ترمنځ د ورورولۍ ټرون، په تېره بیا د مهاجرینو او انصارو ترمنځ.

۳ـ د یوه داسې قانون لیکل چې د مسلمانانو د خپلمنځي ژوند کړنلاره یې ټاکله او د غیر مسلمانانو، په ځانګړې ډول له یهودو سره یې د دوی اړیکې روښانولې.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، پیغمبرﷺ په مدینه منوره کې تر میشت کېدو وروسته د اسلامي دولت د ستنو د ټینګښت لپاره کوم لومړیتوبونه په پام کې ونیول؟

## د نبوي جومات ودانول

رسول اکرمﷺ د نبوي جومات ځمکه له دوو یتیمو هلکانو څخه، چې مالکان یې وو، په لسو دینارو واخیستله او په خپله یې په ودانولو کې لاس په کار شو، خښتې او تیږې یې چلولې. د پیغمبرﷺ دې کار د جومات په ودانولو کې صحابه رضي الله عنهم لاهڅول.

## د نبوي جومات د ودانۍ څرنګوالی

د نبوي جومات دیوالونه له خښتو او خاورو، چت یې د خرما له لښتو او ستنې یې د خرما له تنو څخه جوړې شوې وې؛ غولی یې په نرمو او زیږو شګو باندې پوښل شوی و.

درې دروازې یې درلودې قبله یې د بیت المقدس لوري ته وه. د جومات اوږدوالی له قبلې څخه تر پایه(۱۰۰)ذراع( تقریباً پنځوس متره) او سور یې هم همدغه اندازه اویا څه کم و او بنسټ یې کابو درې ذراع لوړوالی درلود.

د مسجد په څنډه کې د پیغمبرﷺ بیبیانو ته له ډبرو او خښتو څخه کوټې جوړې شوې چې چتونه یې د خرما له تنو او لښتو څخه پوښل شوي وو.

پیغمبرﷺ د کوټو تر بشپړېدو وروسته د ابو ایوب انصاریؓ له کور څخه ورکډه شو.

نبوي جومات د ابوبکر صدیقﷺ تر خلافت پورې له کوم بدلون څخه پرته په همغه پخوانۍ بڼې پاتې و، وروسته د حضرت عمر فاروقﷺ د خلافت په وخت کې څه زیاتوالی پکې راغی او حضرت عثمان بن عفانﷺ یې مساحت پراخه او دیوالونه یې له منقشو ډبرو او ګچ څخه جوړ کړل.

## د پیغمبرﷺ په زمانه کې د نبوي جومات ارزښت

نبوي جومات په هغه وخت کې یوازې د لمانځه داداء کولو ځای نه، بلکې یو داسې پوهنتون و چې مسلمانانو به د اسلام د سپیځلي دین احکام پکې زده کول. جومات دکارونو د ادارې او پرمخ بیولو او د مشورتي او اجرایوي جلسو ځای و. سربیره پردې د ډیرو بیوزلو مهاجرینو لپاره چې جونګړه، مال او کورنۍ یې هلته نه درلودې، سرپناه بلل کیده.

## د اذان مشروعیت

د هجرت په پیل کې آذان مشروعیت وموند. آذان هغه زړه راکښونکی او روح تازه کوونکی غږ دی، چې په چاپیریال انګازې کوي او هره ورځ پنځه ځله پکې اعلانوي. چې: لا اله الا الله «پرته له الله څخه بل هیڅوک دعبادت وړ نشته» ،محمدٌ رسول الله«محمد د اللهﷻ رسول دی»اذان دکایناتو په ټول عالم کې له الله پرته د بل هر موجود څخه لویي او تکبر نفې کوي او هیڅ یو دین پرته له هغه دین څخه، چې پیغمبرﷺ راوړی، د عمل وړ نه بولي.
د اذان کیفیت یو له صحابه رضی الله عنهم څخه چې «عبدالله بن زید بن عبد ربه»ﷺ نومیده په خوب کې ولید. د هغه خوب لیدل د حضرت عمر فاروقﷺ له خوب لیدلو سره موافق شو او د حضرت محمدﷺ عمل د هغوی دواړو صحابه کرامو خوب لیدل تایید کړل.

## (۲ هځونه

ګرانو زده کوونکو، د پیغمبرﷺ د جومات د ودانولو لومړنی اقدام او پکې د هغه مبارکﷺ پخپله ونډه اخیستل، په کوم شي دلالت کوي؟

## د لوست عبرتونه

• د جومات ودانول د اسلامي ټولنې په جوړولو کې لومړنی او غوره کار دی، ځکه چې پیغمبرﷺ یې په جوړولو کې لیوال و.

• د جومات ودانولو ته د ځای اخیستلو جواز.

• یو مشر او رهبر د دې لپاره، چې وکولای شي خپلو پیروانوته د کار او فعالیت جرأت ورکړي، باید په کارونو کې برابره ونډه واخلي.

• مسجد د عبادت ځای، د پوهې او علومو د نشر مرکز، د مسلمانانو اجتماعي تربیت ځای دی چې مدینې منورې ته د هجرت د پیل څخه د اسلامي دعوت په پراختیا کې مهم رول لري مسلمانان باید د مسجد ارزښت او عظمت یو ځل بیا راژوندی کړي.

## ارزونه

۱ـ پیغمبرﷺ په مدینه منوره کې تر میشت کیدو وروسته په لومړي قدم کې پر کومو کارونو اقدام وکړ؟

۲ـ د نبوي جومات د ودانولو ځای څنګه وټاکل شو او ځمکه یې د چا ملکیت و؟

۳ـ د حضرت محمدﷺ په وخت کې له جومات څخه په کومو کارونو کې ګټه اخېستل کیدله؟

٤ـ د آذان الفاظ او کلمې په څه ډول وټاکل شوې؟

٥- مسجد د مسلمانانو په فردي او اجتماعي ژوند کې څه ارزښت لري؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د پیغمبرﷺ په زمانه کې د جومات پر ارزښت، له هغه څخه کار اخیستل او همدارنګه د نبوي جومات د ودانۍ څرنګوالی په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د مواخات (وروروولۍ) تړون

لکه څرنګه چې وويل شول، رسول اکرمﷺ په مدينه منوره کې تر ميشت کيدو وروسته د اسلامي دولت د ستنو د ټينګښت لپاره درې اساسي کارونه ترسره کړل: د جومات ودانول، د مهاجرينو او انصارو ترمينځ د وروروولۍ تړون او د مدينې منورې د اوسيدونکو ترمينځ په مدينه منوره کې د اوسيدلو د قانون پلي کول.

## ديني ورونه يو له بل څخه ميراث وړي

د ټولو مسلمانانو ترمنځ د وروړولۍ تړون له هغو غوره او مهمو کارونو څخه دی چې د بشر تاريخ په زرينو کرښو ليکلی دی. دې نظام د اسلامي امت د وګړو ترمنځ د پيوستون او يووالي په راوستلو کې ستر اغيز درلود چې بنسټ يې په پوره وروروولۍ ولاړ و او په منځ ته راتللو سره يې ټول جاهلي تعصبات پای ته ورسيدل.

د الله رسولﷺ د انس بن مالكؓ په كور كې د نوي تنو مسلمانانو ترمنځ، چې نيمايي يې مهاجرين او نيمايي يې انصار وو، د وروروولۍ تړون رامنځته كړ، ترڅو يو د بل ملاتړ وكړي او له مرګ څخه وروسته يو له بل څخه ميراث يوسي. نوموړی حكم د بدر تر غزوې(د هجرت دوهم كال) پورې دوام درلود چې كله دا آيت نازل شو: ﴿وَأُولُوا الْأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ﴾ د انفال ۷۵، ژباړه: خپلوان يو له بل څخه د ميراث وړلو وړ دي. د خپلوانو د ميراث حق يې ثابت او د وروړلۍ د تړون له امله يې ميراث اخيستل منسوخ كړل.

د وروروولۍ تړون په دې معنی و چې د جاهليت د وخت كركې او تعصبونه له منځه لاړ شي له نسب، رنګ او هيواد څخه راټوكيدلې ځانګړتياوې محوه اوپه ځای يې اسلامي يووالی حاكم شي.

## ديني ورونه

هغه صحابه چې ترمنځ يې پيغمبرﷺ د وروروولۍ تړون تړلی، دا دي:

حضرت ابوبكر صديق او خارجه بن زهير، عمر بن خطاب او عتبان بن مالك، ابو عبيده بن جراح او سعد بن معاذ، زبير بن عوام او سلامه بن وقش، طلحة بن عبيدالله او كعب بن مالك،

سعید بن زید او ابی بن کعب، مصعب بن عمیر او ابو ایوب(خالد بن زید)، ابو حذیفه(عتبه بن ربیعه) او عباد بن بشر بن وقش، عمار بن یاسر او حذیفه بن یمان، ابو ذر غفاري او منذر بن عمرو، حاطب بن ابي بلتعه او عویم بن ساعده، سلمان فارسي او ابو درداء، بلال حبشي او ابو رویعه، عبدالله بن عبدالرحمن، عبدالرحمن بن عوف او سعد بن ربیع رضوان الله علیهم اجمعین سره ورونه وو او پخپله نبي کریم ﷺ حضرت علي رضي الله عنه ته د ورورولۍ لاس ورکړ.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، پیغمبر ﷺ څه ضرورت احساس کړ چې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ یې د ورورولۍ تړون وتاړه؟ نومورې تړون د مدینې منورې د اسلامي دولت لپاره څه پایلې لرلې په دې هکله بحث وکړئ؟

## د اسلامي ورورولۍ لوړه بېلګه

د ورورولۍ تړون د سرښندنې او قربانۍ سترې بېلګې د مسلمانانو په منځ کې په یاد پرېښې دي، د بېلګې په ډول:

سعد بن ربیع، عبدالرحمن بن عوف ته وویل: زه په انصارو کې تر ټولو بډای او شتمن سړی یم. خپله شتمني دوې برخې کوم. دوې مېرمنې لرم، وګوره هر یوه له هغې څخه چې ستا خوښه وي، نوم یې واخله چې زه یې طلاقه کړم او ته یې په نکاح واخلې.

عبدالرحمن ځواب ورکړ: الله جل جلاله دې ستا په کورنۍ او مال کې برکت واچوي، ستاسې بازار چېرته دی؟ هغه ته یې د بنی قینقاع د بازار په لوري لارښوونه وکړه.کله چې عبدالرحمن له بازاره راستون شو یو څه اندازه کرت او غوړي یې راوړي وو. سبا ته یې هم دا کار وکړ. داسې وخت راورسید چې کله درسول اکرم ﷺ حضور ته راغی د زعفران نښه، چې د شتمنۍ او هوساینې نښانه وه، دده په مخ باندې ولیدل شوه. پیغمبر ﷺ ورڅخه پوښتنه وکړه: څه حال لرې؟ عبدالرحمن رضي الله عنه ورته وویل:واده مې کړی. د الله رسول ﷺ وفرمایل :څومره مهر دې ورکړ؟ ویې فرمایل: د خرما د زړي په اندازه سره زر.

ددې سرښندنو او قربانیو بله بیلګه د ابوهریرة رضي الله عنه په روایت دا ډول بیانوو: انصارو پیغمبرﷺ ته وړاندیز وکړ چې د خرما باغونه زموږ او زموږ د مهاجرو وروڼو ترمنځ وویشه.

حضرت رسول اکرمﷺ وفرمایل: دا کار نه کوم. بیا یې مهاجرینو ته وویل: نو د هغې په ساتنه کې زموږ سره ملاتړي شئ، ځو تاسو د هغو په میوو کې شریک کړو. مهاجرینو وویل:سمه ده دا کار کوو.

دې حالت له یوې خوا له مهاجرینو سره د انصارو د ډیرې مینې، محبت او اخلاص ځرګندونه کوله او هم د احساس، سرښندنې، قربانی، مینې، محبت، صفا او یووالي بېلګه وه، چې د دوی په زړونو کې یې ځپې وهلې.

له بل لوري د انصارو له بې ساري سرښندنې ځخه د مهاجرینو قدرداني او مننه بیانوي چې له هغې ځخه یې بده ګټه وانه خیستله او یوازې د ضرورت په وخت کې یې ورځخه استفاده کوله.

پرته له شکه د مومنانو تر منځ د ورورولی تړون، لکه ځرنګه چې مخکې هم وویل شول، یو بې ساري سیاسي، سم او له حکمت ځخه ډک تړون و او د مسلمانانو د هغو ستونزو لپاره چې مدینه منوره کې ورسره لاس او ګریوان وو د حل سنجول شوې لاره بلل کیده.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، عبدالرحمن بن عوف ولې د سعد بن ربیع وړاندیز قبول نه کړ؟ له دې کیسې ځخه څه زده کیږي؟

## د لوست عبرتونه

- هیڅ یو دولت نشي کولای چې د خلکو له یووالي پرته پخپلو پښو ودریږي او د یو ملت یووالی او پیوستون بې له متقابلې ورورولی او دوستی نشي راتلای.
- د ورورولی پیوند یوله ډیرو غوره کارونو ځخه دی چې د ټولنې یووالی پیاوړی کوي.
- د ورورولی تړون چې پیغمبرﷺ د خپلو اصحابو ترمنځ سرته ورساوه یوازې د خولې خبره نه وه بلکې یو عملي حقیقت و چې له واقعي ژوند او د انصارو او مهاجرینو ترمنځ اړیکو سره یې پیوند درلود او بیلګه یې عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه ته د سعد بن ربیع وړاندیز و.

• د اسلام له نظره عقیده او ایمان د مسلمانانو د یو والي(وحدت) بنیاد دی، د اسلامي ټولنې د افرادو خپل منځنی اړیکې منځ ته راوړي، نو د ژ بی، رنګ، قوم، ټولنیز موقف، مال او داسې نورو په سبب راپیدا شوي اختلافات په اسلام کې هیڅ قیمت نلري او د ذکر شوو اسبابو په بنیاد هر ډول تعصب حرام دی.

## ارزونه

۱ـ ددیني وروڼو ترمنځ د میراث حکم دکوم آیت په نازلیدو سره منسوخ شو؟

۲ـ د شپږو تنو اصحابو رضی الله عنهم نومونه واخلئ چې پیغمبرﷺ یې ترمینځ د ورورولی تړون تړلی و؟

۳ـ ایا اوس دوه مسلمانان د دیني ورورولی او اړیکو له امله یو له بل څخه میراث وړلای شي؟

٤-د اسلامي ټولنی یو والی(وحدت) په کوم بنیاد ولاړدی او د قومي نژادي، ژبني، منطقوي تعصباتو په وړاندې د مسلمانانو موقف (دریځ) باید څه وي؟

## کورنی دنده

زده کوونکي دې د مهاجرینو او انصارو ترمنځ د وروړلی د تړون د تړلو حکمت، فلسفه او عملي پایلو په اړوند یو مخ مقاله ولیکي.

# مدني ټرون

پیغمبرﷺ د جومات له ودانولو او د مسلمانانو ترمنځ د ورورولئ له ټرون څخه وروسته د دولت د ټينګښت او د مديني منورې د نوي جوړې شوې ټولنې د ټينګوالي لپاره دريم قدم واخيست. هغه د مديني منورې د اوسيدونکو ترمنځ د دوو بېلا بيلو ټرونونو ترل وو چې موخه يې د مديني منورې په دننه کې د بېلا بېلو اړخونو د مسؤليتونو بيانول او د هر يو تن د حقوقو او واجباتو څرګندول وو چې په اوسنئ اصطلاح اساسي قانون نومول کيږي.

## مدني ټرون

پیغمبرﷺ د ټولو مسلمانانو ترمنځ د ورورولئ پر ټرون سربيره، يوه بله معاهده هم سرته ورسوله، چې په وسيله يې د جاهلي زماني پارونې او په ميراث پاتې کينې له منځه يووړې او ويې کولای شول چې اسلامي يووالی رامنځ ته کړي.

ددې معاهدې تر ټولو مهمې مادې په لاندې ډول وې:

١ـ مسلمانان له غير مسلمانانو څخه يو بېل، خپلواک او واحد امت دی.

٢ـ يو مومن به بل مومن د کافر په بدل کې نه وژني او د هيڅ يو کافر سره به د مومن په مقابل کې مرسته نه کوي.

٣ـ هغه يهودان چې زموږ سره دي، ددوی ملاتړ پر موږ باندې لازم دی. نه به پرې ظلم او تيری کوو او نه به د دوی پر ضد له چا سره مرسته کيږي.

٤ـ د مسلمانانو سوله يوه ده. هيڅ يو مسلمان نشي کولای د الله د لارې په جهاد کې د نورو مسلمانانو له نظر څرګندولو پرته له چا سره سوله وکړي، مګر د برابریٔ او عدالت په اساس.

٥ـ مومن ته روا نه ده چې د ګنهګار او بدعت اېښودونکي کس ملاتړ وکړي او يا ورته پنا ورکړي.

٦ـ په هر څه کې چې اختلاف وکړي د حل او فصل مرجع يې يوازې الله او د هغه رسولﷺ دی.

## (۱) هڅونه

زده کوونکي دې د مدني تړون څخه د پیغمبرﷺ د موخې په هکله یو له بل سره بحث وکړي.

پیغمبرﷺ ددې حکیمانه لارې له نیولو سره د نوې ټولنې ستنې پیاوړې او ټینګې کړې او د پیغمبرﷺ ملتیا یوه داسې مدرسه وه چې صحابه کرامو رضی الله عنهم به تل په هغې کې زده کړې کولې او په هغې کې به تربیه او تزکیه کېدل.

د پیغمبرﷺ احادیث، ښودنې او احکام له هغو سپارښتنو څخه ډک وو چې مومنان یې یووالي، دوستۍ، ببنې او یو له بل څخه ملاتړ ته رابلل.

د بیلګې په ډول دې حدیث ته ځیرشئ، چې فرمایي، ژباړه:((ای د الله بندګانو یو له بل سره کینه او حسد مه کوئ،یوبل ته شا مه اړوئ، ټول سره وروڼه شئ، مسلمان ته روا نه ده چې مسلمان ورور له درېو ورځو څخه زیات پرېږدي او خبرې ورسره و نه کړي)).

پیغمبرﷺ په خپلو دغسې حکیمانه ویناوو اوکړنو سره، چې راتلونکې یې په پام کې لرلو. وکولای شول په مدینه منوره کې داسې یوه نوې ټولنه رامنځ ته کړي چې د انسانانو په تاریخ کې تر ټولو غوره ټولنه ګڼل کیږي.

## له یهودو سره تړون

وروسته له دې چې د الله تعالی پیغمبرﷺ د مسلمانانو ترمنځ هر اړخیز یووالی رامنځ ته کړ، د نوې ټولنې او نوي اسلامي امت بنسټونه یې پیاوړي کړل. د دې په لټه کې شو چې خپلې اړیکې له غیر مسلمینو سره هم تنظیم کړي.له دې امله یې په ټولنه کې د امنیت او سولې د ټینګښت او د بشریت د نیکمرغی په مقصد کوښښ وکړ تر څو خلک په یو محور، چې ټولو ته د منلو وړ وي، راغونډ کړي.

لکه څنګه چې مخکې وویل شول، د مدینې منورې تر ټولو نږدې غیر مسلم ګاونډیان یهود وو، که څه هم په پټه یې له مسلمانانو سره دښمني درلوده، خو تردې وخته پورې یې د مسلمانانو په وړاندې هیڅ ډول دښمني او مقاومت نه ښکاره کړی وه.

پیغمبرﷺ د پورتنیو موخو د پلي کیدو لپاره د مدینې منورې له یهودانو سره یو کلک تړون لاس

لیک کړ چې مهمې مادې یې په لاندې ډول سره وې:

۱ـ د بنی عوف یهود له مسلمانانو سره یو امت جوړوي. یهود په خپل دین او مؤمنان په خپل دین عمل کوونکي دي، دا پریکړه د بني عوف له یهودو پرته د نورو یهودانو په هکله هم د اجراء وړ ده.

۲ـ دواړه لوري یو له بل سره په ښیګڼه، خیرغوښتنه او نیکي کولو ژمن دي، نه په ګناه او سرغړونه.

۳ـ دواړه ډلې به د مظلوم ملاتړ کوي.

٤ـ ددې تړون منونکو ته د یثرب(مدینې) داخلي سیمه حرم بلل کیږي. هر ډول شخړه پکې منع ده.

٥ـ کله چې ددې تړون د منونکو تر منځ داسې پیښه او یا شخړه رامنځ ته شي چې د فتنې او فساد د خپریدو احتمال ولري، د حل کیدو مرجع او مصدر یې الله او رسولﷺ دی.

٦ـ دا دواړه ډلې باید د قریشو او ددوی له ملګرو څخه یوه شخص ته هم پنا ور نه کړي.

۷ـ په یثرب(مدینې منورې) باندې د دښمن د برید پر مهال دواړه ډلې باید یو د بل ملاتړې شي. هره یوه دنده لري چې دخپلې اړوندې سیمې دفاع اوسانته وکړي.

۸ ـ دا تړون د تیري کوونکو اوګنهکارو کسانو د مجازاتو خنډ نشي کیدای.

**(۲) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، له یهودو سره تړون په کومو اساسي معیارونو راڅرخیده؟ نمونه یې واخلئ.

## د لوست عبرتونه

• د امت ( ملت) د مفهوم ټاکل: د وثیقې مطابق مسلمانان د مهاجرینو، انصارو او ددوی د پیروانو په ګډون یوامت ګڼل کیږي چې دا د عربي ټاپو وزمې په سیاسي تاریخ کې یوه نوې لاس ته راوړنه وه.

• د مدینې تړون، یهودان د اسلامي دولت له اوسیدونکو څخه یوه برخه او د هغې له عناصرو څخه یو عنصر وګڼل.

په دې ترتیب اسلام هغه اهل کتاب(یهود او نصارئ)، چې د اسلامي دولت په اړوندو سیمو کې میشت وو، د خپل دولت اړوند خلک ګڼل او له مسلمانانو سره یې یوملت جوړاوه.

• د اختلافي مواردو د حل او فصل حاکمه مرجع او مصدر به قرآن کریم او د رسول اکرمﷺ

سنت وي .

- د اسلامي دولت (مديني منورې) د واكمنۍ اړوندو پولو ټاكل.
- د عقيدې او عبادت آزادي، د ښاريانو د امنيت ټينګول او د بشر حقونه، د عدالت او مساوات د منځ ته راتللو په څېر ددې تړون له محوري ټكو اوګڼو څخه دي چې د يهودو د عقيدې او عبادت د ازادۍ ضمانت كوي.

## ارزونه

١ـ پيغمبرﷺ د يهودو له كومې قبيلې سره تړون وتاړه؟

٢ـ د مدينې منورې اوسيدونكي له كومو ډلو څخه وو؟

٣ـ ايا په اسلامي دولت كې غير مسلم كولای شي چې په آزاده توګه دخپل عبادت مراسم سرته ورسوي؟

٤ـ د نوموړي تړون كومې مادې د عقيدې او عبادت پر ازادۍ دلالت كوي؟

## كورنۍ دنده

له يهودو سره د تړون اساسي ټكي له تړون ليك څخه راوباسئ او په خپلوكتابچو كې يې وليكئ.

# د مدينې منورې د دولت ځانګړنې

په مدينه منوره کې د پيغمبرﷺ په پايښت سره د دولت درې رکنونه(ځمکه،ملت اوحاکميت) بشپړشول. د دولتي ستنو د پياوړتيا، د سولې او امنيت د پلي کيدو او د مدينې منورې د اوسيدونکو د سالم او سوله ييز ژوند لپاره اړين ګامونه پورته کړای شول، د مثا ل په ډول د مدينې منورې د اوسيدونکو ترمنځ تړون، چې لاندې برخې يې درلودې:

## ۱ـ د ملت د مفهوم ټاکل

د مدينې منورې تړون داسې عمومي قاعدې او مبادي درلودل چې نن د پرمختللو او مدرنو هيوادونو په اساسي قوانينو کې ځای شوي دي. ددې مباديو په سرکې د امت(ملت) د مفهوم ټاکنې ځای درلود چې د هغه پر بنسټ مسلمانان، يعنې مهاجرين، انصار او ددوی پيروان يو ملت ګڼل کيدل. دا کار د عربي ټاپو وزمې په سياسي تاريخ کې يوه نوې پديده وه. پيغمبرﷺ پدې سره وکولای شول چې خپل قوم د قبيلې او قوم د تعصب له تنګې دايرې څخه وژغورې او علت جوړونې ته يې لارښوونه وکړي او دوی د توحيد او اسلامي دولت تر بيرغ لاندې راغونډ کړي.

## د مدينې منورې د ملت جوړونې پروسه

کله چې رسول اکرمﷺ په مدينه منوره کې ملت جوړونه پيل کړه، لومړی د اوس او خزرج دوې قبيلې په انصاروکې شاملې شوې. بيا مهاجرين او انصار د مسلمانانو په ټولي کې شامل شول. پايله يې د يوه امت جوړيدنه وه چې د عقيدې پر اساس يې يو له بل سره اړيکه درلوده، نه د وينې او قوم پر بنسټ.

د مدينې منورې تړون د مسلمانانو د ټولې(مهاجرينو او انصارو) تر څنګ يهود هم د اسلامي دولت اتباع او غړي وبلل.

په دې ترتيب وينو چې د اسلام دين هغه اهل کتاب، چې د اسلامي دولت په اړوندو سيمو کې ژوند کوي، له مسلمانانو سره يوملت بولي، په دې شرط چې د خپلو مسؤليتونو او تعهداتو پابند وي.

## ۲ـ قرآن کریم او د رسول اکرمﷺ سنت، د شخړو د حل او فصل دوه مصدرونه

د مدینې منورې د تړون دا ماده چې وايي: که په څه کې مو اختلاف پیداشو، د حل او فصل مرجع یې الله ﷻ او د هغه رسولﷺ دی، د مدینې منورې د دیني (اسلامی) حکومت تائید کوي. نوموړی تړون د اختلافي مسئلو حل او فصل الله تعالی او د هغه رسولﷺ ته له دې امله سپاري، ترڅو د هغو ګډوډیو او سرګردانیو څخه، چې د حاکمیت د ډېروالي له امله په ټولنه کې رامنځ ته کیږي، مخه ونیول شي. دې مادې سره د حضرت محمدﷺ ریاست د مدینې منورې په دولت باندې د تایید وړ بللی دی، ځکه چې هغهﷺ په سرکې ځای درلود، او هڅې یې کولې څو د الله متعا ل حکمونه د دولت په وسیله پلي کړي.

سره له دې چې د مدینې منورې په تړون کې د اسلامي قضاء د عالي دیوان په شتون اعتراف شوی و چې د مدینې منورې ټول اوسیدونکي د یهودو په ګډون هغه ته مراجعه وکړي، خو یهود مکلف شوي نه وو چې په ټولو قضایاوو کې اسلامي محکمې ته رجوع وکړي، بلکې په هغو مواردو کې اړ بلل کیدل چې د دعوی یو خوا به مسلمان و.

په دې ډول سره رسول اکرمﷺ د مدینې منورې د دولت په سر کې راغی، ځکه په عین وخت کې درې ګونې (قضایي، د قانون جوړونې او اجرایې) قوې هم د حضرت محمدﷺ په لاس کې وې چې د پیغمبر په توګه د دین مبلغ او د قرآن کریم مفسر و.

### (۱) هڅونه

یو اسلامي دولت کومو شیانو ته اړتیا لري؟ زده کوونکي دې په دې اړه خپل نظر څرګند کړي.

## ۳ـ د اسلامي دولت پولې (حدود)

د اسلامي دولت لومړنی حد او د پیل ټکی یثرب (مدینه) و. پیغمبرﷺ خپلو یارانو او ملګرو ته دنده ورکړه چې د مدینې منورې په ټولو سرحدونو باندې سرحدي نښې ودروي.

د اسلامي فتوحاتو پرمختګ او خپراوي او همدارنګه د اسلام په مقدس دین کې د فتح شوو هېوادونو د خلکو داخلیدلو د مدینې منورې د دولت حدودو ته ډېره پراختیا ورکړه، ان تردې چې د

اسلامي قلمرو حدود له لويديځ څخه د اطلس تر اوقيانوس او د اروپا تر لويديځو او جنوبي پراخو سيمو پورې او په ختيځ او د اسيا په جنوبي برخو کې تر چين پورې پراختيا موندله.

## ۴ـ د ازاديو او د بشر د حقوقو مصونيت(ساتنه)

د مديني منورې په تړون کې داسې قاعدې، مبادي او مقررات موجود وو چې د انسانانو ترمنځ يې د مطلق عدالت او بشپړ مساوات (برابري) مراعات کاوه. انسانان د رنګ، ژبې او ديني اختلافاتو سره سره له ټولو حقونو او آزاديو څخه برخمن وو.

همدارنګه د مديني منورې تړون په صراحت سره دا څرګندولو چې د ازادۍ حق، لکه د عقيدې او عبادت د آزادۍ حق، د امنيت حق او داسې نورحقونه خوندي دي.

لکه څرنګه چې د مديني منورې تړون د مسلمانانو لپاره آزادي تضمين کړې وه، د اسلامي هيواد د اوسيدونکو يهودو لپاره يې هم تضمين کړه. همدارنګه د اسلام سپيڅلي دين د خلکو ترمنځ د برابرۍ او عدالت پلي کول، پرته له دې چې د هغوی ژبې، هېواد او ټولنيز حالت ته پاملرنه وشي، په اسلامي رهبرانو لازم ګرځولي وو.

په تړون کې د مساوات اوعدالت اصل په څرګنده ذکر شوی دی، نو مساوات يو له عمومي اصولو څخه ګڼل کيږي چې د اسلام مبين دين د تاييد وړ بللی. د مساوات او برابرۍ ماده له هغو اصولو څخه ګڼل کيږي چې د اسلامي ټولنې په جوړولو کېستره ونډه لري.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو د بشر د حقوقو او په اسلام کې د آزادۍ د حق په باره کې څه معلومات لرئ؟ ټول پوښتنه دې وشي.

## د لوست عبرتونه

- اصلاحي دعوت او د شریعت پلي کول یو خپلواک ملك او ځمکې ته اړتیا لري.
- د قوانینو ایښودل او پلي کول په یوه ټولنه کې د شخړو د حل او د عدالت او مساوات د ټینګښت لپاره یو لازمي امر بلل کیږي.
- د دین، ژبې او توکم اختلاف په یو اسلامي دولت کې د چا د تابعیت مانع نشي کیدای.
- د اسلام دین تر ټولو ادیانو او مکتبونو مخکې د بشر حقونو او د فردي آزادی ټینګولو ته پاملرنه کړې ده.
- د قانون او حکومت موجودیت د انسان د نېکمرغه ژوند لپاره د اسلامي برنامو(کړنلارو) جزء دی.

## ارزونه

۱ـ یو دولت څو رکنه لري؟ آیا ټول رکنونه د مدینې منورې په دولت کې موجود وو؟ نومونه یې واخلئ.

۲ـ پیغمبرﷺ دمدینې منورې په دولت کې څه مقام درلود؟

۳ـ پیغمبرﷺ په مدینه منوره کې د ملت جوړولو پروسه څنګه پیل کړه؟

٤ـ ایا غیر مسلمانان کولای شي د اسلامي دولت تابعیت ولري او پکې میشت شي؟

٥ـ د نظام او حکومت موجودیت د بشریت د نېکمرغه ژوند لپاره د اسلام د مبارك دین د کړنلارو یو جز دی.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې په اسلام کې د بشر د حقونو په اړه یو مطلب ولیکي چې د لسو کرښو کم نه وي.

# د مدينې منورې د نوي دولت په مقابل کې د يهودو دريځ

لکه څنګه چې وويل شول پيغمبرﷺ د سوله ييز ژوند د منځ ته راتللو او په مدينې منورې کې د استوګنې د حقوقو او مسؤليتونو د ټاکلو او د عقيدې او عبادت د آزادۍ د پلي کولو په موخه له ميشتو يهودو سره تړون لاس ليک کړ. يهودو په پيل کې د اسلام په مقابل کې کوم ښکاره مقاومت او يا دښمني نه لرله، خو د وخت په تېريدو سره يې حالت بدل شو.

## په مدينې منورې کې د يهودو موقف:

د حضرت محمدﷺ د نبوت په هکله د پريکنده او ښکاره دليلونو سره سره بيا هم ورځ په ورځ له پيغمبرﷺ او مسلمانانو سره د يهودو عناد، تکبر، دښمني، لويي او کينه زياتيدله.

مدينې منورې ته د پيغمبرﷺ راتګ چې د يهودو په بې خبرۍ شوی و، په پټه کې يې ورسره کينه او دښمني درلوده، په دې سبب يې د پيغمبرﷺ، مسلمانانو او د اسلام د مقدس دين د بدنامولو لپاره تبليغاتي پراخه هڅې پيل کړې.

ځکه يهودو د اسلام توحيدي دين د خپلو ګټو او انحرافي عقايدو لپاره چې د نورو خلکو او قومونو سپکاوی يې کاوه، خطر باله. له دې امله يې د مدينې منورې تړون او قرارداد تر پښو لاندې کړ او د محمد ﷺ د نبوت په هکله يې د خلکو په شک کې د اچولو کوښښ پيل او ددې لپاره چې نبي اکرمﷺ په مشقت او تکليف کې واچوي ډيرې پوښتنې ورځخه کولې او د مسلمانانو په دوکه کولو يې لاس پورې کړ.

## پر پيغمبرﷺ او مسلمانانو باندې د يهودو دښمنانه بريدونه

### ۱ـ د اسلام د داخلي جبهې تيت پرک کيدو لپاره هلې ځلې

هغه لارې چې يهودو په جنګ کې د اسلام پر ضد او د اسلامي صف د ټوټه کيدو لپاره په کار واچولې، د داخلي فتنو پارول، د جاهلي شعارونو کارول او د انصارو ترمنځ قومي او قبيلوي تعصبات«کرکې» رامنځ ته کول وو چې د اسلام په برکت يې يو له بل سره مينه، محبت او ورورولي لرله او د ناجايزه تعصباتو ټغر يې ورټول کړی و.

دمثال په توګه يوه ورځ د يهودو له لويانو څخه يوتن د دوو قبيلو(اوس اوخزرج) يوشمير خلک

ولیدل چې ناست وو، مجلس یې کاوه. یهودو چې له ډېرو کلونو راهیسې د دوی له اختلاف څخه ګټه اخیستله، ددې صحنې په لیدلو خورا په قهر شو چې ولې اسلام د هغوی ترمنځ مینه، محبت او الفت رامنځ ته کړی دی. یو یهودي ځوان ته یې دنده ورکړه چې د هغوی مینځ ته ورشي او د«بعاث» جګړه، چې مخکې له اسلام څخه د اوس او خزرج د دوو قبیلو ترمنځ واقع شوې وه او ځلوېښت کلونه یې دوام کړی و، ور په زړه کاندي .

یهودي ځوان نوموړی حکم عملي کړ، چې له امله یې د اوس او خزرج د کسانو تر مینځ خبرې توندې شوې. هر یوه په نوموړې جګړه کې خپل ویاړونه یاد کړل، تردې چې دواړه لوري سره ګرم شول او نږدې وو چې وسلې ته لاس واچوي. همغه و چې رسول اکرمﷺ له موضوع څخه خبر شو پرته له ځنډه له یو شمیر مهاجرینو سره ورغی او ورته یې وویل: ای مسلمانانو! له الله څخه وویرېږئ. آیا له جاهلي تعصب څخه کار اخلئ؟ په داسې حا ل کې چې زه ستاسې په منځ کې یم. وروسته له دې چې الله ﷻ تاسې د اسلام دین ته هدایت کړئ، تاسې ته یې عزت درکړ او د اسلام په برکت یې له جاهلیت څخه لرې کړئ. له کفر څخه یې وژغورلی او ستاسې په زړونو کې یې الفت، مینه او محبت واچوه. هغه و چې د دواړو قبیلو غړي د دښمنانو شیطاني دسیسو ته په پاملرنه په ژړا شول او یو بل ته یې غیږې ورکړې، بیا د رسول اللهﷺ حضور ته لاړل. الله متعال د دسیسې جوړوونکو د رټنې په هکله آیتونه نازل کړل او مسلمانان یې د دسیسې جوړوونکو یهودو له پیروۍ څخه وویرول.

### (۱) هڅونه

یهودو په پیل کې ولې د پیغمبرﷺ سره دښمني نه درلوده او بیا یې ښکاره دښمني ورسره پیل کړه؟

## ۲ـ د پیغمبرﷺ په مقابل کې بې ادبي او ګستاخي

یهودو د رسول اکرمﷺ په حضور کې د خبرو پر مهال بې ادبي کوله. د سترګو او وروځو په اشارو به یې هغه مبارکﷺ ته تکلیف رساوه. د پټو (رمزي) کلمو په کارولو سره یې خپله کینه او دښمني ښکاره کوله.

## ۳ ـ د ځینو یهودیانو اسلام راوړل

عبدالله بن سلام رضي الله عنه د یهودو له لویانو او عالمانو څخه و. کله چې مدینې منورې ته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له راتګ څخه خبر شو، د هغه صلی الله علیه وسلم حضور ته راغی او وېې ویل: زه له تاڅخه درې پوښتنې لرم چې ځواب یې پرته له پیغمبر څخه بل څوک نشي ورکولای. وروسته له دې چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د هغه ټولو پوښتنو ته ځواب ورکړ، نو عبدالله بن سلام رضي الله عنه وویل: شاهدي ورکوم چې ته د الله جل جلاله پیغمبر یې. بیا یې وویل: "ای د الله پیغمبره! یهود تور لګوونکی قوم دی. که له هغوی څخه وپوښتې او زما له اسلام څخه خبر شي، تور راپورې لګوي"، همغه و چې یهود د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حضور ته راغلل، عبدالله بن سلام رضي الله عنه نږدې کوټې ته ننوت. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له دوی څخه وپوښتل: عبدالله بن سلام ستاسې په منځ کې څنګه شخص دی؟ وېې ویل: په موږ کې تر ټولو پوه دی او تر ټولو څخه د پوه سړي زوی دی، په موږ کې تر ټولو غوره دی. او تر ټولو څخه د غوره زوی دی. د الله رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل: که عبدالله بن سلام اسلام راوړي بیا څه وایئ؟ وېې ویل: الله دې هغه له دې کار څخه وساتي. په دې وخت کې عبدالله بن سلام راووت وېې ویل: «اشهدان لا اله الا الله واشهد ان محمداً رسولُ الله» یهودو وویل: په موږ کې تر ټولو بد او له ټولو څخه د بد زوی دی. وروسته له هغې یې پرې برید وکړ.

## ۴ـ د قبلې د بدلیدلو په اړه د یهودو دریځ

له بیت المقدس څخه مسجد الحرام (کعبې شریفې) ته د قبلې د بدلیدلو حکم له مسلمانانو سره د یهودو د سړې جګړې پای او د دوی له لوري د اسلامي دولت د بې ثباته کولو په موخه د تاوده جنګ پیل ګڼل کیږي. کله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته راغی سره له دې چې ۱۶ یا ۱۷ میاشتې یې د بیت المقدس لوري ته لمونځ وکړ، خو دکعبې شریفې لوري ته لیواله وو، چې د ابراهیم علیه السلام قبله وه، لمونځ اداء کړي، یهودیان له دې امله چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د بیت المقدس لور ته لمونځ کوي، ډیر خوښ وو، خو وروسته له دې چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته د مازدیګر په لمانځه کې امر وشو چې دکعبې شریفې لور ته لمونځ اداء کړي، یهود نا خوښه شول او د مسلمانانو پر ضد یې ناوړه تبلیغات پیل کړل، چې بیا د دوی د باور د رد او د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د دریځ د تائید په هکله د البقرې سورت څو آیتونه نازل شول.

## (۲) هڅونه

زده کوونکي دې د ښاغلي استاد په لارښوونه د بيت المقدس د مقام په هکله بحث او څېړنه وکړي.

## د لوست عبرتونه

- له اسلام او مسلمانانو سره د يهودو دښمني تاريخي ريښې لري.
- د الله جَلَّجَلَالُهُ د امر منل عبادت دی اومسلمانان دقبلې په اړه د الله د امر پيرو دي.
- د يهودو په منځ کې داسې کسان هم وو چې د حق په ښکاره کيدلو سره يې دخپل قوم ميل او رغبت هيڅ ونللو او ايمان يې راوړ.
- د قبلې بدليدل يوه الهي ازموينه وه چې رسول اکرم ﷺ او مسلمانان په هغې کې بريالي شول.
- دهجرت څخه وروسته د اسلامي امت په وړاندې بيت المقدس د لومړنی قبلې په توګه ډېر ارزښت او لوړ مقام لري، نو پر مسلمانانو باندې يې ساتنه او دفاع لازم ده.

## ارزونه

۱ـ عبدالله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څوک و؟

۲ پيغمبر ﷺ څو مياشتې د بيت المقدس لور ته لمونځ وکړ؟

۳ـ له بيت المقدس څخه کعبې شريفې ته د قبلې د بدليدلو په اړه د مسلمانانو او يهودو دريځ څه و؟

٤ـ د اوس او خزرج د دوو قبيلو ترمنځ کومه موضوع د شخړې او لانجې لامل شوه او نوموړې شخړه څنګه حل شوه؟

## کورنۍ دنده

د اسلام په وړاندې د يهودو د دريځ په اړه يوه لس کرښيزه مقاله وليکئ؟

# د جهاد مشروعیت

مدینې منورې ته د پیغمبرﷺ له هجرت څخه وروسته، چې اکثره اوسیدوونکي یې مسلمانان وو، اسلامي دولت جوړ شو. دا دولت سره له دې چې له غیر مسلمانانو سره یې د ملاتړ او یوځای اوسیدلو تړون کړی و، خو د مدینې منورې یهود او مشرکان د قریشو د مشرکانو له لوري له ګواښونو سره مخامخ وو او اسلامي دولت اړ و چې د دفعې لپاره یې لازم چمتووالی وښیي.

## جهاد څه وخت مشروعیت وموند؟

جهاد د دویم هجري کال په لومړیو وختونو کې ددې آیت په نازلیدو سره مشروعیت وموند﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا وَإِنَّ اللَّهَ عَلَى نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ﴾ ۳۹ آیت د حج سورة.

ژباړه: [هغوکسانوته اجازه ورکړل شوه چې د هغوی پر خلاف په جګړه لاس پورې کړي ځکه هغوی مظلومان دي او الله ددوی د مرستې او ملاتړ توان لري] . ددې آیت په نزول سره د مسلمانانو نظامي تحرکات عملاً پیل شول.

مسلمانان د هجرت په لومړي کال د خپلو چارو په تنظیم، لکه د جومات ودانول او د سیاسي چارو په تنظیم، لکه په خپل منځ کې د وروروِلۍ د تړون ترل او د مدینې منورې له غیر مسلمانانو سره د وروروِلۍ د تړون په ترلو بوخت وو.

سره له دې چې پیغمبر اکرمﷺ مکه پرېښې وه، مدینې ته تللی و خو قریشو په مدینه منوره کې د رسول اللهﷺ ملاترکوونکي((انصار)) ویرول او د مدینې منورې د دولت په ضد یې د جنګ اعلان کړی و. له دې امله پیغمبرﷺ د خپل چمتو والي د څرګندولو او د قریشو او نورو دښمنانو د ډارولو په مقصد یې یو شمیر سریې(واړه ټولګي) له مدینې منورې څخه د باندې لیږل.

## سریه او غزوه

غزوه: د مسلمانانو د یوې ډلې په حرکت اطلاق کیږي چې د پیغمبرﷺ په ملتیا یې د دښمن د مقابلې په مقصد کړې وي، برابره ده چې جګړه رامنځ ته شوې وي او که نه وي.

سریه: د مسلمانانو له یوې ډلې څخه عبارت ده چې پیغمبرﷺ هغوی پر دښمن باندې د حملې لپاره لیږلي وي، که جګړه رامینځ ته شوې وي که نه.کله هم سریې د غلیم له حا ل څخه د خبریدلو پر مقصد لیږل کیدلې. پیغمبرﷺ په مدینه منوره کې دخپل لس کلن برکتي ژوند په اوږدو کې پخپله د ۲۷ غزاګانو مشري کړې ده او ۳۸ سریې یې لیږلې دي.

## د مدینې منورې د وګړو سرشمیرنه

د هجرت په لومړي کال د ورورولی د تړون له تړلو وروسته پیغمبرﷺ پرته له کوم ځنډ امر وکړ څو د مدینې منورې د اوسیدونکو نفوس وشمیرل شي. وروسته له دې د سریو او غزاګانو لیږل پیل شول.

### (۱) هڅونه



ولې په مکه مکرمه کې د جهاد اجازه ورنه کړل شوه او په مدینه منوره کې جایز شو؟ په دې هکله دې زده کوونکي د ښوونکی په لارښوونه بحث او څیړنه وکړي.

پیغمبرﷺ د سریو لیږلو تر څنګ د مدینې منورې د شاوخوا له یو شمیر عربي قبیلو، لکه بنی ضمره او جهینه سره د ملاتړ او یو پر بل د تعرض نه کولو تړون لاس لیک کړ. له دې ډول تړونونو څخه مقصد د مکې له اوسیدونکو سره د جنګ پر مهال د هغوی بې طرفي او همدارنګه په سیاسي، نظامي او اقتصادي اړخونو کې د تړونونو ترل د ضرر د دفعې او د تړون د دواړو خواوو د ګډ مصلحت لاس ته راوړلو په قاعده او اساس بنا و.

د سریې لیږلو په تاریخ کې د عبید بن حارث سریه لومړۍ سریه وه چې په هغې کې مسلمانانو له مشرکانو سره مخامخ نښته وکړه او په دې سریه کې سعد بن ابی وقاصؓ لومړنی کس و چې د اللهﷻ په لاره کې یې غشي وویشتل.

## د سریو د لیږلو موخې

که چیرې موږ د سریو او غزاګانو د لیږلو موخې په ځیر وڅیړو، وینو ټولې هغه سریې چې د بدر له غزوې څخه د مخه لیږل شوې وې، ټول کسان یې مهاجر وو او په منځ کې یې یو شخص هم د انصارو له ډلې څخه نه و، دغه کار بشپړ سنجول شوی و.

پیغمبرﷺ غوښتل له یوې خوا په دې سره د مهاجرینو قضیه لومړی د دوی پخپل منځ کې بیا د بهر په کچه ژوندۍ وساتي. له بلې خوا د قریشو اقتصاد تر برید لاندې ونیسي، څو پوځي توان یې کمزوری شي. همدارنګه مسلمانان جنګي وړتیاوې، تکتیکونه او تمرینونه زده کړي او د قریشو حرکتونه د مسلمانانو تر څارنې لاندې وي او په پای کې د اسلام دښمنان د مدینې منورې په دننه او شاوخوا سیموکې په ویره او ډار کې ولویږي.

### ۲) هڅونه

زده کوونکی دې په مدني مرحله کې د سولې او جګړې په هکله بحث او څېړنه وکړي او نتیجه دې بیان کړي.

### د لوست عبرتونه

• جهاد تعرضي عمل نه، بلکې د کفارو د ظلم او تیري په مقابل کې د مسلمانانو یو دفاعي عمل دی.

• جهاد پر مسلمانانو باندې هغه مهال فرض ګرځي چې دوی د تجاوز او تیري لاندې راشي او په عین حال کې د جګړې او دفاع توان ولري.

• جهاد د اسلام له مهمو فرائضو څخه دی، د اسلامي شعائرو په منځ کې ډیر لوړ ارزښت لري او ترقیامته دوام لري.

• جهاد د نورو اسلامي شعائرو په څېر ځانګړي احکام، اصول او قواعد لري چې د فقه الجهاد په نوم یاد شوي دي.

• له کفارو سره پر یو بل د تعرض نه کولو تړون جایز دی، په دې شرط چې په هغه کې اسلام ته د ضرر دفع او ګټه اړول وي. همدارنګه د اسلام له دښمنانو سره سوله جواز لري په دې شرط چې مصلحت یې ایجاب کړي.

• د سریو لیږل په راتلونکې کې د اسلامي غزواتو او فتوحاتو لپاره چمتو کېدل وو.

• د جهاد في سبیل الله څخه مقصد دخپل حکومت د پراخوالی او د نورو په حدود و تجاوز ندی، بلکې د جهاد هدف د کمزورو(مستضعفینو) او مظلومو خلکو حمایت، د ظلم او تجاوز له منځه وړل او د عدل تحقق دی.

## ارزونه

۱ـ مسلمانانو ته د جهاد اجازه څه وخت ورکړل شوه اوعلت یې څه و؟

۲ـ سریه او غزوه څه توپیر لري او پیغمبرﷺ په څو غزاګانو کې ګډون درلود؟

۳ـ پیغمبرﷺ له کومو عربي قبیلو سره د سولې او د تعرض نه کولو تړون کړی و؟ نومونه یې واخلئ.

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د عربي قبیلو سره د پیغمبرﷺ د تړون د موخو او اغیزو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

## یولسم لوست

# د ځینو احکامو تشریع

الله تعالی د هجرت په دوو لومړیو کلونو کې یو لړ تشریعي احکام او عبادتي شعایر هم فرض کړل، لکه روژه، زکات، د فطر صدقه او داسې نور.

## ۱ـ د روژې فرض کېدل

د هجرت په دویم کال د شعبان په میاشت کې الله جل جلاله د رمضان د مبارکې میاشتې روژه فرض کړه او هغه یې د اسلام له پنځو رکنونو څخه یو رکن گاڼه. روژه له اسلام څخه د مخه په نورو امتونو باندې هم فرض وه.

**(۱) هڅونه**

زده کوونکي دې د اړوند مضمون د ښوونکی په مرسته د ځینو احکامو د تشریح په هکله په خپلو کې بحث او څېړنه وکړي.

## ۲ـ د فطر د صدقې مشروعیت

په همدې کال د رمضان په میاشت کې الله جل جلاله د فطر صدقه واجب کړه چې ورکړه یې پر هر آزاد، نارینه، ښځینه، وړوکي او لوی انسان باندې واجب ده.

پر مسلمانانو باندې د فطر د صدقې د وجوب الهي حکمت ښکاره او ښکاره او څرگند دی، لکه څنگه چې په حدیث شریف کې راغلي دي: الله تعالی د فطر صدقه د روژه تي له بې ځایه او بې حیا خبرو څخه د پاکوالي او بېوزلو خلکو لپاره د خوراک برابرولو لپاره واجب کړې ده. نو هر هغه څوک چې د فطر صدقه د اختر له لمانځه څخه د مخه ورکړي د الله متعال د نظر وړ صدقه ده او که د اختر له لمانځه څخه وروسته یې ورکړي له صدقو څخه یوه صدقه بلل کېږي.

### ۳. د کوچني اختر لمونځ:

په همدې کال پیغمبرﷺ دکوچني اختر لمونځ اداء کړ. دا لومړی ځل و چې پیغمبرﷺ له ټولو خلکو سره یو ځای په داسې حال کې چې تهلیل او تکبیر یې وایه د اختر د لمانځه ځای ته لاړ او دکوچني اختر لمونځ یې د الله تعالی د تلپاتې نعمتونو د شکر یې په عنوان اداء کړ.

### ۴. د زکات مشروعیت:

همدارنګه د هجرت په دویم کال الله تعالی له مالونو څخه د زکات ورکړه فرض کړه او د اسلام له پنځو رکنونو څخه یې یو رکن ویللو. زکات د رمضان د میاشتې د روژې له فرضیت څخه وروسته فرض شو.

### ۵. د ام المؤمنین عائشې رضی الله عنها سره واده کول:

د هجرت د لومړي کال له غوره پیښو څخه یوه هم د حضرت ابوبکرؓ له لور، بي بي عایشې رضی الله عنها سره د پیغمبرﷺ واده و.

پیغمبرﷺ د ام المؤمنین حضرت خدیجې رضی الله عنها له مړینې وروسته د ابوبکر صدیقؓ له لور بي بي عایشېرضي الله عنها سره دا عقد له هجرت څخه د مخه په مکه مکرمه کې تړلی و چې بیا وروسته په مدینه منورې کې د هجرت په لومړي کا ل د شوال په میاشت کې یې ورسره واده وکړ.

هر د نظر خاوند کولای شي په اسانی سره په هغه الهي حکمت چې د عایشېرضي الله عنها په واده کې نغښتی و، وپوهیږي.

دغه له برکته ډک واده د مدني ژوند په لومړیو وختونو کې د رسول اکرمﷺ په ژوند کې د تشریعي احکامو له پیل سره رامنځ ته شو.

بې له شکه هر انسان د خپل ژوند زیاته برخه په کور کې له خپلې کورنی سره تیروي، له دې امله اړینه وه په کورني ژوند کې د رسول اکرمﷺ کړه وړه خلکو او اسلامي امت ته ورسیږي، تر څو مسلمانان وکولای شي په هغهﷺ پسې اقتداء وکړي. دا مهمه او ارزښتناکه دنده د امهات المؤمنین

(د نبي اکرمﷺ بیبیانو) په ځانګړې توګه د بي بي عایشې رضی الله عنها په ښه ډول سرته ورسوله.

بي بي عایشې رضی الله عنها وکولای شول د خپلې ځیرکتیا، ژورې پوهې او ذکاوت له برکته، چې الله جل جلاله ورکړې و، خپله دنده په ښه توګه پای ته ورسوي. یو بل شی چې د دې مهم کار په سرته رسولو کې یې ورسره مرسته وکړه، دا و چې الله جل جلاله هغې ته اوږد عمر ور په برخه کړی و چې د نبي اکرمﷺ له رحلت څخه وروسته نږدې پنځوس کاله ژوندی وه.

دې وخت ورسره مرسته وکړه څو هغه څه چې له رسول اللهﷺ څخه یې اوریدلي وو، نورو ته ورسوي. الله جل جلاله دې له دې او ټولو امهات المؤمنین څخه خوښ او راضي وي!

## (۲) هڅونه

زده کوونکي دې دخپل ښوونکي په مرسته د أم المؤمنین حضرت عایشې رضی الله عنها رول د احادیثو په نقلولو کې وڅیړي.

## د لوست عبرتونه

- روژه په مخکنیو امتونو هم فرض وه.
- د فطر صدقه د هجرت په دویم کال واجب شوه او په همدغه کال رسول اللهﷺ د الله تعالی د نعمتونو د شکریې په خاطر په لومړي ځل د وړوکي اختر لمونځ اداء کړ.
- پیغمبرﷺ مدینې منورې ته د هجرت له پیل څخه شپاړس یا اوولس میاشتې وروسته د مازدیګر په لمانځه کې کعبې ته په مخ ګرځولو او لمونځ کولو مامور شو.
- د زکات ورکول د اسلام د پنځه ګونو ارکانو څخه یو رکن دی.
- داچې د شرعي احکامو ډیره برخه د امهات المؤمنین رضی الله عنهن په وسیله او په ځانګړې توګه د حضرت عایشې رضی الله عنها په واسطه موږ ته رسیدلې ده ، ددې په لوړ مقام دلالت کوي.

• د اسلام په دین کې زکات او نور مالي واجبات د ټولني څخه د فقر له منځه وړلو او د اقتصاد په وده او پرمختتک کې مهم رول لري او د ټولو اقتصادي احکامو او ارزښتونو بنیادي هدف په ټولنه کې دفقر او بېوزلی سره مبارزه کول دي.

## ارزونه

۱ـ روژه په کوم کال په مسلمانانو فرض شوه؟

۲ـ د فطر صدقه په کوم کال په مسلمانانو فرض شوه؟

۳ـ نبي کریم ﷺ د اختر لمونځ په کوم کال ادا کړ؟

٤ـ آیا زکات ورکول د اسلام له ارکانو څخه یو رکن دی؟

## کورنۍ دنده

د فطر د صدقې د ارزښت او اهمیت په اړه په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

# د بدر غزا (۱)

د بدر غزا د اسلام په تاریخ کې لومړۍ برخلیك جوړوونکې غزوه بلل کیږي. د قریشوکفارو چې هیڅ ډول ظلم، تیرى او تکلیف یې د پیغمبرﷺ او مسلمانانو څخه نه سپمولو، مدینې منورې ته دپیغمبرﷺ او صحابه رضي الله عنهم له هجرت څخه وروسته ډیر په قهر او غوسه شول. د مسلمانانو تعذیبولو او د دوی د مالونو مصادره کولو ته یې همداسې دوام ورکړ.

## ۱ـ د بدر غزوې ته چمتو والی

څنګه چې مخکې هم وویل شول، پیغمبرﷺ د جهاد د حکم له نازلیدو څخه وروسته پوځي خوځښتونه پیل کړل چې زیاتره یې د دښمن د احوا ل د لاسته راوړلو لپاره پوځي څارنې ته ورته او د لاندنیو موخو د ترلاسه کولو لپاره رامنځ ته شول:

۱ـ د مدینې منورې له شاوخوا لارو سره بلدتیا او د هغو لارو پیژندنه چې مکې مکرمې ته ورغلې وې.

۲ـ له هغو قبیلو سره تړون تړل چې د دې لارو په اوږدو کې یې ژوند کاوه.

۳ـ په مدینه منوره کې میشت یهود، مشرکان او بانډه چیان(کلیوال) په دې حقیقت باندې پوهول چې د مسلمانانو دکمزورۍ وخت تیرشوی او اوس هغوی د پیاوړتیا په حالت کې دي.

٤ـ قریشو ته اخطار ورکول،تر څو د مسلمانانو له دښمنۍ څخه لاس واخلي او سولې ته غاړه کیږدي، ځکه ددې سیاست دوام د هغوی اقتصاد، تجارت او د ژوند تیرونې وسیلې له ګواښ سره مخامخ کوي.

ټولې هغه سریې چې پیغمبرﷺ د پورتنیو موخو د لاسته راوړلو لپاره استولې وې په هیڅ کومه یوه کې قتل او د مالونو مصادره نه ده رامنځ ته شوې، تر دې پورې چې مشرکینو د(کرز بن جابر فهرى) په مشرۍ د هجرت په دویم کال د ربیع الاول په میاشت کې په(سفوان) نومې سیمه کې چې د بدر تر څنګ پرته ده، د مدینې منورې د مسلمانانو د څارویو په لوټولو او تالاکولو لاس پورې کړ. په دې اساس د مسلمانانو د مالونو تر ټولو لومړنې لوټماران مشرکان وو.

## د جنګ اصلي لامل

د قریشو یو تجارتي کاروان د ابوسفیان بن حرب په مشرۍ، چې۱۰۰ اوښان، د پنځوسو زرو دینارو په شاوخوا کې سره زر او د مکې د لویانو او مشرانو زیاتې شتمنۍ یې ورسره بار کړې وې، له څلویښتو ساتونکو سره یوځای له شام څخه مکې ته د بیرته راستنیدو په حا ل کې وو. ددې کاروان لاس ته راوړل د مسلمانانو لپاره یوه زرینه موقع وه،تر څو د مکې خلکو ته یو کلک اقتصادي ګوزار ورکړي. له دې کبله رسول اکرمﷺ مسلمانانو ته امر وکړ چې ددې کاروان په لوري بیړه وکړي کیدای شي چې الله تعالی یې دوی ته ور په برخه کړي.

پیغمبرﷺ ددې په فکر کې نه و چې مسلمانان به د مکې تجارتي کاروان پر ځای د مکې له لښکر سره په جګړه کې ښکیل شي. له دې امله یې چاته په وتلو امر ونه کړ او زیات شمیر صحابه رضي الله عنهم په مدینه منوره کې پاتې وو.

### (۱) هڅونه

زده کوونکي دې په دې هکله بحث او خبرې وکړي، چې د بدر په جګړه کې د پیغمبرﷺ د لښکر ایستل دفاعي عمل و او که تعرضي جګړه؟

## د اسلامي لښکر شمیر او د قوماندې ویشل

پیغمبرﷺ د هجرت په دویم کال د رمضان په (۱۷) نیټه له دریو سوو او دیارلسو تنو مجاهدینو، یو یا دوه آسونو او اویا اوښانو سره له مدینې منورې څخه ووت.

هغه مبارکﷺ د ټول لښکر د قوماندې سپین بیرغ(مصعب بن عمیرؓ) ته وسپاره، لښکر یې په دوو برخو وویشه: مهاجرین او انصار.

د مهاجرینو بیرغ د علي کرم الله وجهه او د انصارو بیرغ د سعد بن معاذؓپه لاس کې و.

ددواړو بیرغونو رنګ تور و. له مدینې منورې څخه له حرکت نه مخکې یې دوه تنه بدر ته واستول تر څو د قریشو له کاروان څخه خبر راوړسوي.

## له مکې څخه د مرستې غوښتنه

دکاروان مشر ابوسفیان په ډیر احتیاط سره حرکت کاوه، ځکه هغه پوهیده چې د مکې لاره له

دوو خواوو په‌گواښ کې ده؛ څارونکو یې خبر ور ورساوه چې محمدﷺ خپل اصحاب راوستلي، تر څو پر کاروان باندې برید وکړي.

ابوسفیان پرته له‌کوم ځنډ څخه یوکس د(ضمضم بن عمروغفاري) په نوم مکې ته واستاوه ترڅو په خورا بیړې سره خلک د کاروان د ژغورنې لپاره خبرکړي.

ابوسفیان چې د شام په اصلي لاره مکې ته روان و، کله چې خبر ورته ورسېد چې دوه تنه سپاره د دوی د لارې په مسیر راغلي، نو هغه‌گومان وکړ چې د مدینې له خلکو څخه دي. په بیړه بیرته کاروان ته ستون شو. د بدر لاره یې پرېښوده او د سرې بحیرې د غاړې په اوږدو یې خپل تگ ته دوام ورکړ. په دې توگه یې کاروان د مسلمانانو د لښکر له منگولو څخه وژغوره.

ضمضم بن عمرو غفاری په ډېره بیړه خپل ځان مکې ته ورساوه. د مکې د دښتې په منځ کې ځیرې گریوان د خپل اوښ پر شا، چې پوزه یې ورته پرې کړې وه، ولاړ و. چیغې یې وهلې: ای قریشو! خپل اوښان او قیمتي مالونه لاس ته راوړئ چې له ابوسفیان سره دي، محمدﷺ او ملگرو یې پر هغو باندې حمله کړې ده .... ملاتړ...!! ملاتړ...!!.

## جگړې ته د مکې د خلکو چمتووالی

د مکې ټول لویان له ابولهب څخه پرته راغونډ شوي وو او په بیړه جگړې ته چمتو او له یو زر او دری سوه۱۳۰۰ جنگیالو، سلوآسونو، شپږسوه زغرو او بې شمیره اوښانو سره یې یوځای له مکې څخه حرکت وکړ. د ټول لښکر قوماندان ابوجهل و او د قریشو نورو لویانو لښکر ته د خوراکي توکو د برابرولو دنده په غاړه لرله.

د جحفه په سیمه کې ورته د ابوسفیان لیک راورسید چې په کې لیکل شوي وو. کاروان وژغورل شو، بېرته راوگرځئ.

## د مکې د لښکر دوې ډلې کیدل

کله چې د ابوسفیان لیک دمکې لښکرته راورسید، د بیرته ستنیدو اراده یې وکړه خو ابوجهل په جاهلانه تکبر او بې ادبی سره وویل: "په الله مې سوگند بیرته نه ستنیږو ترهغې پورې چې څوبدر ته ولاړ نه شو،هلته درې ورځې پاتې نشو، اوښان حلال نکړو، شراب و نه څښو، سازونه و نه غږوو،تر څو چې عرب مو له راغونډیدلو څخه خبر شي او د تل لپاره له موږ څخه وویریږي.

بني زهره، چې شمیر یې درې سوه تنو ته رسیده، بیرته ستانه شول او پاتې نور زر تنه جگړه مار د

ابوجهل په مشرۍ د بدر پر لور وخوځېدل.

## ۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د مکې لښکر په داسې حال کې چې کاروان يې ژغورل شوی و، ولې جګړې ته چمتو شو؟

## د لوست عبرتونه

- د پیغمبرﷺ له لوري د سريو استول يو اطلاعاتي او دفاعي اقدام و.
- بدر ته د پيغمبرﷺ د تللو موخه د مشرکانو اقتصادي تهديد و، ترڅو مسلمانانو ته له ازار او تکليف رسولو څخه لاس واخلي.
- قريش د خپل ټول مالي او پوځي توان سره د مسلمانانو جګړې ته راووتل.
- دبدر دجګړې رامنځ ته کيدل د الله تعالی له لوري ټاکل شوي وو.

## ارزونه

۱ـ سريې دکوم مقصد لپاره استول کيدلې؟

۲ـ د بدر دجګړې د پيل لامل څه و؟په دې جګړه کې د اسلام لښکر په څو برخو ويشل شوی و؟

۳ـ کله چې ابوسفيان له دوو تنو سپرو څخه خبرشو په کومو چارو يې لاس پورې کړ؟

٤ـ د بدريه غزوه کې د مسلمانانو اوکفارو د لښکر شمير، همدارنګه ددواړو لښکرو د قوماندانانو نومونه واخلئ.

## کورنۍ دنده

د سريو استولو د موخو او د بدر د جګړې د اهميت په باب په خپلوکتابچوکې يوه مقاله وليکئ.

# د بدر غزا (۲)

## د جنګ بهیر او پایلې یې

لکه څنګه چې وویل شول پیغمبرﷺ یوازې د قریشو د قافلې د ویرولو په نیت، چې له شام څخه مکې ته روانه وه، د ۳۱۳ تنو اصحابو سره له مدینې منورې څخه ووت، خو د بدر سیمې ته نږدې یې خبر ترلاسه کړ چې د مکې لښکر د جګړې لپاره چمتووالی نیسي، نو ناچار شو چې د یوې برخلیک ټاکونکې مقابلې لپاره تیاری ونیسي.

## د اسلامي لښکر څرنګوالی

د مدینې د لښکر د خارنې قوتونو په داسې حال کې پیغمبرﷺ ته د قافلې له لاس څخه د وتلو او د مکې د لښکر د چمتووالي خبر راوړ چې نبي کریمﷺ بدر ته نږدې و.

پیغمبرﷺ له ډېر فکر او غور څخه وروسته دې پایلې ته ورسید چې له یوې خونړۍ غزا څخه پرته بله لاره نشته. باید چې په بشپړه مېړانه او زړورتیا په ډګر کې ودرېږي.

دې خطرناک او ناڅاپي بدلون ته په پاملرنې د الله رسولﷺ خپل عالي پوځي مجلس د مشورې لپاره جوړکړ او د خپلو ملګرو نظریې یې واوریدلې. د اسلامي لښکر مشرانو او قوماندانانو هر یو حضرت ابوبکر صدیق اوحضرت عمر رضی الله عنهما خوندورې خبرې وکړې. وروسته مقداد بن عمروؓ وویل: ای د الله رسوله! د الهی فرمان د پلې کولو لپاره حرکت وکړه، موږ هم درسره یو، په الله سوګند تا ته هغه خبره نه کوو چې بني اسرائیلو موسیٰ؈ ته کړې وه: ﴿فَاذْهَبْ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَاتِلا إِنَّا هَاهُنَا قَاعِدُونَ﴾[مائدة: ۲٤] ته او الله دې ولاړ شئ او جنګ وکړئ، موږ همدلته کینو. بلکې وایو: ته او الله دې ولاړ شئ وجنګیږئ موږ هم درسره یو تر څو هلته ورسیږو.

د الله رسولﷺ ددې خبرو په اوریدلو سره ډېر خوشحاله شو او د مقداد بن عمرو په حق کې یې د ښیګڼې دعا وکړه. خو رسول اکرمﷺ په دې انتظار و چې له انصارو څخه ډاډمنې خبرې واوري؛ ځکه اکثریت انصار رضی الله عنهم وو او د جنګ دروند پېټی هم د دوی په اوږو و. سعد بن معاذؓ د انصارو بیرغ وړونکي دا ټکی درک کړ او پیغمبرﷺ ته یې وویل: ښایي داسې ویره درسره وي چې انصار به پرته له مدینې منورې څخه ستا ملاتړ ونه کړي، زه د انصارو په استازیتوب ځواب

درکوم: هرځای ته چې غواړې ولاړ شه، له هر چا سره چې غواړې عقد او اړیکې ټینګې کړه، له هرچا سره چې غواړې پیوند وشلوه، هرڅومره چې غواړې زموږ له مالونو څخه واخله او هر څه چې دې زړه غواړي موږ ته یې وبښه، هغه څه چې له موږ څخه یې اخلې موږ ته ډیر غوره دي له هغه څه نه چې په ځای یې پریږدې. هر امرچې کوې، زموږ کار ستا د فرمان منل دي، په الله مې سوګند که چیرې ته زموږ سره په دې سمندرکې سفرکوې او په هغه کې ځان اچوې، غرقیږې موږ ټول له تاسره په هغه کې ځان اچوو.

دالله رسولﷺ د سعد بن معاذرضي الله عنه له خبرو څخه ډیر خوشحاله شو او ویې ویل : ځئ او هیله من اوسئ؛ ځکه الله تعالی له دوو شیانو (قافله یا په جګړه کې بریالیتوب) څخه په یوه څیز زماسره ژمنه کړې ده.

## (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د مقداد او سعد بن معاذ رضي الله عنهما له خبرو څخه څه استنباط کولی شئ؟

## د جګړې پیل

په هغه شپه چې سبا ته یې جګړه پیل کیده، الله تعالی داسې باران وکړ چې پر مشرکانو ډیر شدید او تېز و چې د دوی د پرمختګ مانع شو او د مسلمانانو په سیمه کې د شبنم(پرخې)په څیر و چې یوازې یې شګې کلکې او د مسلمانانو قدمونه یې مضبوط کړل. دا شپه د جمعې وه چې د دویم هجري کال د رمضان د میاشتې له اوولسمې نیټې سره برابره وه.

رسول اللهﷺ خپل لښکر ته حرکت ورکړ، ترڅو د بدر اوبو ته له مشرکینو څخه مخکې ورسیږي.

سعد بن معاذرضي الله عنه وړاندیز وکړ چې نبي کریمﷺ ته د قوماندې د ځای په توګه یوه څپره جوړه کړئ.

کله چې مشرکانو د شګو له غونډیو څخه سر راپورته کړ او دواړه لښکرې سره مخامخ شوې.

پیغمبرﷺ د مسلمانانو صفونه برابر کړل او ویې ویل: څو چې ما درته امر نه وي کړی، جنګ پیل نه کړئ. وروسته یې لښکر ته اړینې لارښوونې وکړې، د الله رسولﷺ چې کله د مجاهدینو د لیکو له منظمولو څخه وزګارشو، د دعا لپاره یې لاسونه جګ کړل او له الله متعال څخه یې مرسته اوکامیابي وغوښته.

## تن په تن جګړه:

د لومړي ځل لپاره د جګړې اور د قریشو د مشرکانو له لوري اسود بن عبدالاسد بل کړ چې یو توند خویه او بد اخلاقه سړی و. کله چې د اوبو ډنډ ته ورسید،حضرت حمزه رضي الله عنه پرې برید وکړ او هغه يې وواژه. له هغه وروسته درې تنه د قریشو له سپرو څخه، چې ټول له یوې کورنۍ څخه وو، یعنې عتبه اوشیبه دربیعه زامن او ولید د عتبه زوی ډګر ته راووتل او له مسلمانانو څخه یې وغوښتل چې خپل اتلان را وړاندې کړي. رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له خپلوانو څخه دریو تنو یعنې حضرت حمزه خپل کاکا، حضرت عبید بن حارث او حضرت علی بن ابی طالب د کاکا زامنو ته امر وکړ چې د هغو دریو تنو په وړاندې ډګر ته ودانګي. حضرت عبیده رضي الله عنه له عتبه سره، حضرت حمزه رضي الله عنه له شیبه او حضرت علی کرم الله وجهه له ولید سره په جنګ کیوتل او درې واړه مشرکان یې ووژل، له صحابه وو څخه یوازې حضرت عبیده رضي الله عنه ټپي شو چې مدینې منورې ته د ستنیدلو پر مهال شهید شو. ددې دریو تنو له وژل کیدو وروسته مشرکان سخت په غوسه شول، ټولو په مسلمانانو یرغل وکړ او دواړه لښکرې یو له بل سره په جنګ شوې، الله تعالی پرښتو ته امر وکړ چې د مسلمانانو مرستې ته په بیړه ځانونه ورسوي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم خپل مبارك سر پورته کړ او جبرائیل علیه السلام یې په آس سپور ولید چې له زرو پرښتو سره د مسلمانانو د مرستې لپاره راکوزشوی و.

مسلمانانو په دې جنګ کې فوق العاده میړانه ښکاره کړه او له همدې امله د مشرکانو څه ډلې وتښتیدې اوپه پریشانۍ سره یې په شاتګ وکړ او په پای کې جګړه د مشرکینو په پریکنده ماتې او د مسلمانانو په ښکاره بري پای ته ورسیده.

په دې جګړه کې له مسلمانانو څخه څوارلس تنه(شپږتنه له مهاجرینو او اته تنه له انصارو څخه) په شهادت ورسیدل. او له مشرکینو څخه اویا تنه د ابوجهل په ګډون، چې د جنګ قومانده هم دده په لاس کې وه، ووژل شول. اویا تنه نور مسلمانانو ژوندي ونیول. د جنګ په پای کې رسول صلی الله علیه وسلم امر وکړ چې د مړو تنې په څاه کې واچول شي. رسول صلی الله علیه وسلم وروسته له کامیابۍ څخه درې شپې په بدرکې پاتې شو او بیا مدینې منورې ته راستون شو.

## (۲) هڅونه

سره له دې چې دمشرکانو د لښکر شمیر زیات هم و، بیا څه لامل و چې کامیابي د مسلمانانو په برخه شوه؟

## د لوست عبرتونه

• بریا اوکامیابي د الله تعالی له خوا ده. د وګړو او وسلې زیاتوالی کامیابي نشي تضمینولای.
• د جنګي تدبیرونو په څنګ کې په الله توکل او الله تعالی ته دعا او زارۍ ضروري ده.
• د بدر په غزا کې د مسلمانانو د مرستې لپاره د پرښتو راکوزیدل.
• د اسلام په لارکې د پیغمبر ﷺ ځان ځارول، چې له ټولو مخکې یې درې تنه نږدې خپلوان د جنګ میدان ته وړاندې کړل.

## ارزونه

۱ـ د بدر غزا د هجرت په کوم کال پېښه شوې ده؟
۲ـ د مسلمانانو دشهیدانو او د مشرکانو د مړو شمیر په دې غزا کې څوتنه و؟
۳ـ هغه لومړني کسان چې د بدر په جنګ کې سره کیوتل څوک وو؟ نومونه یې واخلئ.

## کورنۍ دنده

کله چې پیغمبرﷺ خبر ترلاسه کړ، چې د مکې لښکر د جنګ هوډ لري، نو دهﷺ په څه کړنو لاس پورې کړ؟ ددې پوښتنې ځواب په خپلوکتابچوکې ولیکئ.

# د بدر د غزا لاس ته راوړنې او د پیغمبر ﷺ د ترور دسیسه

د بدر غزا د مسلمانانو په پریکنده بریا سره پای ته ورسیده. په نوموړې جګړه کې د مکې د مشرکانو د قوماندان (ابوجهل) او نورو مشرانو په ګډون اویا تنه ووژل شول او اویا تنه نور یې یرغمل ونیول شول. د مسلمانانو د شهیدانو شمیر یوازې ځوارلس تنه وو.

## له جنګي بندیانو سره د معاملې ډول

کله چې پیغمبر ﷺ مدینې منورې ته ورسید، د بندیانو په هکله یې له خپلو اصحابو سره مشوره وکړه، ابوبکر صدیق رضي الله عنه وفرمایل: ای د الله رسوله! هغوی زموږ قوم، د کاکا زامن او زمونږ وروڼه دي، زما په اند ښه به دا وي چې له دوی څخه فدیه واخیستل شي؛ ځکه هغه مالونه چې له دوی څخه اخلو موږ د کفارو په وړاندې پیاوړي کوي او له الله تعالی څخه ددې هیله شته چې هغوی ته هدایت او لارښوونه وکړي څو په راتلونکې کې د موږ ملاتړ واوسي.

پیغمبر ﷺ د عمر فاروق رضي الله عنه په لوري مخ کړ، ویې فرمایل: "ای د خطاب زویه! ستا څه نظر دی؟ ویې فرمایل:"په الله تعالی سوګند د ابوبکر صدیق رضي الله عنه له نظر سره موافق نه یم زما نظر دادی، چې فلانکی او فلانکی د خپلو مسلمانانو خپلوانو واک ته وسپارل شي، چې د هغوی غاړې ووهي او سرونه یې غوڅ کړي، ترڅو الله تعالی ته ثابته کړو چې زموږ په زړونو کې د مشرکانو خوا خوږې ځای نلري".

خو رسول اکرم ﷺ د ابوبکر صدیق رضي الله عنه وړاندیز غوره وباله. له بندیانو څخه یې فدیه واخیسته، هماغه و چې پر پیغمبر ﷺ باندې د الله تعالی له خوا سخته ملامتیا نازله شوه

## ماشومانو ته د ښوونې په بدل کې د بندیانو خوشې کول

د مکې خلکو لیکل کولای شول، خو د مدینې منورې خلک د سواد له نعمت څخه بې برخې وو. له دې کبله د بندیانو له ډلې څخه داسې کسان هم وو چې د مالي فدیې ورکولو توان یې نه درلود، نو هر یوه ته یې د لیک او لوست د زده کړې لپاره لس لس تنه د مدینې له ماشومانو څخه ور وسپارل، ترڅو لیک او لوست ور وښیي،کله به چې په لوستلو او لیکلو ښه پوه شول، نو تعلیم یې فدیه ګڼل کیده. سربیره پردې پیغمبر ﷺ ځینې بندیان پرته له فدیې اخېستلو څخه خوشې کړل

په دې شرط چې بیا د مسلمانانو په ضد جنګ ته را ونه دانګي.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، پیغمبرﷺ دنورو چارو په پرتله ولې ماشومانو ته تعلیم د بندیانو د خوشې کولو فدیه کېښودله؟ ستاسې په اند لیک اولوست په اسلام کې څه ارزښت لري؟

## د بدر د غزا پایلې

د بدر جګړې له بېلو بېلو اړخونو څخه خپلې ځانګړې پایلې لرلې چې ځینې یې دا دي:

**۱ـ مسلمانان**: مسلمانانو عزت او دبدبه د بدر له جګړې څخه وروسته پیاوړې شوه او هغه شمیر غیر مسلمانان چې په مدینه منوره او شاوخوا سیموکې یې ژوند کاوه، د مسلمانانو له ځواکمن کیدلو وویریدل. نور نو پر مدینه منوره باندې د یرغل هوډ ورته اسانه کار نه و، په مدینه منوره کې د مسلمانانو قدرت ته رسیدل د نفاق او منافقت د رامنځ ته کیدو لامل شو، ځکه. یو شمیر مشرکان په ښکاره له مسلمانانو سره، خو په پټه کې له کافرانو سره وو.

همدارنګه د بدر د جګړې له پایلو څخه د مسلمانانو له خوا په الله تعالی او د هغه په پیغمبرﷺ د باور زیاتیدل او د دوی د روحیې پیاوړتیا وه. سربېره پردې دمسلمانانو جنګي مهارتونه او نوي پوځي تاکتیکونه پرمخ ولاړل.

**۲ـ قریش**: د بدر د جګړې پایلو د قریشو لپاره یو لوی ناورین رامنځ ته کړ، ځکه زیات شمیر مشران یې ووژل شول، چې دا یو لوی پوځي تاوان و. د هغې تر څنګ یې معنوي تاوان هم ولید؛ یعنې تجارت، عزت او په ټول حجاز کې ددوی نفوذ ته ډیر زیان ورسید.

**۳ـ یهودیان**: یهود په بدرکې د مسلمانانو د کامیابی له کبله په ډېره ویره او ډارکې وو، ځکه هغوی دا نه غوښتل چې اسلام دې پیاوړی شي یادې سر لوړي تر لاسه کړي. کله چې د دوی دین مغلوب شو او په مدینه منوره کې د اسلام ستر پیغمبرﷺ لوړ مقام او منزلت لاسته راوړ، له دې امله یې ژمنه وکړه څو هغه تړون مات کړي، چې له پیغمبرﷺ سره یې مدینې منورې ته له راتګ څخه وروسته تړلی و د زړونو پټې کینې یې ښکاره او په څرګنده توګه یې له اسلام او مسلمانانو سره پر دښمنی. او د پیغمبرﷺ پر ضد یې په دسیسو جوړلو لاس پورې کړ.

## د پیغمبرﷺ د وژلو دسیسه

د بدر په غزا کې له ماتې او ناکامۍ څخه وروسته مشرکان د غوسې او قهر په اورکې سوځېدل او د مکې ټول خلک د پیغمبرﷺ په ضد د پاڅون په حالت کې وو. د مسلمانانو سره یې ښکاره دښمني پیل کړه او غوښتل یې چې هغوی ته یو ملا ماتوونکی گوزار ورکړي ترڅو د خپلو وژل شویو د وینو بدل واخلي. همغه و چې د مکې دوو اتلانو د پیغمبرﷺ د له منځه وړلو دسیسه جوړه کړه. عمیر بن وهب جمحي چې د قریشو د شیطانانو له ډلې څخه و، له صفوان بن امیه سره په حجر(حطیم شریف) کې وکتل او د بدر په جگړه کې یې له وژل شویو کسانو څخه یادونه وکړه. صفوان وویل: سوگند په الله وروسته له هغوی څخه ژوند ارزښت نه لري. عمیر وویل: په الله سوگند: رښتیا وایې که پوروړی نه وای،کورنۍ مې نه درلودای، چې له تباه کېدو څخه یې ویره لرم، محمد ته ورتلم او هغه مې واژه، زه په دې اړه بهانه هم لرم، زوی مې له هغوی سره بندي دی.

صفوان وخت غنیمت وگڼلو، ویې ویل:"د پور ورکړه دې زما په غاړه. زه هغه ورکوم او کورنۍ دې له خپلې کورنۍ سره یوځای کوم، څو چې هغوی ژوندي وي چارې یې زه په مخ بیایم" عمیر وویل: "دا د دواړو موافقه پټه وساته". عمیر خپله توره تیره او په زهرو باندې یې ککړه کړه د مدینې منورې په لوري روان شو کله چې مدینې منورې ته راورسید اوښ یې د نبوي جومات مخې ته گونډه کړ. عمر فاروقؓ هغه ولید، ویې ویل:"دا د الله دښمن عمیر دی چې پرته له شوم نیت څخه د بل شي لپاره نه دی راغلی". عمر فاروقؓ د پیغمبرﷺ حضور ته ولاړ. د عمیر له راتگ څخه یې خبر کړ. رسول اکرمﷺ وفرمایل: "هغه ما ته راوله." عمیر یې د هغهﷺ مبارک حضور ته یووړ. پیغمبرﷺ ترې وپوښتل:"څه شی لامل شو چې زما حضورته یې راوستلې؟" ویې وویل:"د بندي لپاره چې ستاسې سره دی راغلی یم." پیغمبرﷺ وفرمایل: "دروغ وایې، بلکې ته او صفوان په حجر کې سره ناست وئ، د بدر د څاه وژل شوي مو یاد کړل...." تر پایه پورې یې کیسه ورته وکړه، همدلته عمیر د شهادت کلمه پر ژبه وویله او مسلمان شو، بیا یې وویل: "دغه خبره الله تعالی تا ته رسولې ده؛ ځکه په حجر کې پرته له ما او صفوان څخه بل څوک نه وو. په دې توگه د پیغمبرﷺ د وژلو د دسیسې پلان د الله متعا ل په مرسته ناکام شو.

## ۲) هڅونه

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته په خپلو کې بحث وکړي. په داسې حال کې چې يهود اهل کتاب هم وو، ولې يې له پيغمبرﷺ سره مخالفت کولو؟

## د لوست عبرتونه

- د بدر غزا د مسلمانانو او د مکې دکفارو لپاره يو برخليک جوړوونکی جګړه وه؟ ددې جګړې په پايله کې چې د مسلمانانو په ښکاره بريا سره پای ته ورسيدله د اول ځل لپاره د مشرکينو د ظلم او زياتي طلسم ور مات کړ او د هغوی د غټو سرکشانو په وژلو سره اسلام او مسلمانان د قوت او دبدبې څخه برخمن شول.
- د پيغمبرﷺ پر ضد د يهودو د تاريخي کينې ثبوت.
- د الله تعالی له لوري د دښمنانو له دسيسې او شر څخه د پيغمبرﷺ خبرول.
- د بدر په غزا کې د مسلمانانو بريالي توب يو ځل بيا د حق غلبه پر باطل او د عدالت پر ظلم باندې ثابته کړه.

## ارزونه

۱ـ د بدر د بنديانو د معاملې په هکله ابوبکر صديق او عمر فاروق رضي الله عنهما څه نظر درلود؟ او پيغمبرﷺ د کوم يو نظر تاييد کړ؟

۲- د بدر د بنديانو په هکله قرآن کريم د کوم صحابي نظر تاييد کړ؟

۳ـ د بدر جګړې د مسلمانانو او د مکې دکفارو او يهودو لپاره څه پايلې درلودې؟

٤ـ چا د پيغمبرﷺ د وژلو دسيسه جوړه کړه او هغه مبارکﷺ د چا له لوري خبر شو؟

## کورنۍ دنده

د بدر د غزا پايلې په لنډه توګه په خپلوکتابچو کې وليکئ.

# د بدر او احد د غزاګانو تر منځ تر ټولو مهمې پېښې

لکه څنګه چې وویل شول، د بدر له غزا څخه وروسته د مسلمانانو برم او عزت په ټوله عربي ټاپووزمه کې اوچت شو. ضعیف النفس کافرانو د خطر احساس کاوه. د اسلام د مینه والو شمیر زیات شو.

## نورې غزاګانې

پیغمبرﷺ د بدر د غزا له کامیابۍ څخه لوېې ګټې پورته کړې،چې له هغې څخه لاندې څو ګټې یادولای شو:

**۱ـ د ماء الکدر غزا**: مدینې منورې ته له راستنیدو څخه اووه ورځې وروسته پیغمبرﷺ ماء الکدر ته، چې تر بنی سلیم پورې اړوند یوځای و، لښکر وایست، خو هغوی په تیښته بریالي شول او جګړه پیښه نشوه.

د مسلمانانو د لښکر ایستلو لامل د بني سلیم راغونډېدل و، پر مدینه منوره باندې د تیرې په نیت چې په پای کې د مسلمانانو له دفاعي حملې سره مخامخ شول.

**۲ـ د سویق غزا**: ابوسفیان له دوو سوو سپرو سره یوځای له مکې څخه مدینې منورې ته راغی. د یهودو په ملاتړ سره یې د مدینې منورې په یوه اړونده سیمه برید وکړه، خو بیا وتښتیدل. پیغمبرﷺ دوی تعقیب کړل. هغوی د سختې ویرې له کبله خپلې توښې، چې(سویق) و، په خپل ځای پریښودل او وتښتیدل.

**۳ـ د ذي امر غزا**: پیغمبرﷺ ته خبر ورسید چې د ثعلبه او محارب د قبیلو خلک د ذی امر په سیمه کې راټول شوي او غواړي پر مدینه منوره حمله وکړي. ددې برید د شنډولو لپاره پیغمبرﷺ له څلور سوه او پنځوسو کسانو سره مخې ته ور ووت، خو هغوی بې له دې چې جنګ وکړي، وتښتیدل.

**۴ـ د بحران غزا**: بحران د مکې او مدینې منورې ترمنځ یوه سیمه ده. پیغمبرﷺ د بني سلیم له قبیلې سره د جګړې لپاره هغې سیمې ته حرکت وکړ، خو جګړه پیښه نشوه .

له پورتنیو غزاګانو سربیره پیغمبرﷺ زید بن حارثهرضی الله عنه دیوې سریې په مشرۍ د نجد اړونده قرده نومې سیمې ته، چې د ابوسفیان تجارتي کاروان پرې تیریده، ور ولیږه.

## (۱) هڅونه

په بدر کې د حضرت محمدﷺ کامیابي د مسلمانانو لپاره کوم فرصتونه چمتو کړل زده کوونکي دې په دې هکله په ګروپي توګه بحث او څېړنه وکړي.

## ۵. د بني قینقاع غزا

د بدر له جګړې څخه وروسته تر ټولو مهمه غزا د بني قینقاع غزا وه. یهودو پر هغه تړون باندې چې له پیغمبرﷺ سره یې کړی و، وفا ونه کړه او د اسلام او پیغمبرﷺ پر ضد یې دښمنانه دریځ غوره کړ. پیغمبرﷺ هغوی راغونډ کړل، نصیحت یې ورته وکړ او اسلام ته یې راوبلل. په عین حال کې یې د قریشو له هغه حالت څخه وویرول چې په بدر کې ورته پیښ شوی و.

خو یهودو پیغمبرﷺ ته د اخطار په ډول وویل: "ای محمده، پر یو څو قریشو چې د جنګي تاکتیکونو سره بلد نه وو، کامیاب شوی یې، په دې باندې مه مغروره کېږه. که له موږ سره په جنګ شې، وبه وینې چې موږ څوک یو! د مسلمانانو او یهودو ترمنځ کړکیچ له همدې وخت څخه پیل شو، خو ددې غزا مستقیم لامل دا و چې یوه ورځ یوې عربي ښځې یو څه شی د پلورلو لپاره د بني قینقاع بازار ته وړي وو، هغه یې وپلوره، بیا یوه زرګر ته ورغله. زرګر ترې وغوښتل څو خپل مخ ورښکاره کړي، ښځې له دې څخه ډډه وکړه. یهودي زرګر یې په همدې وخت کې د ټکري کنج په شا ټومبلی و، کله چې ښځه له خپل ځای څخه پورته شوه، عورت یې ښکاره شو. ټولو یهودو وخندل. ښځې چیغې او نارې کړې، په دې وخت کې یو مسلمان پر یهودي زرګر باندې حمله وکړه هغه یې وواژه په بدل کې یهود په دې مسلمان باندې ور ټول شول، په شهادت یې ورساوه. ددې مسلمان خپلوانو نورو مسلمانانو ته ورنارې کړې. مسلمانان په قهر او غوسې شول. د مسلمانانو او د بني قینقاع د یهودو ترمنځ یوه سخته لانجه رامنځ ته شوه. کله چې پیغمبرﷺ له پېښې څخه خبر شو، یو لښکر یې له مهاجرینو او انصارو څخه چمتو او پر هغوی باندې یې حمله وکړه، چې هغه ورځ د دویم هجري کال د شوال د میاشتې له نیمایې سره برابره وه.

## د بني قینقاع کلابندي

کله چې د بني قینقاع یهود د پیغمبرﷺ له لښکر څخه خبر شول، خپلو کلاګانو ته یې پناه یوړه. رسول اکرمﷺ هغوی پنځلس ورځې کلابند کړل. کله چې کلابندي دوام وکړ، یهود له مقاومت څخه نهیلي شول او دې ته ناچار شول چې د رسول اکرمﷺ په اجازه له خپلو کلاګانو څخه ووځي. پیغمبرﷺ لومړی امر وکړ چې هغوی دې بندي شي، بیا یې خوشې کړل او له مدینې منورې څخه

يې ورته د شړلو امر وکړ.

د منافقانو مشر عبدالله بن ابی هڅې وکړې چې له رسول اکرمﷺ سره د بني قينقاع په هکله، چې ترون يې ورسره کړی و، خبرې وکړي او هغهﷺ د بني قينقاع له شړلو څخه لاس په سر کړي، خو نبي اکرمﷺ يې خبره ونه منله.

کله چې د بني قينقاع د کډې کولو خبره حتمي شوه، رسول اکرمﷺ عباده بن صامت ته وفرمايل: هغوی وباسئ.

بني قينقاع د مدينې منورې د يهودو تر ټولو زړور جنګيالي او تر ټولو ډېر وسله وال وو. د هغوی له ايستلو څخه وروسته نور پاتې يهود د مسلمانانو له ويرې غلي او ارام شول.

## دکعب بن اشرف وژنه

ددې کال له مهمو پيښو څخه يوه هم دکعب بن اشرف يهودي وژل کيدل وو چې د اسلام تر ټولو سخت دښمن و. هغه مکې ته ولاړ او قريش يې د بدر د جګړې د وژل شويو کسانو د غچ او بدل اخيستلو لپاره وهڅول. سربيره پردې يې د شعرونو په ويلو سره د نبي اکرمﷺ بدې بيانوله او په دې هکله يې ډېره زياته بې ادبي کوله چې هريو له دې جناياتو څخه د ترون ماتيدل او لوی خيانت ګڼل کيده چې جزا يې وژنه ده.

له دې کبله پيغمبرﷺ خپلو ملګرو ته وفرمايل:"څوک دی چې کعب بن اشرف ووژني؟ ځکه چې اللهﷻ او د هغه رسولﷺ اذيت کوي" محمد بن مسلمهؓ او ابو نائلهؓ، چې دکعب بن اشرف رضاعي ورورڼه وو ددې کار د عملي کولو لپاره حاضر شول، دې دوو تنو له ډېر تاکتيک څخه کار واخيست او کله چې کعب راووت دکور د دروازې په خوله کې يې وواژه. د کعب بن اشرف د وژلو خبر ژر تر ژره خپور شو او د يهودو ټول لويان او مشران په ويره کې شول.

### (۲) هڅونه

زده کوونکي دې له مدينې منورې څخه د بني قينقاع د ايستلو په هکله ګروپی بحث وکړي.

**د پيغمبرﷺ نکاح له حفصې بی بی سره او د حضرت عليؓ نکاح له بي بي فاطمې سره**

۱ـ رسول اللهﷺ د حضرت عمر فاروقؓ له لور حفصېؓ سره واده وکړ، حفصهؓ مخکې د خنيس بن حذافهؓ په نکاح کې وه، چې په مدينه منوره کې وفات شو.

۲ـ په همدې کال علي کرم الله وجهه له فاطمېؓ سره واده وکړ، عليؓ روايت کوي:

"زه د فاطمې رضي الله عنها د غوښتلو په نیت د پیغمبرﷺ کور ته ورغلم، خو کله چې دده مبارکﷺ په حضورکې کیناستم، ډېر تر اغیزې لاندې یې راغلم. په الله جل جلاله سوګند چې د رسول اکرمﷺ د ویرې له امله مې ونشوای کولای یوه خبره هم وکړم،" وېې پوښتل د څه لپاره راغلې ؟ آیا کوم ضرورت لرې؟ چوپ شوم وېې فرمایل:کیدای شي د فاطمې رضي الله عنها د غوښتلو لپاره راغلی وې؟ ومې ویل: هو، پیغمبرﷺ وفرمایل: د مهر لپاره کوم شی لرې؟ ومې ویل:"ای د الله تعالی رسوله، څه شی نه لرم. وېې فرمایل: هغه خپله زغره دې څه کړه؟علی رضي الله عنه وایي: په الله سوګند دا زغره ماته شوې وه له څلورو درهمو څخه یې قیمت زیات نه و، ومې ویل: هغه زما سره ده، وېې فرمایل: فاطمه رضی الله عنها مې تا ته په نکاح درکړه څوک ولیږه څو هغه زغره راوړي، چې د فاطمې مهر شي.! رسول اکرمﷺ د فاطمې رضي الله عنها د جهیز لپاره یو څادر، یو مشک او یو چرمي بالښت تیار کړ.



## د لوست عبرتونه

- د بدر ماتې د قریشو لپاره ډېره ځورونکې پیښه وه. له دې امله ټول د غچ اخستلو په فکر کې وو.
- د واده، مهر او همدارنګه په ټولو چارو کې د رسول اکرمﷺ له خوا اسانې.
- د پیغمبرﷺ سیرت د دین په امورو کې د آسانی بېلګه ده، چې د فاطمة الزهراء رضي الله عنها او علي رضي الله عنه ازداج د دغې اسانی یو مهم مثال دی او د رسول اللهﷺ سیرت په ټولو دیني او دنیوي کارونو کې په اسانی دلالت کوي.

## ارزونه

۱- د بدر او احد د غزاګانو ترمینځ څو نورې غزاګانې پیښې شوې، تر ټولو مهمه یې کومه وه؟
۲- پیغمبرﷺ ولې د بني قینقاع دیهودو د ایستلو امر وکړ؟
۳- د بنی قینقاع کلابندی څومره دوام وکړ؟
٤- د فاطمې او علي رضی الله عنهما واده څه ډول ترسره شو؟

## کورنی دنده

د علی کرم الله وجهه او فاطمې رضي الله عنها د واده کیسه په خپلوکتابچو کې ولیکئ او په خپل عملي ژوند کې یې له پایلو څخه ګټه پورته کړئ.

# د احد غزا (۱)

## ۱ـ د غزا لاملونه

د احد غزا په حقیقت کې د بدر په غزا کې د قریشو د سختې ماتې د غچ اخیستنې عکس العمل بلل کیږي. د دې ترخنګ نور زیات شمیر لاملونه هم موجود وو، لکه دیني، ټولنیز، اقتصادي او سیاسی چې په لاندې ډول بیانیږي:

**۱ـ دیني لامل**: د قریشومشرکانو خپل مالونه د اسلامي دعوت د خپراوي د مخنیوي په لاره کې لګول چې په دې هکله ستونزې رامنځ ته کړې او مسلمانان له منځه یوسي، خلك د اسلام راوړلو څخه منع او د مدینې منورې په پښو دریدلی دولت رانسکور کړي؛ ځکه په مکه مکرمه کې د اسلام د خپریدو له کبله د قریشو بت لمانځنې خپل ارزښت او اهمیت له لاسه ورکړی و.

**۲ـ ټولنیزلامل**: د بدر په جګړه کې د قریشو ډاروونکې ماتې او د دوی د مشرانو او رهبرانو وژل کیدل، د قریشو په تندي د ننګ اوغیرت داغ و. هغوی له دې امله شرم او سرټیټي احساسوله. نو کله چې مکې مکرمې ته ستانه شول د رسول اکرمﷺ په ضد یې د نوي جنګ لپاره د مالونو را غونډول پیل کړل، ترڅو له لاسه تللی حیثیت او عزت بیرته ترلاسه کړي.

ابوسفیان هغه قافله، چې له خپل ځان سره یې جوړه او روغه مکې ته ورسوله، له عادت سره سم د دار الندوه مخې ته ودروله. قریشو هوډ وکړ چې د دې مالونه دې د رسول اکرمﷺ سره په جګړه کې ولګول شي.

**۳ـ اقتصادي لامل**: د مدینې منورې پر شاوخوا سیمو د مسلمانانو د سریو خوځښتونو د قریشو پر اقتصاد منفي اغیز وکړ او قریش یې د جدي اقتصادي کلابندۍ سره مخ کړل، ځکه د قریشو اقتصاد د ژمي او اوړي په موسمونو کې د یمن او شام ترمنځ د قافلو په حرکت باندې ولاړ و، چې د بدر په جګړه کې د مسلمانانو له کامیابۍ څخه وروسته ټول له ګواښ سره مخامخ شول.

**۴ـ سیاسي لامل** : د عربي قبیلو ترمنځ د قریشو مقام، منزلت او رهبري کوونکی ارزښت د بدر له جګړې وروسته تر پوښتنې لاندې راغی او مخ په ړنګیدو شو، له دې امله قریشو باید له لاس څخه وتلی مقام، منزلت او مشري د دویم ځل لپاره بیرته تر لاسه کړې وای.

دا تر ټولو مهم لاملونه وو، چې قریش یې دې ته مجبور کړل ترڅو د مدینې منورې د دولت پر وړاندې د یوه پوځي جنګ لپاره له ټول زور او وس څخه کار واخلي.

## له مکې څخه د مدینې په لوري د قریشو حرکت:

قریش د ابوسفیان بن حرب تر قوماندې لاندې له خپلو ښځو، غلامانو او د مکې مکرمې تر څنګ میشتو عربي قبیلواو د کفاته او تهامه قبیلو له خلکو سره یوځای، له مکې څخه وخوځېدل.
د پیغمبرﷺ تره عباسؓ چې د هغوی په امر یې په مکه مکرمه کې د قریشو ټول حرکتونه څارل، سم له لاسه یې پیغمبرﷺ ته لیک واستوه. په هغه کې لیکل شوي وو: "د قریشو لښکر، چې له درې زرو جنګیالیو، دوو سوو آسونو، اووه زره زغرو، درې زره اوښانو او بې شمیره وسلو څخه جوړ شوی دی، له تاسو سره د جنګ په نیت د مدینې منورې په لوري حرکت وکړ.
پیغمبرﷺ د قریشو له حرکت څخه هیڅاته څه ونه ویل او هغه چا ته چې ترې خبر وو ویې فرمایل: دا مطلب پټ وساتئ." وروسته له دې چې د قریشو د لښکر په هکله یې معلومات بشپړ کړل، خپل صحابه یې راغونډ کړل له دوی سره یې په دې اړه مشوره وکړه چې آیا په مدینه منوره کې پاتې شو، ترې دفاع وکړو اوکه له مدینې منورې څخه د باندې له هغوی سره مخامخ شو؟ پیغمبرﷺ په خپله شخصاً په مدینه منوره کې پاتې کېدل ښه وبلل. په دې اړه یې قناعت کوونکې دلیلونه وړاندې کړل چې دا د ډېرو کسانو نظر هم و، خو یو شمیر ځوانو اصحابو رضی الله عنهم په ځانګړې توګه هغو کسانو چې د بدر په جګړه کې یې ګډون نه و کړی، پر دې ټینګار کولو چې باید له کفارو سره له مدینې منورې څخه د باندې مقابله وکړو، په پای کې دویم نظر عملي شو او رسول اکرمﷺ خپل کورته ننووت. زغره یې واغوستله، خلکو یو بل ملامتول چې ولې یې د پیغمبرﷺ د نظر مخالف نظر ورکړ. حضرت حمزهؓ یې هغهﷺ ته ور ولیږلو ترڅو هغه مبارکﷺ ته داډ ورکړي او هر هغه څه چې پیغمبرﷺ وایي هغه منل کیږي، خو رسول اکرمﷺ په ځواب کې وفرمایل: "هیڅ یوه پیغمبر ته مناسبه نه ده چې کله زغره په تن کړي بیا هغه له تن څخه وباسي تر څو الله تعالی د هغه او د هغه د دښمن ترمنځ پریکړه نه وي کړې".
پیغمبرﷺ له مدینې منورې څخه تر وتلو د مخه په مدینه منوره کې فوق العاده پوځي حالت اعلان کړ چې ټول باید د جګړې لپاره چمتو شي. په ټولو حالتونو کې ان تردې چې د لمانځه او خوب

کولو په حالت کې دې هم مسلح وي او(۵۰) پنځوسو زړوروکسانو ته یې امر وکړ ترڅو په مدینه منوره کې د شپې له خوا څارنه وکړي.

## د جګړې لپاره د پیغمبرﷺ پلان

پیغمبرﷺ له مشرکانو سره د جګړې لپاره یو ټینګ او دقیق پلان ونیو.

پیغمبرﷺ د جنګ لپاره د مناسب ځای له ټاکلو وروسته، پنځوس غشي ویشتونکي وټاکل او هغوی ته یې ځانګړې سپارښتنې او لارښوونې وکړې، بیا یې لښکر په دریوبرخو وویشلو:

۱ـ د مهاجرینو قطعه، چې بیرغ یې د مصعب بن عمیرؓ په لاس کې ورکړ.

۲ـ د اوس (انصارو) قطعه، چې بیرغ یې اسید بن حضیرؓ ته ورکړ.

۳ـ د خزرج (انصارو) قطعه چې بیرغ یې حباب بن منذرؓ ته وروسپارلو.

دا لښکر له زرو تنو څخه جوړ شوی ؤ او یوازې د سلو تنو زغرې په تن وې او ددوی په منځ کې هیڅ کوم سپور موجود نه و.

کله چې پیغمبرﷺ د شیخان سیمې ته ورسید، خپل لښکر یې معاینه کړ. او څوارلس تنه تنکي ځوانان یې چې د جنګ وړتیا یې نه درلوده، بیرته ستانه کړل.

## د دوو لښکرو په جګړه کې مخامخ کیدل

پیغمبرﷺ د سهار لمونځ د شوط په سیمه کې، چې دښمن ته ډیره نژدې وه او دواړه لښکر یو بل ته ښکاره کیدل، اداء کړ. په همدغه ځای کې عبدالله بن ابی د پیغمبرﷺ له امر څخه سرغړونه پیل کړه او له خپلو درې سوو پیروانو سره په دې پلمه، چې پیغمبرﷺ زما نظر، چې په مدینه منوره کې پاتې کیدل وو، عملي نه کړ، مدینې منورې ته ستون شو. د دې منافق دا یوه بهانه وه. اصلي مقصد یې د اسلام د لښکر د روحیې کمزوري کول او د قریشو د لښکر د مورال او روحیې پیاوړي کول وو.

پیغمبرﷺ له اوو سوو مجاهدینو سره یوځای د(حرې) له لارې د احد لور ته ولاړ او د مشرکانو لښکر د ختیځ له لوري د احد په دره کې د دښتې یوې خوا ته ځای پر ځای شو.

## هڅونه

پیغمبرﷺ ولې د احد په غزا کې په مدينه منوره کې پاتې کیدل له مدينې څخه په د باندې وتلو غوره وبلل ؟په دې اړه خپل نظر څرګند کړئ.

## د لوست عبرتونه

• د بدر په جګړه کې د قریشو ماتې د هغوی پر سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ژوند باندې بد اغیز وکړ چې قریش پر له پسې د خپل حیثیت اوعزت د بیرته لاس ته راوړلو په هڅه کې وو.

• پیغمبرﷺ د دښمن په هکله د دقیقو معلوماتو د لاسته راوړلو پر ارزښت باندې پوه و او په دې اړه یې څه کسان ګمارلي وو.

• په اسلام کې د شورى ارزښت او د مجلس د خلکو پریکړې ته درناوی کول.

• له جهاد سره د مسلمانو ماشومانو مینه او پر هغوی باندې د پیغمبرﷺ شفقت.

• شورا په اسلام کې د کورني، ټولنیز او سیاسي ژوند له اصولو څخه یو اصل دی او د رسول الله ﷺ سیرت د مسلمانانو په ژوند کې د شورا د عملي تطبیق نمونه او بېلګه دی، په شورا باندې عمل کول د استبداد او پر خلکو باندې د خپل نظر د تحمیلولو لارې بندوي.

## ارزونه

۱ـ د احد د جګړې لاملونه په لنډه توګه بیان کړئ.

۲ـ د مسلمانانو او مشرکانو لښکر د وسلې او شمیر له پلوه په کومه اندازه و؟

۳ـ په هغه شورا کې چې پیغمبرﷺ د صحابه رضی الله عنهم سره د دښمن د مقابلې د څرنګوالي په هکله درلوده، کومه پریکړه وشوه؟

٤ـ پیغمبرﷺ د اسلام لښکر په څو برخو وویشه؟ نومونه یې واخلئ.

## کورنۍ دنده

آیا د اسلام او قریشو لښکر د جنګیالیو او وسلې له حیثه برابر و؟ ځواب یې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د احد غزا (۲)

## ۲- پیغمبرﷺ د جګړې په ډګر کې

پیغمبرﷺ د شیخان په سیمه کې د خپل لښکر له معاینې وروسته ځیني کم عمره ځوانان چې د جګړې ورتیا یې نه درلوده بیرته ستانه کړل. بیا یې خپل لښکر په دریو برخو وویشه، شپه یې تیره کړه او سهار د وخته د احد په لوري وخوځیده.




## د دفاع ارزښت او د اسلامي لښکر حالت

په احدکې پیغمبرﷺ خپل لښکر چمتو کړ او تر ټولو ښه پنځوس غشي ويشتونکي يې د عبدالله بن جبير رضي الله عنه تر قوماندې لاندې راغونډ کړل، امر يې ورته وکړ د هغه غره کنډو ته لاړ شئ چې وروسته د(جبل الرماة) په نامه مشهور شو او همله ځای پرځای شئ. ددي ډلې له ځای په ځای کيدو ځخه مقصد د اسلامي لښکر د شا لوري ساتنه وه ترڅو د دښمن سپاره وربانديې له شالوري يرغل ونه کړي. رسول اکرمﷺ هغوی ته په ټينګار وفرمايل: ((که مو وليدل چې وژل کيږو، زموږ ملاتړ مه کوئ.که مو وليدل چې غنيمت نيسو، زموږ لوري ته مه را دانګئ. که مو وليدل چې زموږ غوښې مرغان پورته کوي، خپل ځای مه پرېږدئ. که مو وليدل چې د دښمن لښکر ته مو ماتې ورکړه او تر پښنو لاندې مو کړ، خپل ځای مه خوشې کوئ، ترڅو يو ځوک در واستوم.

پيغمبرﷺ منذر بن عمرو د لښکر د ښي اړخ قوماندان او زبير بن عوام يې د کيڼ اړخ قوماندان وټاکل. زبيرﷺ دا دنده درلوده چې د خالد بن وليد د سپرو په وړاندې، چې هغه وخت مشرک و،

مقاومت وکړي او د لښکر د لیکو په مخ کې یې یوه ډله زړور مسلمانان. چې په خپل وخت کې په زړورتوب او جگړه کې مشهور وو، ځای پرځای کړل.

بیا پیغمبرﷺ په داسې حال کې چې دوې زغرې یې اغوستې وې خپل ملگري جگړې او مقاومت ته هڅول.

## د مکې د لښکر منظمول

مشرکانو خپل لښکر له عادت سره سم چمتو کړ، عمومي قوماندان یې ابو سفیان صخر بن حرب و چې د لښکر په زړه کې یې ځای درلود. د ښي اړخ قوماندان یې خالد بن ولید، د کیڼ اړخ قوماندان یې عکرمه بن ابی جهل او. د پلیو سرتیرو مشري یې د صفوان بن امیه په غاړه وه. ابوسفیان له هغو زیانونو څخه چې د بدر په جگړه کې د مکې خلکو ته رسیدلي وو، یادونه وکړه. مشرکان یې جنگ او مقاومت ته وهڅول. د قریشو ښځو یوې ډلې د (هند بنت عتبه) په مشرۍ چې د ابوسفیان ښځه وه، د لښکر د صفونو په منځ کې دریا او طبل واهه او د نارینه وو غیرت او احساس یې راپارولو.

## (۱) هڅونه

گرانو زده کوونکو، د جبل الرماة ډلې ته له پرله پسې ټینگار څخه د پیغمبرﷺ مقصد څه و؟په اړه یې نظر څرگند کړئ.

## د جگړې لومړۍ مرحله

دواړه لښکرې یو بل ته نژدې شوې. تر ټولو لومړی د مشرکانو بیرغچي طلحه بن ابی طلحه چې د قریشو زړور گنل کیده، د جنگ اور بل کړ. هغه په اوښ باندې سپور د جنگ میدان ته راغی او مقابل جنگ کوونکی یې وغوښت. خلکو د هغه د زړورتوب له امله دده له مقابلې څخه ځان ساته، خو زبیر بن عوامؓ د پیغمبرﷺ د ترور زوی میدان ته ورغی او د زمري په څېر یې ورودانگل. له اوښ څخه یې ځمکې ته را وغورځاوه او په توره یې د هغه سرله تن څخه بیل کړ.

د جنگ د اور لمبې زیاتې شوې. په ټول میدان کې د دواړو لښکرو ترمنځ سخته جگړه پیل شوه. لس تنه د قریشو له جنگیالیو څخه چې د مکې د لښکر بیرغ یې یو په بل پسې په لاس کې اخیست، ټول ووژل شول. شپږ تنه یې له یوې کورنۍ (د ابو طلحه بن عبدالله بن عثمان له کورنۍ) څخه وو.

وروسته له هغوی څخه په نوموړې کورنۍ کې بل کوم کس پاتې نه و چې بیرغ پورته کړي.نو له

دې امله صواب، چې ددوی  حبشي غلام و، بیرغ پورته کړ. د خپلو مالکانو په پرتله ډېر زړور وجنګید دواړه لاسونه یې قطع شول، خو بیرغ یې خوشې نه کړ، چې په ځمکه ولوېږي. بیرغ یې تر هغه پورې په غاړه او سینه باندې نیولی و څو ووژل شو.

زړورو مسلمانانو د جګړې په هر ګوټ کې د شرک  لښکرې وځپلې. هغوی یې له ماتې سره مخامخ کړل. حضرت حمزهؓ د زمري په څېر په زړورتیا او بې باکۍ د مشرکانو د لښکر پر زړه باندې بریدونه کول.

## د الله د زمري حضرت حمزهؓ شهادت

د جبیر بن مطعم تره طعیمه بن عدی د بدر د جګړې له وژل شویو څخه یو تن و. جبیر خپل حبشي غلام (وحشی بن حرب) ته، چې په نیزې ویشتلو کې یې بشپړ مهارت درلود، وویل: که زما د تره په بدل کې حمزه ووژنې، ازاد یې. وحشي د حمزه په پلټنه پسې روان شو او خپل ځان یې د ونې یا ډبرې شاته پټ کړ، تردې پورې چې حمزهؓ نژدې شو. وحشي په خپل ټول زور سره نیزه د حمزهؓ په لوري ورګوزار کړه. نیزه د هغه مبارک له نامه څخه لاندې ولګیده او د پښو ترمنځ یې راووتله. له څو شیبو څخه وروسته یې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې، خو د هغه د شهادت سره سره چې د مسلمانانو لپاره یوه لویه ضایعه وه، اسلامي لښکر په هر اړخ کې برلاسی و او د اسلام زړورو جنګیالیو د مشرکانو روحیه ضعیفه او لښکر یې له ماتې سره مخامخ کړ.

د مکې سپرو لښکرو د خالد بن ولید په قومانده درې ځلې هلې ځلې وکړې چې د اسلامي لښکر پر کیڼ اړخ باندې برید وکړي، خو د جبل الرماة غشیو ویشتونکې ډلې یې مخه نیوله. په پای کې شاتګ ته اړ شول .

د مکې لښکر، چې د شمیر او تجهیز له کبله د اسلامي لښکر په پرتله څوځله زیات هم و، خو د مسلمانانو د رښتیني ایمان او سرښندنې له امله یې ماتې وخوړه، د جګړې له ډګر څخه په شا وتښتیدل. دلته مسلمانانو خپلې تورې په تیکو کړې او د غنیمت په راټولولو یې پیل وکړ.

## د غشیو ویشتونکو ناورین راوړونکې اشتباه

په هغو حساسو شیبو کې د اسلام کوچني لښکر پریکنده کامیابي لاسته راوړه، خو غشیو ویشتونکې ډلې یوه ستره خطاء وکړه، چې د جګړې حالت  یې په بشیړه توګه بل ډول کړ اومسلمانانو ته یې درانه تاوانونه ورسول.

غشیو ویشتونکو د پیغمبرﷺ  له پرله پسې لارښوونو سره سره کله یې چې دښمن د تېښتې او مسلمانان د غنیمت راټولولو په حالت کې ولیدل، هوډ یې وکړ چې خپل ځای پرېږدي. د غشیو

ويشتونکو قوماندان عبدالله بن جبير ﵁ مجاهدينو ته د پيغمبرﷺ امرونه او سپارښتنې ور په ياد کړې، ويې ويل: " د رسول اللهﷺ ويل له ياد څخه مه وباسئ." خو زياتو په دې گمان چې مسلمانان برلاسي شوي او جنگ پای ته رسيدلی د هغه خبرو ته ارزښت ور نه کړ د عبدالله بن جبير﵁ سره يوازې (۹) نهه تنه پاتې شول او هوډ يې وکړ چې د پيغمبرﷺ له اجازې او يا له خپل شهادت څخه پرته به خپل ځای نه خوشې کوي.

## (۲) هڅونه

گرانو زده کوونکو، په جبل الرماة کې په پاتې کيدو باندې د پيغمبرﷺ له ټينگار سره سره ولې غشيو ويشتونکو خپل ځای خوشې کړ؟

## د لوست عبرتونه

• پيغمبرﷺ د جنگي نقشې لوی طرحه کوونکی و. خپل لښکر يې د احد په جگړه کې داسې تيارکړ چې تر ټولو تجربه لرونکی نظامي قوماندان يې هم په هغو شرائطو کې تر هغه ښه نشي تنظيمولای.

• د قوماندان او رهبر له اوامرو څخه سرغړونه لوی ناوړين رامنځ ته کوي چې بدې پايلې يې نه يوازې خپل ځان ته، بلکې ټول امت ته رسيږي.

## ارزونه

۱ـ په جبل الرماة کې د مجاهدينو د ځای پر ځای کولو څخه د پيغمبرﷺ مقصد څه و؟

۲ـ د قريشو د لښکر قوماندان او د سپرو قواوو رهبر يې څوک و؟ نومونه يې واخلئ.

۳ـ د احد په جگړه کې د مسلمانانو ناوړين راوړونکې اشتباه څه وه؟

٤ـ حضرت حمزه ﵁ د چا له خوا شهيد شو؟

## کورنۍ دنده

د رهبر او قوماندان د اوامرو او سپارښتنو د منلو د ارزښت او اهميت په اړه په خپلوکتابچوکې يوه مقاله وليکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د احد غزا (۳)

## ۳. د بري پر ځای ماتې خوړل

له بري وروسته مسلمانانو توري په تيكو كې كېښودې او د غنيمت په راټولولو يې پيل وكړ. له بلې خوا يو شمېر غېشو ويشتونكو د الله د رسولﷺ له امر څخه سرغړونه وكړه او خپل ځای يې خوشې كړ. دې كار د جنګ حالت په پشپړه توګه بدل كړ.

### د خالد بن وليد حمله

خالد بن وليد دغه زرين وخت غنيمت وګاڼه او د بريښنا په څېر يې پر جبل الرماة باندې حمله وكړه. د عبدالله بن جبير او د هغه د ملګرو له شهادت څخه وروسته يې پر اسلامي لښكر د شا له خوا بريد وكړ. د مكې مات لښكر ددې بدلون په ليدلو نوی او تازه نفس وموند او د مسلمانانو لوري ته ستانه شول. مسلمانان له دوو لوريو څخه د مشركانو تر محاصرې لاندې شول. پيغمبرﷺ چې دخپل لښكريه زړه كې و. په لوړ او جګ غږ سره يې مسلمانان خپل لوري ته راوبلل.

ځكه چې مسلمانان محاصره شوي وو، يوې ډلې يې په بشپړه توګه خپله روحيه له لاسه وركړې وه او د خپل ځان د ژغورلو لپاره تر مدينې منورې پورې تښتيدلي وو او يا يې د غره سرته پناه وړې وه. بله ډله يې د مشركانو سره په جنګ كې ښكيل وه، نو مسلمانان له ګډودۍ او بې نظمۍ سره مخامخ وو. حيران او سرګردانه پاتې وو. نه پوهيدل چې كوم لوري ته وخوځيږي. دا وخت لعين ابليس چيغې اوناري كړې، چې: (محمد وژل شوی دی!)

ددې غږ په اوريدلو سره زياتو مسلمانانو خپله روحيه له لاسه وركړه، خو زړور او غيرتي هغه كسان وو چې د ايمان په رڼايي زړونه روښانه وو او له پيغمبرﷺ څخه وروسته ژوند يې هيڅ او بې ارزښته وګاڼه، د ژوند تر پايه پورې وجنګيدل او د مسلمانانو له لاسه وتلې مورال يې بيرته راوګرځاوه.

كله چې ثابته شوه د پيغمبرﷺ د مړينې آوازه دروغ وه، نوې او تازه سا په مسلمانانو كې وچليده او ويې كولای شول خپل ځانونه ددښمن له محاصرې څخه وباسي.

د اسلامي لښكر دريمه ډله هغه كسان وو چې د پيغمبرﷺ له سلامتيا څخه پرته يې بل فكر نه درلود. دا ډله د محاصرې په پيل كې د رسول اكرمﷺ حضور ته ستانه شول، چې په دې ډله كې علي بن ابی طالب، ابوبكر صديق، عمر بن خطاب، طلحه بن عبيدالله او سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهم ځای درلود.

## د پیغمبرﷺ گرد چاپیره د جنګ تمرکز

کله چې اسلامي لښکر محاصره و، د جنګ اور د نبي کریمﷺ گرد چاپیره بل شو. په دې وخت کې له پیغمبرﷺ سره له نهو تنو څخه پرته بل څوک موجود نه و. کله چې پیغمبرﷺ مسلمانان خپل ځان ته راوغوښتل، مشرکانو د هغهﷺ غږ وپیژندلو، نو مخکې له دې چې اسلامي لښکر خپل ځان د پیغمبرﷺ حضور ته ورسوي، مشرکانو له ټولو قواوو سره د هغهﷺ په لوري حمله وکړه. ددې ډلې د نهو تنو او مشرکانو ترمنځ جنګ سخت تود شو، صحابه وو د پیغمبرﷺ سره د محبت، سرښندنې او اتلولۍ بېساري بېلګې پرځای پرېښودې.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، په احدکې د مسلمانانو برې ولې په ناورین او ماتې بدل شو؟

## د پیغمبرﷺ د ژوند تر ټولو سختې شیبې

د پیغمبرﷺ په حضورکې اووه تنه انصار ملګري یې په شهادت ورسیدل. یوازې دوه قریش ملګرې(طلحه بن عبیدالله او سعد بن ابی وقاص رضی الله عنهما) له هغه سره پاتې وو. دا د پیغمبرﷺ د ژوند تر ټولو سخت ساعتونه او د مشرکانو لپاره یو زرین وخت و، چې له دې څخه یې لویه ګټه پورته کړه. عتبه بن ابی وقاص یوه ډبره د پیغمبرﷺ په لوري ورګوزاره کړه چې د لاندې ښۍ خوا رباعي مبارک غاښ یې مات او لاندینۍ شونډه یې ټپي شوه .

عبدالله بن شهاب زهری د محمدﷺ مبارک مخ زخمي کړ او عبدالله بن قمئة د پیغمبرﷺ په مبارکه اوږه باندې د توري ګوزار وکړ. خو څرنګه چې ده مبارک دوه زغرې اغوستې وې څه تاوان ورته ونه رسید، بیا یې د ده په مبارک مخ باندې ګوزار وکړ. همغه و چې د خپلې زغره دارې خولۍ دوې کړۍ یې په مبارک مخ کې ښخې شوې.

په دې کې هیڅ شک نشته چې د قریشو مقصد د پیغمبرﷺ له منځه وړل وه، خو هغه دوو زړورو قریشو سعد او طلحه رضی الله عنهما خپله بېساري اتلولي او زړورتوب وښود. سره له دې چې هغوی له دوو تنو څخه زیات نه وو، خو مشرکان یې پرې نښودل چې خپل بد مقصد پوره کړي.

په دې خطرناکو شیبو کې الله تعالی د پیغمبرﷺ د ساتنې لپاره خپلې دوې نژدې پرښتې(جبرائیل اومیکائیل علیهما السلام) راولیږلې چې له هغه نه یې سخته دفاع کوله، خو پیغمبرﷺ په دې دردمنو شیبو کې

د خپلو سخت زړو دښمنانو په هکله د غم، آفت او بلا غوښتلو پرځای دښیگڼې دعا وکړه، ویې فرمایل: ای الله! زما قوم ته ښښنه وکړه، ځکه هغوی نه پوهیږي. ای الله! زما قوم ته هدایت وکړه؛ ځکه هغوی نه پوهیږي.

## د پیغمبرﷺ گرد چاپیره د صحابه وو رضي الله عنهم راټولیدل:

د پیغمبرﷺ غوره ملگرو، چې په جگړه کې یې له ټولو نه مخکې د مسلمانانو په صفونوکې ځای درلود، د رسول اکرمﷺ د غږ په اوریدلو یې په ډیره بیړه هغه ته ځانونه راورسول او پیغمبرﷺ یې ټپې اووه تنه انصاریې شهیدان ولیدل.

لومړني کسان چې پیغمبرﷺ ته راورسیدل: ابوبکر صدیق او ابو عبیده بن جراح رضی الله عنهما وو.

د مسلمانانو له اتلې ډلې څخه: علی بن ابی طالب، ابو دجانه، مصعب بن عُمیر، سهیل بن حُنیف، مالك بن سنان، ام عمار(نسیبه بنت کعب) قتاده بن نعمان، عمر بن خطاب، حاطب بن ابی بلتعه، او ابوطلحه رضی الله عنهم د پیغمبرﷺ گرد چاپیره راغلي وو. ابو دجانه او ابوطلحه رضي الله عنهما د دیوال په څیر د پیغمبرﷺ په مخکې ولاړ وو او د دښمن د حملو په وړاندې یې خپلې سینې سپر کړې وې، ترڅو پیغمبرﷺ له غشو څخه وساتي.

## د لوست عبرتونه

- د احد جگړه د الله ﷻ له لوري د مسلمانانو لپاره یوه لویه آزموینه وه.
- د امیر د پیروۍ لازموالی په هغه څه کې چې گناه نه گڼل کیږي.
- د پیغمبر د هغو یارانو د فضیلت اثبات چې د جنگ په میدان کې یې مقاومت کړی.
- دپیغمبرﷺ میړانه بیساري وه. په هغو شیبوکې چې ټول له ویرې سره مخامخ وو، هغه د غره په څیر ټینگ ولاړ و.

## ارزونه

۱ـ په احد کې اسلامي لښکر له بریالیتوب څخه وروسته ولی له ماتې سره مخامخ شو؟

۲ـ هغه د الله تعالی دښمنان چې په پیغمبرﷺ یې حمله وکړه، څه نومیدل او کوم کرغیړن عملونه یې ترسره کړل؟

۳ـ د جگړې په ډگر کې د صحابه وو له ډلې څخه لومړی چا ځان رسول اکرمﷺ ته ورساوه؟

٤ـ هغه دوه قریشي صحابه، چې له اوو تنو انصارو سره یې یوځای د رسول اکرمﷺ څخه دفاع کوله، څه نومیدل؟

## کورنۍ دنده

د احد د جگړې څخه مو څه درسونه او عبرتونه واخیستل، په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

# د احد غزا (۴)

## د محاصرې ماتیدل

د اسلامي لښکر بیرغچي، مصعب بن عمیر رضي الله عنه له ډېر مقاومت څخه وروسته په شهادت ورسید. د الله رسول صلی الله علیه وسلم بیرغ علي بن ابی طالب رضي الله عنه ته ورکړ. هغه هم په زیاته میړانه وجنګید. همدارنګه نور صحابه رضي الله عنهم چې د جګړې په ډګر کې حاضر وو په زړورتوب یې جنګ او دفاع وکړه، په دې توګه پیغمبر صلی الله علیه وسلم وکولای شول د خپل لښکر لپاره، چې محاصره وو، لاره خلاصه کړي.

## د شهیدانو مثله کول

مشرکان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له حالت څخه خبر نه وو. په دې یقین وو چې هغه وژل شوی دی، نو څکه خپل تم ځای ته راوګرځېدل او د مکې په لوري ستنیدو ته چمتو شول، د مشرکانو یو شمیر نارینه او ښځو د مسلمانانو د شهیدانو جسدونو ته مخه کړه هغوی یې مثله کړل؛ غوږونه، پزې او نور ځیني غړي یې ترې پرې کړل. د عتبه لور هندې د حضرت حمزه رضي الله عنه ځګر راوویستلو، په غاښونو یې وژوولو او نورو ښځو د شهیدانو له غوږو او پزو څخه خپلو ځانو ته د پښو او غاړې آمېلونه جوړ کړل.

کله چې مشرکان په بشپړه توګه د ستنیدو لپاره چمتوشول، ابوسفیان د مؤمنانو د تعقیب لپاره غره ته وختلو، چیغې اوناري یې کړې: آیا ستاسې په منځ کې محمد شته؟ مسلمانانو ځواب ورنه کړ، ویې ویل: آیا ستاسې په منځ کې د ابوقحافه زوی (ابوبکر صدیق رضي الله عنه) شته؟ مسلمانان بیا هم چوپ پاتې شول. بیا یې وویل: آیا ستاسې په منځ کې عمر بن خطاب شته؟ بیا یې هم ځواب وانه ورید؛ څکه هغوی پیغمبر صلی الله علیه وسلم له ځواب ورکولو څخه منع کړي وو، خو عمر رضي الله عنه ونه شو کړای له ځواب ورکولو څخه ځان وساتي، ویې فرمایل: ای د الله دښمنه د هغو چې دې نومونه واخستل ټول ژوندي دي. او الله یې په خپل فضل اوکرم سره ساتي.

ابوسفیان له مسلمانانو سره د خو پوښتنو او ځوابونو له تبادلې څخه وروسته له خپل لښکرسره یوځای د ستنیدو لاره ونیوله. او په راتلونکي کال یې په بدرکې د مخامخ جګړې ژمنه وکړه.

## د شهیدانو خاورو ته سپارل

پیغمبرﷺ په خپله د شهیدانو په جنازه کې حاضر و. د صحابه وو رضي الله عنهم هغې ډلې ته چې خپل شهیدان یې مدینې منورې ته وړي وو، امر وکړ څو هغوی شهیدان بېرته احد ته را ورسوي. شهیدان یې له خپلو جامو سره یوځای، پرته له غسل ورکولو څخه، په همغه ځای کې چې په شهادت رسیدلي وو، خاورو ته وسپارل.

پیغمبرﷺ دوه یا درې تنه په یوه قبرکې ایښودل اوکله یې هم دوه نارینه په یوه جامه کې نغښتل.

رسول اللهﷺ د شهیدانو د سردار حضرت حمزهؓ په لیدلو چې تره او رضاعي ورور یې و، زیات غمجن شو او ویې ژړل او امر یې وکړ چې هغه له عبدالله بن جحش سره، چې دحضرت حمزهؓ خوریی او رضاعي ورور و، یوځای خاورو ته وسپارئ.

## مدینې منورې ته راستنیدل

کله چې رسول اکرمﷺ د شهیدانو له ښخولو څخه وزګار شو، د مدینې منورې په لوري روان شو، د همغې ورځې د ماښام په مهال، چې د هجرت دریم کال او د شوال د میاشتې اوومه نیټه وه مدینې منورې ته راغی.

مسلمانانو ته دې جګړې ډېر درانه تلفات رسولي وه. اویا تنه چې زیاتره (٦٥ تنه)یې انصار وو په شهادت ورسیدل، خو له مشرکانو څخه ۳۷ تنه ووژل شول.

مسلمانانو د احد له غزا څخه له راستنیدو وروسته، سره له دې چې ډېر سخت ستړي او ستومانه وو، شپه د چمتووالي په حال تیره کړه او مدینې منورې ته د داخلیدو د لارو او د اسلامي لښکر له ستر قوماندان (پیغمبرﷺ) څخه یې په کلکه ساتنه کوله.

## د حمراء الاسد غزا

پیغمبرﷺ شپه د جګړې په اندیښنه کې تیره کړه، له دې څخه ویریده چې کیدای شي مشرکان متوجه شي چې د جنګ په میدان کې یې له کامیابۍ څخه سمه ګټه پورته نه کړه، بیا جنګ ته را وګرځي. له دې کبله پیغمبرﷺ هوډ وکړ چې د مکې لښکر تعقیب کړي، سبا پیغمبرﷺ بیا خلک له دښمن سره د مقابلې لپاره راوغوښتل او ویې فرمایل: پرته له هغو کسانو څخه چې د احد په جګړه کې حاضر وو، له موږ سره دې نور خلک نه راځي. پیغمبرﷺ له هغو مسلمانانو سره چې

د احد په غزا کې یې شرکت کړی و، یو ځای له مدینې منورې څخه وخوځېد او د حمراءالاسد سیمې ته چې د مدینې منورې په اته میلي (کابو په ۱۵ کیلومترۍ) کې پرته ده، ورسید. د څه وخت لپاره هلته تم شو. پیغمبرﷺ د یوې رواني جګړې لپاره معبد بن ابی معبد خزاعی چې نوی مسلمان شوی و، واستوه ترڅو ابوسفیان د جګړې له ادامې څخه منع کړي.

د پیغمبرﷺ اندېښنه د قریشو د لښکر له بیرته راګرځېدو څخه په بشپړه توګه په ځای وه، ځکه قریش چې کله د روحاء سیمې ته ورسیدل، یو بل یې ملامت کړل او هوډ یې وکړ، ترڅو په مدینه یرغل وکړي، خو مخکې له دې چې ابوسفیان خپل لښکر له تمځای څخه وخوځوي، معبد چې ابوسفیان یې له اسلام راوړلو څخه خبر نه و، هغوی ته ور ورسید. ابوسفیان ترې وپوښتل له هغه ځایه چې راغلی یې څه خبر لرې؟ معبد وویل: محمد او ملګري یې له مدینې منورې څخه د باندې راوتلي وو او یو لوی لښکرستاسې په لټه کې دی. مخکې له دې چې تاسې تمځای پرېږدئ، د هغوی د لښکرو د مخې کسان تاسو ته را رسیږي. ابوسفیان وویل: په الله قسم هوډ لرو چې بیرته ستانه شو او د هغوی ریښې را وباسو.

معبد وویل: داسې مه کوئ، زه ستاسو ښیګڼه غواړم. د مکې د لښکر هوډ سست شو. ډار او تشویش ور باندې غالب شو او د مکې په لوري ستنیدلو ته یې ترجیح ورکړه. رسولﷺ درې ورځې هلته پاتې شو. بیا مدینې منورې ته ستون شو.

## (۲) هځونه

ګرانو زده کوونکو، د مشرکانو له طرفه د شهیدانو د مثله کولو او حمراء الاسد ته د پیغمبرﷺ د لښکر ایستلو لاملونه څه وو؟

## د لوست عبرتونه

د احد له غزا او هغو آزموینو څخه چې مسلمانان ورسره لاس او ګریوان وو، لاندې حکمتونه اخیستل کیږي.

- د بدو پایلو سره د مسلمانانو مخامخ کیدل د پیغمبرﷺ له امر څخه د سرغړونې په وخت کې چې لکه څرنګه غشیو ویشتونکو خپل ځای پرېښود.
- پیغمبران علیهم السلام او پیروان یې د تل لپاره د الله تعالی له خوا ازمایل شوي دي. په دې کې د

الله تعالی حکمت دا دی که هغوی هر وخت کامیاب شي،نو بیا ټول کافران هم د مسلمانانو له ټولي سره یوځای کیږي، نو هغه څوک چې په ایمان کې رښتنوني دي، له نورو څخه نه پیژندل کیږي. همدارنگه که پیغمبران پرله پسې ماتې وخوري، د پیغمبری مقصد نه پوره کیږي. له دې امله الهي حکمت دا غواړي چې د پیغمبرانو په چاروکې ماتې اوکامیابی دواړه موجودې وي.

• د منافقانو څیرې د احد له جگړې څخه مخکې پټې وې، خوکله چې دا پیښه رامنځ ته شوه، منافقانو خپل کړه وړه څرگند کړل او مسلمانان په دې پوه شول چې په خپلو کورونو کې کینه لرونکي دښمنان لري، نو باید له هغوی څخه ځان لرې وساتي او د مقابلې لپاره یې چمتو وي.

• په ځینو ځایونوکې په الهي کومک او ملاتړکې تأخیر د نفس له غوښتلو سره د یو ډول مقابلې او د کبر د ماتوالي لامل گرځي، له دې امله کله چې مسلمانان د الله له خوا وازمویل شول، صبر او استقامت یې غوره کړ، خو منافقانو له بې صبرۍ او عذر او زارۍ څخه کار واخیست.

• د الله تعالی دا اراده وه چې خپل دښمنان هلاک کړي. له دې امله داسی شرایط او حالات یې برابر کړل چې د هغوی د هلاکت لامل وگرځي.

• د اسلام څخه په دفاع او د پیغمبرﷺ په حمایت کې د صحابه کرامو ثابت قدمي او صبر ددوي په عظمت، لوړ شان او د اسلام په نشر کې ددوي د ستر رول یو بل دلیل دی.

## ارزونه

۱ـ پیغمبرﷺ څه ډول د کفارو له محاصرې څخه ځان خلاص او خپلو ملگرو ته ورسید؟

۲ـ د احد شهیدان څرنگه خاورو ته وسپارل شول؟

۳ـ د احد د جگړې د دواړو خواوو انساني تلفات څو تنه وو؟

٤ـ حمراء الاسد په کوم ځای کې پروت دی او پیغمبر ﷺ ولې هغه ځای ته ولاړ؟

٥ـ د احد په غزاکې له الهي حکمتونو څخه دوه حکمته بیان کړئ.

## کورنۍ دنده

داحد د غزا عبرتونه خلاصه اوپه خپلوکتابچوکې یې ولیکئ.

# د احد په غزا کې د مسلمانو ښځو رول

د احد په جګړه کې مسلمانو ښځو د مجاهدو نارینه وو ترڅنګ فعاله ونډه درلوده، چې په دې لوست کې ورته لنډه اشاره کیږي.

## د احد په غزا کې د مسلمانو ښځو فعال حضور

د احد غزا لومړنۍ جګړه وه چې مسلمانو ښځو مجاهدینو ته اوبه رسولې او د هغوی د ټپونو درملنه یې کوله. سربیره پردې په دې جګړه کې اتلې ښځې چې د جګړې میدان ته ور داخلې شوې وې، په تورو او لندیو سره د مشرکانو په وړاندې زړورې وجنګیدلې. له دې ډلې ښځو څخه، چې د احد په غزا کې یې شرکت کړی و، کولای شو د ام المؤمنین عائشې، د عمار مور، د جحش لور حمنې، د سُلیط مور، د سُلیم مور او یوې انصاري ښځې رضي الله عنهن نومونه واخلو چې پیغمبرﷺ او راشدینو خلفا وو ورته په درنه سترګه کتل.

یوه ورځ امیر المؤمنین عمرؓ د مدینې منورې په ښځو جامې ویشلې. په پای کې یوه جامه پاتې شوه. ځینو حاضرینو وویل: ای امیر المؤمنین! دغه جامه دې خپلې مېرمنې ((د علي ؓ لور ام کلثوم)) ته ورکړه.

عمرؓ وویل: له ټولو څخه د سُلیط مور مستحقه ده، ځکه د انصارو ښځو له ډلې څخه ده او له هغو کسانو څخه ده چې له پیغمبرﷺ سره یې بیعت کړی او د احد په ورځ یې موږ ته له اوبو نه ډک مشکونه راوړل.

انس بن مالکؓ روایت کوي: خلکو د احد په ورځ ماتې وخوړه. رسول اللهﷺ یې یوازې پریښود. ما د ابوبکر صدیقؓ لور عایشه او د سلیم مور(خپله مور)مې ولیدې، چې لمنې یې بډ وهلې وې. ما یې پنډۍ لیدلې، مشکونه یې په شا باندې راوړل. هغه یې د خلکو په خولوکې ورتویول بیرته به ستنیدلې بیا به یې ډکول اوراتلې به دخلکو په خولو کې به یې خالي کول.

دجحش لور حمنې رضي الله عنها تږي مجاهدین په اوبو مړول او د ټپیانو درملنه یې کوله. همدارنګه ام ایمن رضی الله عنها به ټپیانوته اوبه ورکولې.

کله چې مسلمانان په جنګ کې مات شول، زیاتره یې د جنګ له میدان څخه وتښتیدل، د

عبدالمطلب لور صفيې (د رسول اللهﷺ عمې) نیزه په لاس وه، د جګړې میدان ته راغله. او د مسلمانانو روحیه یې پیاوړې کوله.
ام ایمن له جنګ څخه د تښتیدونکو کسانو له یوې ډلې سره مخامخ شوه. د هغوی پر مخونو باندې یې خاورې وروشیندلې. داسې یې تهدیدول: دغه دوك (یوه آله ده چې له وړیو او پنبې څخه تار پرې جوړیږي.) واخله او څرخ یې کړه.
د عماره مور(د كعب لور نسیبې)رضي الله عنها روایت کړی: په لومړۍ ورځ له مدینې منورې څخه راووتلم چې ووینم خلك څه کوي. د اوبو ډك مشك را سره و. پیغمبرﷺ ته وروړسیدم چې د خپلو ملګرو ترمنځ په ښه بڼه د جنګ په حالت کې و او برلاسي هم د مسلمانانو په برخه وه، خو کله چې مسلمانانو ماتې وخوړه، له پیغمبرﷺ څخه د دفاع په هوډ ستنه او په جنګ بوخته شوم. په توره مې له پیغمبرﷺ څخه دفاع کوله. په لندۍ مې غشي وارول، تر دې چې ټپي شوم.
په دې جنګ کې د عمار مور رضي الله عنها پرته له ډال څخه جنګ کاوه، پیغمبرﷺ هغه شخص ته چې له جنګ څخه د تیښتې په حالت کې و، امر وکړ: "ډال دې د عمار مور ته پریږده. د عمار مور ډال واخیست. له هغه څخه یې د پیغمبرﷺ د دفاع او ساتنې لپاره کار اخیست.
عمر بن خطاب رضي الله عنه روایت کوي: له پیغمبرﷺ څخه مې اوریدلي چې فرمایل یې: هیڅ وخت(په احدکې) مې ښي اوچپ لوري ته نه دي کتلي خو د عماره مور مې لیدله چې نژدې به مې ولاړه وه او له ما څخه به یې دفاع کوله.
په دې جګړه کې د عماره مور رضي الله عنها دولس ټپونه وخوړل، خو له ابن قمئه څخه په غاړه خوړلی ټپ یې تر ټولو لوی و، چې یو کال یې درملنه کوله.

## د احد په غزا کې د مسلمانو ښځو صبر او زغم

د احد د جګړې له پای ته رسېدلو څخه وروسته صفیه رضي الله عنها د جګړې میدان ته راغله چې خپل ورور حضرت حمزه رضي الله عنه له نژدې څخه ووینې. پیغمبرﷺ زبیر بن عوام (د صفیې زوی)ته وفرمایل:مور دې ووینه او بیرته یې وګرځوه، څو خپل ورور په دې حالت کې ونه ویني.
زبیر رضي الله عنه وویل: مورې، پیغمبرﷺ امرکړی چې وګرځې. صفیې وویل، ولې؟ زه خبره شوې یم چې ورور مې مثله شوی دی. دا هر څه د الله تعالی په لار کې دي. د الله جل جلاله خوښه، زموږ د خوښی لامل دی. ثواب او بدله یې له الله څخه غواړم او ان شاء الله صبر کوم.

کله چې زبیر ستون شو او رسول اکرمﷺ ته یې خبر ورکړ، ویې فرمایل: پرېږده. صفیهؓ راغله حضرت حمزهؓ ته یې وکتل، د جنازې لمونځ یې اداء کړ او د استرجاع آیت(انا لله وانا الیه راجعون) یې ووایه او له الله جل جلاله څخه یې هغه ته ښښنه وغوښتله.

کله چې رسول اکرمﷺ مدینې منورې ته ستون شو، حمنه(دجحش لور) ؓ ورسره مخامخ شوه. خلکو هغې ته د هغې د ورور(عبدالله بن جحش) د مرگ خبر ورکړ، هغې د استرجاع آیت ووایه او له الله تعالی څخه یې ورته د ښښنې غوښتنه وکړه. وروسته یې د ماما حمزه بن عبدالمطلب له مرگ څخه خبره کړه، بیا یې هم د استرجاع آیت ووایه، او د مغفرت غوښتنه یې ورته وکړه، بیا یې وروسته هغې ته د مېړه مصعب بن عمیر ؓ د مرگ څخه خبر ورکړ، دا ځل یې چیغه وکړه او په ژړا شوه پیغمبرﷺ وفرمایل: ((مېړه خپلې ښځې ته له ځانگړې مقام څخه برخمن دی)).

له سعد بن ابي وقاصؓ څخه روایت دی: پیغمبرﷺ د بني دینار د قبیلې د یوې ښځې په خوا کې تیریده چې مېړه، ورور او پلار یې د احد په جنگ کې له لاسه ورکړي وو. کله چې دهغوی د مرگ خبر ورته ورسید، ویې ویل: د الله رسولﷺ څرنگه دی؟ورته یې وویل: د فلانکي مورې! خیر او خیرت دی. پیغمبرﷺ د الله په فضل اوکرم سره هماغسې دی، چې ته یې خوښوې (په عافیت کې دی) ویې وویل: هغه ما ته راوښیئ څو ورته وگورم، پیغمبرﷺ ته یې اشاره وکړه تردې پورې چې هغې ولید، ویې ویل: هر غم له ستا(رسول اللهﷺ) څخه پرته کوچنی اوکم دی.

د عمرو بن جموح ښځه له یوه بار اوښ سره یوځای د جنگ له میدان څخه تیریده،عائشه ؓ او ملگرې یې مخې ته ورغلې. عائشهؓ وایي: "مور، دې ښځې ته ورنژدې شوو او ورته مو وویل: څه خبره ده؟" ویې ویل: "الله تعالی له پیغمبرﷺ څخه دفاع وکړه، له مومنانو څخه یې شهیدان واخیستل او کافران یې قهرجن ستانه کړل، چې هیڅ لاسته راوړنه یې نه درلوده، الله له مؤمنانو څخه قتال لرې کړ. پرته له شك او گومان څخه الله تعالی پیاوړی او برلاسه دی."

بیا یې خپل اوښ ته امر وکړ چې اخې شي(کیني)، هغې ته مو وویل: دا (بار) څه شی دی؟ ویې ویل: ورور او مېړه مې دي.

## د لوست عبرتونه

- عادت دادی چې دجگړې بار نارینه پورته کوي او ښځې دکور د چارو ترتیب، د زامنو روزنه او

د ژوند د چارو پر مخ بیول په غاړه لري، خو مسلمانو ښځو له خپلې تقلیدي دندې څخه زیات کار وکړ: دنارینه وو سره یوځای د جګړې میدان ته راغلې او د هغوی په څیرېې په جګړه کې رول ولوباوه.

• د صدر اسلام ښځو په اسلام کې د ښځې له رول څخه په سم او صحیح تعبیر سره وکولای شول د اسلامي دعوت چارې پرمخ بوځي او له هغه څخه دفاع وکړي او د نارینه وو سره یوځای اوږه په اوږه په جګړه کې فعاله ونډه واخلي. د نن ورځې ښځې هم کولای شي داسې عمل ترسره کړي.

• امهات المؤمنین او د پیغمبرﷺ عامې صحابیاني د مسلمانو ښځو لپاره یوه نمونه ده چې مسلماناني باید په هغوی پسې د اسلام په خپرولو او دعوت کې اقتداء وکړي.

• مسلمانه ښځه باید دعلم او اخلاقو په ګاڼه ښایسته وي او د پیغمبرﷺ دصحابیاتو په څېر د سرو سره د اسلام او مسلمانانو په خدمت کې ملګرې او یو ځای وي.

• بریالیتوب او ناکامي د الله تعالی په لاس کې ده، خو مسلمان پدې مکلف دی چې د دښمن په مقابل کې د مادي او معنوي وسایلو او اسبابو څخه کار اخیستلو ته اماده وي.

• د دښمن په مقابل کې د مسلمانانو د صف یو والی او د اختلاف څخه ځان ساتل د کامیابۍ دمهمو او بنیادي عناصرو څخه شمیرل کیږي.

• د امیر د حکم څخه نا فرماني، د دښمن په مقابل کې د ناکامۍ لاره برابر وي.

• دنیوی مال او متاع ته توجه او مخ اړول د مسلمانانو د ناکامۍ سبب ګرځي.

• مسلمانان د جنګ په میدان کې باید د ثابت قدمۍ او صبر څخه کار واخلي.

## ارزونه

۱ـ مسلمانو ښځو د احد په جګړه کې څه رول ولوباوه؟

۲ـ د احد په جګړه کې د مسلمانو ښځو د وسله والې جګړې او همدارنګه د هغوی د صبر او حوصلې په اړه یوه ژوندۍ بیلګه بیان کړئ.

۳ـ د هغو ښځو نومونه واخلئ چې د احد په جګړه کې یې شرکت کړی و.

## کورنۍ دنده

آیا نن ورځ مسلمانه ښځه کولای شي د صدر الاسلام د ښځو په څیر رول ولوبوي؟ ددې مطلب په اړه په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

# د احد او خندق د غزاګانو ترمنځ مهمې پېښې(۱)

## له زينب بنت خزيمه رضى الله عنها سره د پيغمبرﷺ نكاح

عبدالله د جحش زوى د نبي كريمﷺ د عمه زوى د احد په جنګ كې د شهادت درجې ته ورسيد او كونډه يې د زينب بنت خزيمه په نامه پاتې شوه چې بيا پيغمبرﷺ په نكاح كړه.

زينب د جاهليت په وخت كې د«ام المساكين» په نامه شهرت درلود، ځكه فقيرانو او مسكينانو ته يې خواړه وركول. زينب له اتو مياشتو وروسته د نبي كريمﷺ په ژوند كې وفات شوه. (رضي الله عنها).

## له ام سلمه سره د پيغمبرﷺ نكاح

هند د ابي اميه لور(ام سلمه) د خپل كاكا د زوى ابوعبدالله(ابو سلمه) د عبدالاسد له زوى سره نكاح كړې وه. دا ښځه او مېړه د هغو مسلمانانو له ډلې څخه وو چې دوه ځله يې هجرت وكړ؛ اول ځل حبشې ته او بيا مدينې منورې ته.

كله چې ابوسلمه د ټپونو له امله د احد په غزا كې په شهادت ورسيد، نو ام سلمه د پيغمبرﷺ حضور ته راغله اوېې ويل: ابو سلمه وفات شو؛ نبي كريمﷺ وفرمايل: ووايه: "يا الله هغه وبخښې او دده په ځاى ښه نيک شخص ماته را په برخه كړې."

ام سلمه وايي: "همغه وه چې الله له ابوسلمه څخه ښه او غوره عوض راكړ او هغه محمدﷺ و."

عمر بن ابو سلمه وايي،كله چې د ام سلمه شرعي عدت(څلور مياشتې او لس ورځې)تيرې شوې، نو ابوبكر له هغې څخه دنكاح غوښتنه وكړه، خو ام سلمه قبوله نه كړه، بيا حضرت عمر رضي الله عنه ددې غوښتونكى شو، هغه يې هم قبول نه كړ، بيا رسول اللهﷺ هغې ته څوك ورولېږه او له هغې څخه يې غوښتنه وكړه، ام سلمه دزړه په مينه دهغه غوښتنه ومنله.

## له ام سلمه سره د نبي كريمﷺ د نكاح حكمت

له ام سلمه سره د نبي كريمﷺ د نكاح هدف يوازې د هغې نيک او ستايلي صفتونه وو. كه چيرته د حديبيې په صلح كې د اسلام دې بي بي ته په ژور نظر توجه وشي، څرګنديږي چې د قريشو په ښځو كې تر ټولو هوښياره ښځه وه او ددې حكيمانه مشورې د حديبيې په صلح كې د اسلام په تاريخ كې له يوې ستونزې څخه مخنيوى وكړ. برسيره پردې ام سلمه د قريشو تر ټولو شريفو كورنيو څخه وه، پيغمبرﷺ غوښتل څو د دې د خپلولۍ په پيوند سره ددوى ملاتړ را جلب كړي او دوى اسلام راوړلو ته وهڅوي.

ام سلمه رضي الله عنها د امهات المؤمنين له ډلې څخه د پيغمبرﷺ وروستنۍ بي بي وه چې د هجرت په (٦١) كال وفات شوه.

## د حسن بن علي رضي الله عنهما زیږیدنه

د هجرت په څلورم کال د شعبان په میاشت کې حسن بن علي رضي الله عنهما دنیا ته راغی او د ده د زیږیدنې یو کال نه و تیر شوی چې حسین رضی الله عنه وزیږیده. پیغمبر ﷺ حسن او حسین نومونه ورته غوره کړل او بیا یې دده په غوږ کې آذان وکړ.

## د عبري ژبې په زده کولو د زید بن ثابت مکلفول

په همدې کال کې رسول الله ﷺ زید بن ثابت رضی الله عنه ته امر وکړ چې د یهودو عبري خط زده کړي، ترڅو که هغوی کوم خط لیکي، رسول الله ﷺ ته یې ولولي. زید بن ثابت رضی الله عنه په پنځلسو ورځو کې د عبري خط لوستل او لیکل زده کړل.

## د لوست ګټې

۱ـ د احد د شهیدانو له کونډو سره د نبي کریم ﷺ نکاح د دوی په قدر او منزلت دلالت کوي.

۲ـ د نبي کریم ﷺ نکاح څه شهواني انګیزه نه درلوده، بلکې د نبي کریم ﷺ د ټولو نکاح ګانو تر شا انساني، اخلاقي، اسلامي، ټولنیز او سیاسي هدفونه وو، چې نبي کریم ﷺ د خپلولۍ په پیوند سره د قبایلو ملاتړ او اسلام ته ددوی ترغیبول او د زړه ماتو زړونو ته تسلیت ورکول وو.

۳ـ د اولادونو د نومونو ایښودل باید په هغو نومونو وشي چې په ښېګڼه او نیکۍ دلالت کوي او له هغو نومونو څخه، چې منفی معنا لري ډډه وشي.

٤ـ د بهرنیو ژبو زده کول، که څه هم د دښمن ژبه وي، ضروري ده، ځکه نبي کریم ﷺ فرمایي: څوک چې دکومو خلکو ژبه زده کوي د هغوی د شر څخه ډاډمن کیږي.

۵ـ د پیغمبر ﷺ څخه په دفاع، د اسلامي دعوت په نشر او د زیاتو احادیثو په روایت کې د پیغمبر ﷺ د کورنۍ په ځانګړي ډول د امهات المؤمنین رول د پیغمبر ﷺ د اهل بیت د لوړ مقام ښکارندوی او د مسلمانانو په وړاندې د دوی د ستر مقام ښکارندویي کوي. د پیغمبر ﷺ له کورنۍ سره مینه او دوستي د ایمان له علامو څخه دي.

## ارزونه

۱ـ زینب د خزیمه لور او ام سلمه څوک وې او له دوی سره د نبي کریم ﷺ د نکاح هدف څه و؟

۲ـ حسن او حسین رضي الله عنهما په کومو کلونو کې دنیا ته راغلل؟

۳ـ نبي کریم ﷺ کوم صحابي ته د عبري ژبې په زده کولو امر وکړ؟

٤- د مؤمنانو له میرمنو څخه چې تر ټولو وروسته وفات شوه، څوک وه او په کوم کال وفات شوه؟

## کورنۍ دنده

د شهیدانو ورثې ته د تسلیت او ډاډ ورکولو په هکله په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

# د احد او خندق د غزاګانو ترمنځ مهمې پېښې (۲)

## الف_ د رجیع سریه:

د صفرې په میاشت کې د هجرت په څلورم کال یوه ډله خلك دعضل او قاره له قبیلو څخه د نبي کریمﷺ حضورته راغلل او له هغه څخه یې وغوښتل، چې یو شمیر خپل ملګري دوی ته ور ولیږي چې دوی ته د قرآن ښوونه وکړي او د دین احکام ور زده کړي. رسول اللهﷺ شپږ یا لس تنه خپل صحابه ورسره ولیږل. کله چې د رجیع سیمې (د رابغ او جدې ترمنځ چینې ته) ورسیدل، دلته دې خاینانو د هذیل له قبیلې څخه د دوی پرضد مرسته وغوښته او دا صحابه یې محاصره کړل. کله چې دې صحابه وو له تسلیمیدو څخه سرغړونه وکړه، نو اوه تنه یې شهیدان او درې نور(خبیب، زید بن دثنه رضي الله عنهما او یو بل تن یې بندیان کړل. خبیب او زید یې مکې ته یوړل او هلته یې وپلورل، څکه دې دواړو د بدر په جنګ کې د قریشو څه مشران وژلي وو. خبیب رضي الله عنه یوه موده بندي و او کله چې کفارو دده د وژلو اراده وکړه، په ډیرې میړانې سره یې مرګ ته لبیك ووایه او د یوه ویښته په اندازه له خپلې عقیدې او د پیغمبرﷺ له دوستۍ څخه وانه وړېده رضی الله عنهم.

زید بن دثنهرضي الله عنه صفوان بن امیه واخست او هغه یې د خپل پلار په غچ کې وواژه.

د سیرت په کتابونو کې د دې پاکو صحابوو څخه ډیر کرامتونه او خارق العاده کارونه ذکر شوي دي رضي الله عنهم.

### (۱) هڅونه

زده کوونکي دې د احد غزا او د هغې په پایلو بحث او څیړنه وکړي.

## ب_ د بئر معونه سریه:

په همدې میاشت کې چې د رجیع پیښه منځ ته راغله، یوه بله پیښه هم چې د رجیع له پیښې څخه ډیره زړه بوګنوونکې وه او د اسلام په تاریخ کې د بئر معونه په نامه یادیږي، رامنځته شوه او لنډه کیسه یې داسې ده:

ابو براء عامر بن مالك په مدينه منوره کې د نبي کريمﷺ حضور ته راغی. نبي کريمﷺ هغه اسلام ته دعوت کړ، خو ده نه اسلام راوړ او نه يې له اسلام څخه لرې والی غوره کړ. ده رسول اللهﷺ ته وويل: "ای د الله رسوله،"که چيرې خپل ياران د نجد خلکو ته وليږې چې هغوی ستا دين ته رادعوت کړي، هيله من يم، چې ايمان راوړي." نبي کريمﷺ د دوی د امنيت او ژوند په هکله په فکر کې ډوب شو، ابوبراء ورته ډاډ ورکړ او د دوی ژوند يې تضمين کړ. رسول اللهﷺ څلويښت يا اويا تنه صحابه د قرآن قاريان ورسره وليږل، تر دې چې د بئر معونه سيمې ته(د بني عامر او بني سليم د حره ترمنځ پرته سيمه ده) ورسيدل، د بنی سليم دريو قبيلو د رعل، ذکوان او عُصيه په نومونو د پيغمبرﷺ ملګري محاصره کړل او صحابه د خپل ژوند تر وروستۍ شيبو پورې په ميړانه وجنګيدل. پرته له يوه تن څخه نور ټول په شهادت ورسيدل.

ددې اويا تنو د شهادت خبر يو لوی غم او مصيبت و. رسول اللهﷺ د دې غمناکې پيښې په اوريدو د رجيع له پيښې څخه زيات خفه شو. غم او پريشاني پرې خپره شوه او ديرش ورځې يې د سهار په لمانځه کې د قنوت په ويلو سره د رعل، ذکوان، لحيان او عُصيه پر قبيلو لعنت ويلو.

## ج_ د نجد غزا

د هجرت په څلورم کال د نجد غزا د بني نضير له غزا څخه وروسته چې بحث يې را روان دی، پيښه شوه. د مسلمانانو کاميابۍ د مدينې منافقين دې ته مجبور کړل، چې له ښکاره چل او فريب څخه لاس واخلي. نبي کريمﷺ له دې فرصت څخه په ګټه اخيستلو هوډ وکړ، څو د بانډچيانو عربانو د ټکولو لپاره، چې د احد له جګړې وروسته يې د مسلمانو داعيانو سره خيانت کړی و او هغوی يې وژلي وو، اقدام وکړي. خو مخکې له هغه نبي کريمﷺ ته خبر راورسيد چې د بني محارب او بني ثعلب بانډچيان عربان، چې د غطفان د قبيلې سره اړيکې لري، پر مدينه د حملې هوډ لري. له دې امله پيغمبرﷺ پرته له ځنډه يو لښکر تيار کړ او د نجد دښتو ته يې وليږه. عربان په ويره کې شول او د مسلمانانو له مقابلې څخه يې اوږه خالي کړه او د غرونو څوکو ته يې پناه يوړه.

## د_ د دویم بدر غزا

د هجرت په څلورم کال د شعبان په میاشت کې رسول الله ﷺ له یو زر پنځه سوه صحابوو او لسو آسونو سره د مدینې څخه د مکې د مشرکانو د مقابلې لپاره د بدر په نیت وخوځید، ابوسفیان هم له دوو زرو قریشو او پنځوسو آسونو سره له مکې څخه راووت او د مر الظهران په سیمه کې میشت شو.

ابوسفیان چې په نه زړه له مکې څخه راوتلی و له پیغمبر ﷺ سره یې د جنګ په هکله ویره درلوده، خو وچکالي یې پلمه کړه چې د لښکر له خوا یې هیڅ ممانعت ونه شو او بېرته مکې ته ستون شو. مسلمانان په بدر کې اته ورځې د دښمن په انتظار کې پاتې شول او بیا په لوړ مورال مدینې منورې ته راوګرځیدل.

## هـ_ د دومة الجندل غزا

د بدر ثاني له غزا څخه شپږ میاشتې وروسته نبي کریم ﷺ ته خبر راورسیده چې د دومة الجندل شاوخوا قبیلې(شام ته په نږدې سیمه کې) د قافلو لارې نیسي د مسافرینو مالونه لوټوي او په دې برسیره په مدینه د یرغل لپاره چمتو والی نیسي.

نبي کریم ﷺ له زرو تنو صحابوو سره د هجرت په پنځم کال د ربیع الثانی په ۲۵ نیټه له مدینې څخه وخوځید، د شپې له مخې به یې په پټه توګه لاره وهله او د ورځې به یې په پټ ځای کې دمه کوله، ترڅو یې دښمنان په غفلت کې وي. د دومة الجندل قبایل هر لوري ته وتښتیدل او څاروي یې مسلمانانو په غنیمت ونیول. نبي کریم ﷺ پس له څو ورځو مدینې منورې ته راستون شو.

پیغمبر ﷺ په دې چټکو او غوڅو پریکړو او حکیمانه عمل سره په سیمه کې د سولې او امنیت په پراختیا او په حالاتو د برلاسی او د مسلمانانو په ګټه د شرایطو په تغیر بری وموند.د ده دکوښښونو په پایله کې منافقین چوپ او سست شول.

د یهودو یوه قبیله(بنی نضیر) د مدینې پرېښودلو ته مجبوره شوه او نور یهودیان دګاونډیانو د حقوقو او د وعدې اوژمنې په مراعاتولو ثابت پاتې شول.

بانډچیان عربان او قریش د مسلمانانو څخه په ویره کې شول او د دوی پر ضد یې له شرارت څخه لاس واخیست، مسلمانانو موقع ومونده څو د اسلام د خپریدو او تبلیغ لپاره هلې ځلې وکړي.

## د لوست ګټې

• د نبي کريمﷺ غزاګانو او لښکر ايستلو په سيمو او مختلفو قبيلو کې دفاعي جنبه درلوده.

• پيغمبرﷺ کوښښ کاوه څو په جنګونو کې دتل لپاره د عمل ابتکار ولري او دښمن له يرغل څخه مخکې په غفلت کې واچوي.

• د مديني منورې څخه د باندې، لرې ځايونو ته د دعوت او تبليغ لپاره د اصحابو ليږل د اسلام په دين کې د دعوت او تبليغ په لوړ مقام او ډېر ارزښت دلالت کوي.

• د دين او الله جل جلاله لارې ته دعوت کول د فداکاريو او ايثار غوښتونکی کار دی.

## ارزونه

١ـ د رجيع د سر يې اصلي لامل څه و او څرنګه پای ته ورسيده؟

٢ـ په بئر معونه کې څه پيښ شول او پيغمبرﷺ د کومو قبيلو په هکله د سهار په لمانځه کې يوه مياشت د قنوت دعا لوستله؟

٣ـ د دويم بدر د غزا لامل څه و؟ په لنډه توګه يې بيان کړئ.

## کورنۍ دنده

د اسلام د بلونکو په هکله د کفارو د ژمنو د ماتولو او خيانت په باره کې يوه مقاله وليکئ.

# د پیغمبرﷺ د وژلو لپاره د بني نضیر یهودو هلې ځلې

د احد په جنګ کې د مسلمانانو ماتې د مدینې یهودیان، چې دکعب بن اشرف له مړینې وروسته په ویره کې اخته شوي وو، هیله من کړل او یو ځل بیا یې دسیسې جوړولو او دوکه کولو ته مخه کړه. په خپلو کلاګانو کې یې د وسلې جمع کول او جګړې ته تیاری ونیو او بیا یې د نبي کریمﷺ د وژلو هوډ د دوکې او خیانت له لارې پیل کړ.

## د جنګ لاملونه او انګیزې

د بني نضیر غزا د احد له غزا څخه وروسته پیښه شوه. لاملونه یې زیات وو، خو تر ټولو غټ لاملونه یې دا دي:

### ۱ـ د ژمنې ماتول

بنی نضیرو ژمنه کړې وه چې په خپله سیمه کې به د مسلمانانو دښمنانو ته پناه نه ورکوي، دوی نه یوازې ژمنه ماته کړه، بلکې ابوسفیان یې پر مدینه باندې حملې ته تشویق او د مدینې له ضعیفو نقطو څخه یې خبر کړ. د دوی په لارښوونه ابوسفیان د دوو سوو سپرو په واسطه پر مدینې حمله وکړه.

### ۲ـ د پیغمبرﷺ د ترور لپاره هلې ځلې

پیغمبرﷺ له یوشمیر صحابه وو سره د بني نضیر سیمې ته داخل شو، تر څو له دوی څخه د بني عامر قبیلې د دوو تنو د دیت اداء کولو لپاره چې د عمرو بن امیه ضمري د اشتباه په وجه وژل شوي وو، مرسته وغواړي. مخکې د پیغمبرﷺ او ددوی ترمنځ د دیتونو د ورکولو په هکله ژمنه لاسلیک شوې وه. بني نضیرو په ډیر ورین تندي د پیغمبرﷺ هرکلی وکړ. بیا په خپلوکې په پټه جرګه شول او د پیغمبرﷺ د وژلو په څرنګوالي یې مشوره وکړه په پای کې دې موافقې ته ورسیدل چې د دېوال له سره چې رسول اللهﷺ ترې لاندې نژدې ناست و، د میچنې تیږه راوغورځوي. رسول اللهﷺ ته د الله له طرفه وحې راغله او خپل رسول یې د بني نضیر له ناوړه هوډ څخه خبر کړ. رسول اللهﷺ له ځایه جګ شو او په بیړه مدینې منورې ته راوګرځید. دلته یې له بني نضیرو سره د جنګ تصمیم

ونیوه او دوی ته یې اخطار ورکړ چې په لسو ورځو کې له مدینې منورې څخه ووځي. پیغمبرﷺ محمد بن مسلمه بني نضیرو ته ولیږه او ورته یې وفرمایل: "ولاړ شه، د بني نضیر یهودو ته ووایه رسول اللهﷺ تاسو ته رالیږلی یم او فرمایي چې زموږ له ځمکې څخه ووځئ. ځکه وروسته له دې چې له ما سره مو د خیانت هوډ وکړ، وعده او ژمنه مو ماته کړه، نو لس ورځې مهلت درکوم. که له لسو ورځو څخه وروسته څوک ولیدل شو د هغه غاړه به پرې کوم."

## (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، نبي کریمﷺ سره له دې چې له یهودو سره یې ژمنه او وعده لاسلیک کړې وه، ولې یې پر دوی دحملې هوډ وکړ. په دې هکله بحث او خیړنه وکړئ.

په دې جریان کې عبدالله ابن ابی بن سلول منافق یو څوک بني نضیرو ته ولیږه او دا خبر یې ورکړ چې ثابت قدم اوسئ. که چیرې ستاسو سره جنګ وشي موږ ستاسو ملاتړ کوو. او که تاسو وباسي موږ هم درسره وځو. له مدینې څخه مه وځئ زه دوه زره قومي او نور عربان له ځانه سره مل لرم. دا دوه زره تنه به له تاسو سره ستاسو کلاګانو ته ننوزي او د مسلمانانو په وړاندې به ستاسو ترڅنګ ځانونه وژني. د بني نضیرو زړونه د دې خبر په اوریدو سره قوي شول او د دوی رئیس حیی بن اخطب نبي کریمﷺ ته خبر ورکړ، موږ خپله منطقه نه پریږدو او څه چې ستاسو زړه غواړي هغه ترسره کړئ. نبي کریمﷺ او صحابه وو تکبیر وویل، بیا یې وفرمایل له یهودو سره جنګیږو.

د لسو ورځو مهلت له پوره کیدو وروسته بنی نضیر له مدینې څخه ونه وتل. د اسلام لښکر د دوی په لوري حرکت وکړ او د دوی سیمه یې پنځلس ورځې محاصره کړه.

پیغمبرﷺ امر وکړ چې د دوی د خرماوو باغونو ته اور واچوئ، ځکه دوی په خپلو مالونو او کروندو ډیر زړونه تړلي دي. د دې کار په ترسره کولو د دوی جنګي مورال ډیر ضعیف شو او په چیغو او نارو سر شول. د دوی په زړونو ویرې او نهیلی غلبه وکړه او دې یقین ته ورسیدل چې د مدینې له پریښودلو پرته بله چاره نه لري. بنی نضیرو نبي کریمﷺ ته یو نفر ولیږه او د زیات مهلت غوښتنه یې وکړه، څو وکولای شي له مدینې څخه ووځي. نبي کریمﷺ د دوی له غوښتنې سره

موافقه وکړه او ویې فرمایل: د ستاسو هر یو یوازې دا کولای شي چې د اوښ یو بار د خپل کور سامانونه پرته له زغرې او وسلې څخه له ځانه سره یوسي." بنی نضیر په دې حکم راضي شول.

بنی نضیر د نهیلۍ او حسد په پایله کې د خپلو کورونو بامونه او دیوالونه ونړول چې مسلمانان ترې ګټه وانخلي. همدارنګه په زیاته اندازه طلا او نقره یې له ځانو سره واخیسته او له شپږو سوو اوښانو سره یې د خیبر په لوري حرکت وکړ. وروسته یوشمیر شام ته ولاړل او څه په خیبر کې پاتې شول.

د بنی نضیرو د وتلو ټول اجراءات د الله د رسول په امر او د محمد بن مسلمه ﵁ تر نظر لاندې ترسره شول. قرآنکریم ددې پیښې تفصیل لکه د فئ احکام (هغه مال چې له کفارو څخه پرته له جنګه د اسلام د لښکر لاس ته ورغلی وي) د فئ د مال لګښت، د منافقینو دریځ د بني نضیرو په وړاندې، د یهودو د معنویاتو بیان د دوی ویره او نهیلي، په خپلو لاسونو دکورونو نړول، د ملکیتونو له منځه وړل، د مهاجرینو او انصارو فضیلت او داسې نور ... ټول د حشر په سورت کې بیان کړي دي.

کوم مالونه چې له بني نضیرو څخه پاتې شوي وو او یا د هغه په شان نور مالونه، د اسلام په شریعت کې "فئ" بلل کیږي، چې تصرف په کې یوازې د پیغمبرﷺ او یا د مسلمانانو د خلیفه حق ګڼل کیږي، ځکه رسول اللهﷺ هغه د مسلمانانو خصوصاً د مهاجرینو د مالي اړتیاوو د پوره کولو لپاره ولګاوه ترڅو د انصارو پېټی له دې پلوه سپک شي.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د غنیمت او "فئ" مال څه توپیر لري؟ بیان یې کړئ.

## د لوست ګټې

- دوکه او د ژمنې ماتول د یهودو پخوانی خوی او عادت دی.
- د بنی نضیرو په غزا کې پیل کوونکي په خپله همدوی وو او د پیغمبرﷺ حمله ددوی په وړاندې ددوی د خیانت عکس العمل و.

• که چیرې ثابته شي چې د جنګ په بهیر کې د دښمن د مالونو او کښتونو له منځه وړل د زیاتو وژلو او د جنګ اوږدیدلو مخه نیسي، نو په جنګ کې روا ده چې همداسې کار ترسره شي.

خو دا هم د یاد ولو وړ ده چې پرته له دې حالته پیغمبرﷺ د جنګ په بهیر کې مجاهدین د مالونو او کښتونو او ونو له منځه وړلو څخه منع کړي دي.

• فئ او غنیمت توپیر سره لري، په غنیمت کې مجاهدین ټاکلې برخه لري، خو د فئ لګولو صلاحیت د مسلمانانو تر مشر پورې ځانګړی دی.

## ارزونه

۱ـ د بنی نضیرو د غزا لاملونه او انګیزه څه وه، نوم یې واخلئ.

۲ـ پیغمبرﷺ ولې د بنی نضیرو سیموته تللی و؟

۳ـ وروسته له دې چې د بنی نضیرو دوکه او خیانت ثابت شو، نو پیغمبرﷺ څه هوډ وکړ؟

٤ـ د مدینې څخه له وتلو وروسته بني نضیر کوم لوري ته ولاړل او له ځانونو سره یې څه یوړل؟

٥ـ پیغمبرﷺ ولې ددوی دخرماوو باغونه او کښتونه وسوځول؟

## کورنی دنده

په قرآنکریم کې د حشر په سورت کې د بني نضیرو د غزا په اړه مسایل بیان شوي، تاسې دا مسایل د یوه معتبر تفسیر په رڼا کې وڅیرئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

# د ذات الرقاع غزا

د سیرت زیاتره علماء وایي چې د ذات الرقاع غزا د هجرت په څلورم کال د بنونضیرو له وتلو یوه نیمه میاشت وروسته واقع شوې ده.

## د غزا لامل

پیغمبرﷺ صحرایي قبیلو ته د اسلام د دعوت لپاره خپل اویا تنه صحابه کرام ولیږل، د نجد قبیلو خپله ژمنه ماته کړه او پر دې داعیانو یې حمله وکړه او ټول یې په شهادت ورسول. له بلې خوا پیغمبرﷺ ته خبر ورکړ شو چې د بنی محارب او بني ثعلبه قبیلې چې د غطفان له قبیلې سره اړیکې لري له رسول اللهﷺ سره د جنګ تیارې نیسي. نبي کریمﷺ له څلورو سوو او یا د اوو سوو جنګیالیو سره ددوی په لوري وخوځید د نومړو قبیلو ځمکو ته د نبي کریمﷺ په رسیدلو ټول وویریدل او تیښته یې غوره کړه. ښځې، ماشومان، مالونه او څاروي یې پریښودل او د غرونو سرونو ته یې پناه یوړه.

## د ویرې د لمانځه (صلاة الخوف) روا والی

له نومړو قبیلو سره د جنګ په مهال د لمانځه وخت راورسید. مسلمانانو ویره درلوده که چیرې په لمانځه بوخت شي، دښمن ناڅاپي حمله ورباندې ونه کړي. له دې امله د الله رسولﷺ په صحابه وو باندې د ویرې لمونځ اداء کړ. په داسې توګه چې یوې ډلې مسلمانانو د لمانځه لپاره صف وتاړه او بلې ډلې د دښمن په وړاندې سنګر ونیوه. نبي کریمﷺ له لومړنی ډلې سره یو رکعت لمونځ اداء کړ، دوی ولاړل او دویمه ډله راغله. نبي کریمﷺ یو بل رکعت لمونځ ورسره اداء او خپل لمونځ یې پوره کړ او سلام یې وګرځاوه، بیا هغو دوو ډلو خپل پاتې یو یو رکعت لمونځ وکړ او سلام یې وګرځاوه. په دې توګه پیغمبرﷺ او هرې ډلې یوازې دوه دوه رکعته لمونځ اداء کړ. یا

دا چې رسول اللهﷺ په هره ډله باندې دوه دوه رکعته لمونځ اداء کړ چې د پیغمبرﷺ لمونځ څلور رکعته او د صحابه وو دوه دوه رکعته شو او دوه دوه نورېې په تنهائي اداء کړل.

د ویرې د لمانځه روا والی په اسلام کې ددې عبادت پر فوق العاده اهمیت باندې دلالت کوي چې باید ان له دښمن سره په مخامخ توده او سخته جګړه کې هم ددې عبادت په هکله غفلت ونشي.

## (۱) هڅونه

ګرانو زده ګوونکو، د غطفان د قبیلو په وړاندې د پیغمبرﷺ یرغل آیا تهاجمي و او یا دفاعي؟ خپل نظر سره له دلیله بیان کړئ.

دا جنګ ځکه د ذات الرقاع په غزا یاد شو چې دګرمۍ څخه د نجات لپاره د مسلمانانو لښکر په خپلو پښو باندې ټوټې تړلې وې او یا دا چې په هغه سیمه کې په همدې نامه یوه ونه موجوده وه.

## د پیغمبرﷺ فوق العاده شجاعت او زړورتیا

پیغمبرﷺ د ذات الرقاع له غزا څخه مدینې منورې ته د راستنیدو پر مهال له خپلو صحابوو سره په یوه وادي(خوړ) کې، چې د اغزیو له بوټو څخه ډک و، دمه شول. صحابه د استراحت لپاره د ونو په سیورو کې سره خپاره شول، پیغمبرﷺ هم د یوې ونې تر سیورې لاندې استراحت وکړ او خپله توره یې په یوه څانګه کې راوځړوله.

جابر بن عبداللهؓ روایت کوي، چې څه وخت ویده شوو ناڅاپه د الله رسولﷺ موږ وغوښتلو، کله چې ورغلو، د ده سره یو باندچي سړی ناست و. رسول اللهﷺ وفرمایل: "زه ویده وم. دې سړي زما توره اخستې وه، راویښ او متوجه شوم، چې توره مې لوڅه دده په لاس کې وه، ویې ویل: "څوک دی چې تا له ما څخه وژغوري؟" ما وویل : الله!! دا دی ناست دی. رسول اللهﷺ هغه ته

څه جزا ورنه کړه.

په يو بل روايت کې راغلي دي کله چې رسول اللهﷺ وفرمايل: چې الله تعالی به زما حفاظت او ساتنه کوي، نو د باندېچي له لاسه توره په ځمکه ولوېدله، پيغمبر ﷺ توره را واخيستله او باندېچي ته يې وويل: اوس به تا څوک له ما څخه ژغوري؟ هغه وويل: هيڅوک. پيغمبرﷺ هغه ته ښښنه وکړه.

په دې پيښه کې د حضرت رسول اللهﷺ د نبوت دليلونه، بې سارې زړورتيا او د کړاوونو په وړاندې د صبر او استقامت او د جاهلانو په وړاندې د حوصلې ښکاره څرګندونه کيږي.

همدارنګه دا پيښه د دې څرګندونه کوي، چې الله ﷻ د خپل رسول ساتنه او ملاتړ کوي او خپله مهرباني او شفقت ورباندې پيرزو کوي. د هغه باندېچي مشرک زړه له ويرې او ډار څخه ډکوي او لاسونه يې په لړزه راځي او توره يې له لاسه په ځمکه لويږي او بيا په ادب سره د نبي کريمﷺ په حضور کې په زنګنونو کيني."

پرته له شکه دا پيښه ددې مبارک آيت مصداق ګڼل کيږي، چې فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ﴾ المائده/ ٦٧.

ژباړه: ای دالله استازيه، هر هغه څه چې د الله له لوري پر تا نازل شوي دي، هغه په بشپړه توګه او پرته له هيڅ ډول ويرې او ډاره خلکو ته ورسوه. که داسې دې ونه کړل نو د الله رسالت دې سرته نه دی رسولی. الله تا (دکافرانو د احتمالي خطرونو) او د خلکو له ضررونو او آزارونو څخه ساتی او الله کافرانو ته لارښوونه نه کوي.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د باندېچي او پيغمبرﷺ له پيښې څخه مو څه زده کړل؟ خپل نظر بيان کړئ.

## د لوست ګټې

۱ـ د ذات الرقاع غزا یوه دفاعي حمله وه او د هغو قبیلو د ټکولو لپاره پیل شوې وه چې له مسلمانانو سره یې دوکه او خیانت کړی و.

۲ـ لمونځ په اسلامي شریعت کې یوه ډېره مهمه فریضه ده، چې د جنګ، ناروغتیا او سفر په سختو حالتونو کې هم د انسان له غاړې نه ساقطیږي.

۳ـ نبي کریمﷺ تر ټولو خلکو ډېر زړور و. همدارنګه تر ټولو ډېر مهربان او عفوه کوونکی و. آن تردې چې د هغه دښمن سره یې هم مهرباني وکړه چې دده د وژلو په نیت یې توره پورته کړې وه او غچ یې ورځنې وانخیست.

٤ـ حضرت محمدﷺ د تل لپاره د الله تعالی د مهربانی په سیوري کې ژوند کاوه او الله تعالی د ده ژوند تضمین کړی و.

## ارزونه

- علماوو د ذات الرقاع غزا د تاریخ په هکله څه ویلي دي؟
- د ذات الرقاع غزا لامل څه و او ولې ورته ذات الرقاع ویل شوی دی؟
- د ویرې لمونځ ولې مشروع شوی او څرنګه اداء کیږي؟
- آیا د ذات الرقاع غزا موخې او هدفونه ترلاسه شول، که نه؟

## کورنۍ دنده

د باندېچي او پیغمبرﷺ له پېښې څخه مو څه ترلاسه کړل؟ د یوې مقالې په ترڅ کې یې ولیکئ.

# د بني مصطلق غزا

نبي کریمﷺ ته خبر راورسید چې حارث بن ابی ضرار د بني مصطلق د قبیلې رئیس له خپل قوم او یو شمیر هغو عربو سره، چې له ده سره یې اړیکې درلودې، له رسول اللهﷺ سره د جنګ لپاره چمتو شوي دي، رسول الله ﷺ ددې خبر د تحقیق او صحت لپاره بریده بن حصیب اسلمي د بني مصطلق قبیلې مشر ته ورولیږه، ترڅو د دوی له هوډ څخه خبر شي، بریده بیرته دخبرله تایید سره راستون شو او نبي کریمﷺ ته یې معلومات راوړل.

## له مدینې منورې څخه د صحابوو په ملګرتیا د پیغمبرﷺ وتل

کله چې پیغمبرﷺ د بني مصطلق قبیلې له هوډ څخه خبر شو، نو خپل ملګري یې په بیړه راوغوښتل اوله مدینې منورې څخه د دښمن د مقابلې په نیت ووتل.

حارث بن ابی ضرار یو جاسوس ولیږه چې د اسلامي لښکر خبر ورته راوړي، خو مسلمانانو د مشرکانو جاسوس ونیو او ویې واژه. کله چې د مشرکانو د جاسوس د وژنې خبر حارث او د هغه ملګرو ته ورسید، هغه عربان چې له ده سره وو خپاره شول. مسلمانان مریسع(دقدید په وادي کې یوه چینه ده) ته ورسیدل. جنګ او حملې ته چمتو شول. مسلمانانو صفونه تړلي وو او یو ساعت د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ غیشي وویشتل شول. بیا رسول اللهﷺ امر وکړ څو مسلمانان یو ځای په مشرکانو ګډه حمله وکړي. هماغه وو چې مسلمانان په دې حمله کې بریالی شول او دښمن ماتې وخوړه.

### (۱) هڅونه

زده کوونکي دې د بنی مصطلق غزا د لاملونو په هکله بحث او څیړنه وکړي.

## د بنی مصطلق په غزا کې د منافقانو رول

منافقانو د بني مصطلق له غزا څخه مخکې د عبدالله بن ابی په مشرۍ د اسلام او مسلمانانو په اړوند شدیده کینه په سینو کې ساتله.

کله چې پیغمبرﷺ له خپلو یارانو سره د بني مصطلق د غزا هوډ وکړ، نو منافقانو هم له مسلمانانو سره حرکت وکړ او د توبې سورت د ٤٧ آیت په مصداق منافقانو پرته د شر او فساد څخه بل

هدف نه درلود. په دې غزا کې یې هم د نبي کریمﷺ په ضد ناوړه تبلیغات پیل او په دوه ډوله یې د شر او فساد اور بل کړ:

## ۱ _ د مسلمانانو په منځ کې د اختلاف پیدا کول

نبي کریم ﷺ چې کله د بني مصطلق له غزا څخه فارغ شو. د مریسع چینې ته نژدې میشت شو دلته دوو تنو یومهاجر او بل انصارى د اوبو راوړلو لپاره یو له بل څخه مخکې والى کاوه. او یو له بل سره په جنګ شول، نو دواړو خپلو قومونو ته غږ وکړ.

پیغمبرﷺ ددې خبرې له اوریدو وروسته وفرمایل: "آیا یو او بل جاهلیت ته رابولئ، په داسې حال کې چې زه ستاسو په منځ کې یم. دا پرېږدئ ځکه دا ډېر منفور دعوت دی.

عبدالله بن ابی بن سلول چې د خپل قوم په منځ کې و، دې موضوع ته یې لمن وهله او ویل یې (چې کله مدینې ته ستانه شوو، نو عزتمن او قدرتمن خلك به خوار او بیوزلي خلك له مدینې څخه وباسي.) زید ابن ارقم چې په هغه مجلس کې حاضر وو د ابن ابی دغه ټولې بې شرمانه خبرې رسول اللهﷺ ته ورسولې. رسول الله ﷺ په لښکر کې د ګډوډۍ د مخنیوي په موخه لښکر ته امر وکړ چې د مدینې منورې په لور حرکت وکړي. پیغمبر د دې لپاره چې د مسلمانانو په صف کې اختلاف او ګډوډي رامنځ ته نشي د خپل حکیمانه سیاست له مخې یې عبدالله بن ابی بن سلول ته جزا ورنکړه، خو بیا عبدالله د عبدالله بن اُبی زوی خپل پلار مدینې ته له ننوتلو څخه منع کړ بیا رسول اللهﷺ هغه ته د ننو تلو اجازه ورکړه. د زید بن ارقم د خبرې تائید د وحیې په نازلېدو سره وشو: ﴿یَقُولُونَ لَئِنْ رَجَعْنَا إِلَى الْمَدِینَةِ لَیُخْرِجَنَّ الْأَعَزُّ مِنْهَا الْأَذَلَّ وَلِلَّهِ الْعِزَّةُ وَلِرَسُولِهِ وَلِلْمُؤْمِنِینَ وَلَكِنَّ الْمُنَافِقِینَ لَا یَعْلَمُونَ﴾ [المنافقون : ۸].

## ۲ _ د افک واقعه

پیغمبرﷺ په دې غزا کې حضرت عائشه رضي الله عنها له ځانه سره بېولې وه.کله چې له غزا څخه راستانه شول، په یوه دښته کې د ستړیا د رفع کولو لپاره دمه شول. حضرت بي بي عائشه د قضاى حاجت لپاره بیرون ولاړه او د راستنیدو په حال کې متوجه شوه، د غاړې هغه هار یې، چې له خور څخه یې امانت اخستی و، ورك شوی دی نو له دې امله دویم ځلي هغه ځاى ته ولاړه چې هار یې پکې ورك کړی و پدې وخت کې د مسلمانانو کاروان حرکت کړی و او هغو کسانو چې کجاوه پورته کوله دوی داسې ګومان وکړ چې حضرت عائشه رضی الله عنها یې په منځ کې ده. کجاوه یې په

اوښ بار کړه. حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها د خپل هار له پیدا کولو وروسته د لښکر د دمې ځای ته راورسیده، خو ځوك یې ونه موندل. په خپل ځای کیناسته او داسې فکر یې وکړ چې پیغمبر ﷺ حتماً بیرته راپسې راځي. خوب یوړه په دې حال کې صفوان بن معطل رضي الله عنه چې په لښکر پسې شاته راته، حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها ولیده او ویې پیژندله د "انا لله وانا الیه راجعون" په ویلو یې بي بي عائشه له خوبه راویښه شوه. صفوان د بي بي عائشې له ځنګه خپل اوښ چوکړ او دا په اوښ سپره شوه او بیا یې هیڅ خبره ونکړه.په دې توګه منافقانو د مؤمنانو په مور بي بي عائشه رضي الله عنها تور ولګاوه.

دا خبره د خلکو په منځ کې خپره شوه. په مدینه منوره کې عبدالله بن ابی بن سلول او دوستانو یې ددې خبرې په خپریدو کې ډیرې هلې ځلې وکړې. پیغمبر ﷺ چوپ و او د وحې راتګ هم څه وخت وځنډیده. نبي کریم ﷺ له خپلو یارانو سره مشوره وکړه چې آیا له حضرت عائشې څخه جلا شي یا نه؟ هر یوه صحابي د پیغمبر ﷺ په مخکې په دې هکله خپل خپل نظر څرګند کړ، خو حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها د خپلې ناروغۍ له امله د افک له موضوع څخه هیڅ خبره نه وه. کله چې له موضوع څخه خبره شوه، پیغمبر ﷺ ته یې موضوع یاده کړه. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: "ای عائشې، ستا په هکله ما ته داسې او داسې خبرونه رارسیدلي دي، نو که چیرته بې ګناه وې الله پاك به دې ژر پاکي را نازله کړي او که دې ګناه کړې وي، د الله په دربار کې توبه وباسه او ښښنه ورڅخه وغواړه" ځکه هرکله چې بنده په خپله ګناه اقرار وکړي او بیا د الله په حضور کې توبه وباسي، الله یې توبه قبلوي.

وروسته له څه وخته پیغمبر ﷺ ته وحې نازله شوه. پیغمبر ﷺ وخندل او ویې فرمایل: "ای عائشې! الله تعالی ته (له هغه څه چې خلکو پرې تورنه کولې) وژغورلې."

په دې ترتیب وروسته له یوې میاشتې د حضرت بي بي عائشې رضي الله عنها پاکي نازله شوه او د منافقانو رئیس رسوا او ذلیل شو.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د ښوونکي په مرسته د منافقت خطرونه او په ټولنه کې د هغه اغیزې وڅیړئ.

## د لوست ګټې

• د منافقانو کړو وړو او فتنو اچولو ته پوره پاملرنه کول.

• د مسلمانانو تر منځ د اسلامي یووالي ساتنه او د ستونزو او کړاوونو پر مهال د مسلمانانو د مشرانو له خوا د حکیمانه چلند غوره کول.

• د فتنو او کړاوونو د رامنځ ته کیدلو په وخت کې د نرم او حکیمانه سیاست غوره کول.

• له هر ډول تعصب څخه ځان ژغورل او هغه بد ګڼل، لکه څرنګه چې پېغمبر ﷺ فرمایلي دي: ((دعوها انها منتنة)) یعنې دا پرېږدئ، ځکه چې بدبویه څیز دی.

• د اسلام له نظره ټول مسلمانان سره ورونه دي د دوی په منځ کې قومي، ژبني... او نور توپیرونه ځای نه لري.

• د رسول الله ﷺ له اهل بیت سره دوستي کول د مسلمان ایماني دنده ده.

• د افک واقعه او د ام المؤمنین بي بي عایشې رضي الله عنها د طهارت ثبوت، د دې درنې مور په لوړ مقام دلالت کوي.

## ارزونه

۱ـ هغه تدبیرونه چې پیغمبر ﷺ د بنی مصطلق دغزا لپاره تیار کړي وو، ذکر کړئ؟

۲- د افک پیښه څنګه منځ ته راغله او بي بي عائشې رضي الله عنها څرنګه پاکي حاصله کړه؟

۳ـ د قومي عصبیت په وړاندې د پېغمبر ﷺ موقف څرنګه و؟

## کورنۍ دنده

په مدینه منوره کې د منافقانو دخطر ناک رول په هکله د سیرت او تفسیر له کتابونو څخه په استفادې سره یوه مقاله ولیکئ چې له لسو کرښو څخه کمه نه وي.

# د احزاب(خندق) غزا (۱)

## د غزا لاملونه او سریزې

د اسلام له قوت او خپریدو وروسته په جزیرة العرب کې یهودیان د خپلو دوکو او خیانتونو په نتیجه کې د اسلام اومسلمانانو په وړاندې خوار او ذلیل شول. د خپل غچ اخیستلو او کینې په هغه اور کې، چې ددوی په زړونو کې بل شوی و. سوځیدل. له دې امله د مسلمانانو په وړاندې د دسیسو او توطیو په فکر کې شول.

## د مسلمانانو په وړاندې د یهودو حرکتونه

د یهودو شل تنه مشران د مکې قریشو ته راغلل او دوی یې د پیغمبرﷺ پرضد جنگ ته وهڅول. او وعده یې ورکړه چې یهود به په دې هکله هر ډول مرستې او کومک څخه ځانونه ونه سپموي. قریشو ددوی پیشنهاد ومانه او داسې فکر یې کاوه چې دا اقدام به ددوی له لاسه تللې آبرو او عزت، چې په بدر کې له منځه تللی وو، بیرته دوی ته ترلاسه کړي.

همدارنگه دا پلاوی د غطفان قبیلې ته هم ولاړ او همغه وړاندیز چې قریشو ته یې کړی و، دوی ته هم وړاندې کړ. دوی هم ومانه، په دې توگه یهودو وکولای شول کافران د پیغمبرﷺ په ضد متحد کړي.

### (۱) هڅونه

گران زده کوونکي دې د مسلمانانو سره د یهودو دوکې او خیانتونه ذکر کړي.

## د مدينې په لوري د مشرکينو حرکت

د قريشو او کنانه قبيلو او د دوی ملګرو د جنوب له خوا د ابوسفيان تر مشرۍ لاندې له څلورو زرو تنو سره، بنوسليم، غطفان او بنو فزاره د ختيځ له لوري د عيينه بن حصن تر قوماندې لاندې، بنواشجع د مسعر بن رخيله تر رهبرۍ لاندې او همدارنګه بنو اسد او نور... له مخکنۍ پريکړې سره سم د مدينې په نيت راوخوځېدل او له څو ورځو وروسته يو لوی لښکر، چې شمير يې لسو زرو تنو ته رسيده دمدينې په شاوخوا کې راغونډ شو.

## د مشرکينو د حملې د مخنيوي لپاره د مدينې د مشرانو سره د پيغمبرﷺ مشوره

د هجرت په پنځم کال د شوال په مياشت کې کله چې پيغمبرﷺ د مدينې په لوري د مشرکينو د حرکت څخه خبر ترلاسه کړ. نو يو مشورتي مجلس يې ترتيب کړ. وروسته له خبرو اترو سلمان فارسيؓ يوه طرح وړاندې کړه، چې ټول پرې سلا شول. سلمانؓ وويل موږ د فارس په ځمکه کې، کله چې د دښمن له محاصرې څخه په خطر کې لويدو، نو په خپل شاوخوا کې به مو خندق کيندلو. پيغمبرﷺ دا پلان عملي کړ. مسلمانانو په ډېره مينه د خندق په کيندلو پيل وکړ او رسول اللهﷺ دوی هڅول او په خپله يې هم ورسره مرسته کوله. په همدې غزوه کې رسول اللهﷺ حضرت سلمان له خپلې کورنۍ څخه وباله او و يې فرمايل (سلمان منا اهل البيت) يعنی سلمان د اهل بيت څخه دی. د پيغمبرﷺ دا وينا سربېره پر دې چې د حضرت سلمانؓ په لوړ مقام دلالت کوي، په قومي او نژادي عصبيت د بطلان کرښه راکاږي او دا په ډاګه کوي چې د اعتقاد او ايمان اړيکې له ټولو نورو اړيکو څخه پياوړې او ارزښت لرونکې دي.

په صحيح بخاري کې له سهل بن سعدؓ څخه روايت دی، چې فرمايي: موږ د رسول اللهﷺ سره په خندق کې وو، هغه مو کيندلو. او خاورې مو په خپلو اوږو نقلولې، رسول اللهﷺ وفرمايل:

اللهم لاعيش الا عيش الآخرة فاغفر للانصار والمهاجرة

ياالله ريښتونی ژوند دآخرت له ژونده پرته نشته، يا الله انصارو او مهاجرينو ته بښنه وکړې.

## (۲) هڅونه

زده کوونکي دې د مشورې د ارزښت په هکله بحث او څېړنه وکړي.

### په دې غزا کې د پیغمبرﷺ د معجزاتو ښکاره کېدل:

په دې غزا کې دخندق دکیندلو په پر مهال له د نبي کریمﷺ څخه څه معجزې ښکاره شوي دي چې ځینې یې په لاندې ډول بیانوو:

حضرت جابر بن عبداللهرضي الله عنه پیغمبرﷺ ولید چې د ډېرې لوږې سره مخامخ دی، نو پسه یې حلال کړ او مېرمنې یې یوه پیمانه اوربشې اوړه کړې. جابررضي الله عنه په کراره له نبي کریمﷺ څخه وغوښتل چې له څو تنو صحابه وو سره د ده کور ته تشریف راوړي. نبي کریمﷺ له هغو ټولو صحابه وو سره، چې په خندق کې یې کار کاوه او شمیر یې زرو تنو ته رسیده، کور ته تشریف راوړ. ټولو له هغو خوړو څخه خواړه وخوړل او ماړه شول. دیګ همدارنګه ډک پاتې شو او خوټیده او د اوړو له هماغې یوې پیمانې څخه ډوډۍ پخیده.

په یو بل روایت کې براءرضي الله عنه ووېل: کله چې د خندق کیندلو ورځ را ورسیده. د خندق په یوه برخه کې له یوې تیږې سره مخامخ شوو، چې کلنګونو پرې هیڅ کار نه کاوه. ددې مسئلې په هکله موږ نبي کریمﷺ ته شکایت وکړ. نبي کریمﷺ راغی کلنګ یې واخیست ویې فرمایل: بسم الله او بیا یې په تیږه وار وکړ او و یې فرمایل: الله اکبر د شام(د فتح) کلیګانې ماته راکړل شوې او په الله قسم زه همدا اوس د هغې سرو سرو ماڼیو ته ګورم. بیا یې تیږې ته بل وار ورکړ اویوه ټوټه ورځنې جدا شوه او ویې فرمایل: الله اکبر! فارس ماته راکړ شو او په الله قسم همدا اوس د مداین سپین قصرونه (ماڼۍ) وینم.

بیا یې دریم وار په تیږه وکړ او ویې فرمایل: الله اکبر! د یمن کلیګانې ما ته راکړل شوې او په الله قسم زه له خپل ځایه د صنعاء د ښار دروازې وینم. په پای کې د خندق کیندلو کار له پروګرام سره سم پای ته ورسید.

## د لوست ګټې

- په مهمو چارو کې مشوره له شرعي احکامو څخه يو حکم او همدارنګه په مهمو کارونو د ستونزو لار پرانيزي.
- د اسلامي فتوحاتو خبرونه د شام، فارس او يمن په څمکو کې د پيغمبرﷺ له معجزو څخه ګڼل کيږي.
- په جهاد او دعوت کې صبر او استقامت د بريا او فتحې کلي ده.

## ارزونه

۱ـ يهودو له مسلمانانو څخه د غچ اخيستلو لپاره په څه اقدام لاس پورې کړ؟

۲ـ کومې قبيلې او په څه شمير مشرکان له مسلمانانو سره د جنګ لپاره د مدينې په شاوخوا کې راغونډ شول؟

۳ـ په دې غزا کې د نبي کريمﷺ څخه کومې معجزې ښکاره شوې دي؟

٤ـ خندق د چا په مشوره او دکوم هدف لپاره وکيندل شو؟

## کورنۍ دنده

له پيغمبرﷺ څخه چې په دې غزا کې کومې معجزې ښکاره شوې دي، په خپلو کتابچو کې يې وليکئ.

# د احزاب (خندق) غزا (۲)

## د جګړې جريان او پايلې

کله چې د خندق کار له پروګرام سره سم پای ومونـد، پيغمبرﷺ فرمان ورکړ چې ماشومان دې په کلاګانو کې وساتل شي او په خپله له درې زره تنو سره له مدينې منورې څخه راووت. خپله شا يې د سلع غره ته وګرځوله هلته يې کمين ونيو، د دوی او کفارو ترمنځ کيندل شوی خندق پرده او مانع و.

قريش له څلور زرو تنو سره او غطفان او ملګري يې له شپږو زرو تنو سره د مدينې منورې په چاپيريال کې ميشت شوي وو.

د مشرکانو د لوی لښکر په ليدلو د مسلمانانو عزم او هوډ لا ثابت او ايمانونه يې پياوړي شول، خو د کمزوري ايمان خاوندان او منافقان د مشرکانو د لښکر په ليدلو ډير انديښمن شول.

## له خندق څخه د څو تنو مشرکانو تيريدنه

مشرکانو چې کله وغوښتل په مسلمانانو يرغل وکړي او په زور مدينې منورې ته راننوځي په خپل مخ کې يې يو پلن او ژور خندق وليد چې مسلمانانو ته يې د دوی د رسېدلو مخه نيولې وه.

مشرکان په ډير قهر او غصه دخندق پر غاړو ګرځيدل ترڅو يو تنګ او کم سوری ځای ومومي چې له هغه څخه مدينې منورې ته راننوځي.

يوې ډلې مشرکانو، چې له هغو څخه عمرو بن عبدود او د ابوجهل زوی عکرمه هم وو، په خندق کې يې يو تنګ او کم سوری ځای پيدا کړ او له هغه ځايه را تير شول، حضرت علیؓ د څو مسلمانانو په ملګرتيا د هغه سوري مخه ونيوله. عمرو دخپلې مقابلې لپاره څوک راوغوښت.

حضرت علی کرم الله وجهه یې مقابلې ته راغی او عمرو یې وواژه، نورو مشرکانو تیښته غوره کړه، له کومې لارې چې راننوتي وو بیرته ولاړل او د عمرو له وژلو داسې ویریدلي وو چې عکرمه د تیښتې په وخت کې خپله نیزه پرېښې وه.

د مسلمانانو محاصره تقریباً یوه میاشت اوږده شوه اوپه دې موده کې دواړو خواوو یو او بل په غشیو ویشتل. په دې غزا کې د جنګ د شدت له امله له مسلمانانو څخه ځینې لمونځونه قضا شول او بیا یې د هغو قضایی راوړه. په دې غشو ویشتلو کې شپږ تنه صحابه شهیدان او لس تنه مشرکان له منځه ولاړل.

## د اسلام په تاریخ کې لومړنی جنګي روغتون

د احزاب یا خندق د غزا په جریان کې مسلمانانو د پیغمبرﷺ د امر سره سم د یوه جنګي روغتون ډېره کېښوده.

کله چې جنګ پیل شو، نو رسول اللهﷺ امر وکړ چې د جنګي روغتون ډېره کیږدي او یوه خیمه یې په نبوي مسجد کې و درلوله. یوه ښځینه صحابیه د رفیدې الاسلمی په نوم د زخمیانو دتېپو د ترلو لپاره و ټاکل شوه.

### (۱) هڅونه

ګران زده کوونکي دې د خندق په غزا کې د مسلمانانو زړورتیا او میړانې بیان کړي.

## د یهودو دسیسه او له مسلمانانو سره الهی مرسته

له بلې خوا د یهودو بني قریظه قبیله د مسلمانانو په ضد له مشرکانو سره یوځای شوه.کله چې د بنو قریظه وو د خیانت خبر نبي کریمﷺ ته ورسید، نبي کریمﷺ ځان په جامه کې ونغښت او په خپله

ډېره يې د څه وخت لپاره استراحت وکړ. بيا پورته شو، ويې فرمايل: "الله اکبر! ای مسلمانانو، د الله په فتح او مرسته خوشاله شئ!"

د مسلمانانو په دې انديښمن او پريشانه حالت کې نعيم بن مسعود غطفاني د نبي کريمﷺ حضور ته راغی او ويې ويل: ((يا رسول الله زه مسلمان شوی يم او قوم مې له مسلمانۍ څخه خبر نه لري، نو هر څنګه چې غواړې امر راته وکړه!)) نبي کريمﷺ وفرمايل: ((د دوی يووالی او وحدت له منځه يوسه او دوی زموږ له جنګه وويروه.)) نعيم په خپلې هوښيارتيا د بني قريظه وو، قريشو او غطفان قبيلو ترمنځ د بی باورۍ فضا رامنځ ته کړه، د مشرکانو ترمنځ وحدت له منځه ولاړ او ارادې يې سستې شوې.

رسول اللهﷺ د مشرکانو په ضد دعا وکړه او ويې فرمايل: ((ای الله! اې دکتاب راليږونکيه، اې ژر حساب اخيستونکيه، دې ډلو او حزبونو ته ماتې ورکړه او ددوی په بنسټ کې لړزه او تزلزل رامنځ ته کړه.))

الله تعالی د پيغمبر دعا قبوله کړه، دمشرکانو او کافرانو په صفونو کې اختلاف راغی او دوی يې يو د بل په هکله بې باوره کړل. سخت باد او طوفان پرې مسلط شو، خيمې يې ورشيرې او ديګونه يې چپه او آرامي يې ورختمه کړه.

نبي کريمﷺ حذيفهرضي الله عنه ور وليږه چې د مشرکانو خبر ورته راوړي. حذيفهرضي الله عنه دوی د کـــــوچيدو په حا ل کې وليدل. حضرت حذيفه د نبي کريمﷺ خدمت ته راغی او هغه يې له موضوع خبر کړ چې الله تعالی دښمن خوار او ذليل کړ او هيڅ موخې ته ونه رسيدل. اللهﷻ د جنګ کار يو طرف ته کړ او خپله وعده او ژمنه يې پوره کړه او د حزبونو او ډلو لښکرې يې د ماتې او مخ تورۍ سره مخامخ کړې.

## (۲) هڅونه

زده کوونکي دې په دې غزا کې د مسلمانانو سره د الله د مرستې او کمک څو نمونې ذکر کړي.

## د لوست ګټې

• د شمير زياتوالی دکاميابۍ او بريا لامل نه دی، بلکې د کاميابۍ لامل قوي ايمان او په عمل کې اخلاص دی.

• بې اتفاقي او دانه وانه کيدل د ناکامۍ لامل او اتحاد او يووالی دکاميابۍ سبب دی.

• مسلمانان مکلف دي چې د دښمن سره د مقابلې لپاره د ټولو ممکنو وسايلو څخه کار واخلي او وروسته په الله تعالی توکل وکړي، ځکه له مادي اسبابو څخه کار اخيستل په الله تعالی باندې له توکل کولو سره منافات نه لري.

## ارزونه

١ـ څومره مشرکانو په دې جنګ کې ګډون کړی وو؟

٢ـ پيغمبر ﷺ د احزابو په حق کې څرنګه ښيرا وکړه؟

٣ـ د احزابو په منځ کې څوک د تفرقې او بې اتفاقۍ لامل شو او څنګه عمل يې وکړ؟

٤ـ آيا په جنګ کې له مادي اسبابو څخه کار اخيستل په الله تعالی باندې له توکل کولو سره منافات لري؟

## کورنۍ دنده

د مشرکانو د ناکامۍ لاملونه په خپلو کتابچو کې په لنډه توګه وليکئ.

# د بني قريظه يهود او د ژمنې ماتول

په همغه ورځ چې پيغمبرﷺ مدينې منورې ته راستون شو، د ماسپښين په وخت حضرت جبريل عليه السلام نبي كريمﷺ ته راغی، دی يې د بني قريظه لورې ته په تللو تشويق كړ او د الهي مرستې زيری يې وركړ.

## پيغمبرﷺ په بني قريظه كې

نبي كريمﷺ جارچي ته امر وكړ چې خلكو ته اعلان وكړي او هرڅوك يې چې اوري د امر اطاعت دې وكړي چې: د مازديگر لمونځ دې له بني قريظه وو نه پرته بل ځای اداء نه كړي. ابن ام مكتوم يې په مدينه كې د ځان خليفه وټاكه، بيرغ يې حضرت علی كرم الله وجهه ته وركړ او تر ټولو د مخه د بني قريظه وو په لورې ولاړ. نبي كريمﷺ هم له يوې ډلې مهاجرينو او انصارو سره له مدينې منورې څخه د بني قريظه په لور روان شو. د مسلمانانو شمير دريو زرو ته رسيده او ديرش اسونه يې درلودل. دوی د بني قريظه وو د كلاگانو شاوخوا ته ورسيدل، يهوديان يې په خپله محاصره او كلابندۍ كې راوستل.

## بني قريظه وو ته د كعب بن اسد وړانديز

كله چې كلابندۍ ادامه ومونده، د بني قريظه وو رئيس، كعب بن اسد خپل قوم ته درې وړانديزونه وړاندې كړل: يا دا چې مسلمان شي او د محمدﷺ دين ومني، خو ځانونه او مالونه يې خوندي شي، يا دا چې خپلې ښځې او زامن په خپله ووژني تورې له تيكو را وباسي او له پيغمبرﷺ او يارانو سره يې وجنگيږي او يا د خالي په ورځ په دوكې سره چې مسلمانان د دوی له جنگ او حملې څخه ځانونه په امن گڼي، په پيغمبر او مسلمانانو يرغل وكړي.

## د ابو لبابه مشوره او اشتباه

بنو قريظه وو كعب بن اسد ته مثبت ځواب ورنه كړ او له دې پرته يې بله چاره نه درلوده چې د پيغمبرﷺ حكم ته غاړه كيږدي. دوی په خپلو كې له مشورې څخه وروسته له نبي كريم ﷺ څخه وغوښتل، څو ابو لبابه، چې له بني قريظه وو سره همژمنی و او له خپلې كورنۍ سره يې هلته ژوند

کاوه، د مشورې په غرض دوی ته ورولیږي. کله چې یې هغه ولید، نو سړي یې د احترام لپاره ودریدل. ښځو او ماشومانو یې په ژړا پیل وکړ. د ابو لبابه زړه ددوی په حال وسوځیده او ورته یې وویل: آیا دا غواړې چې د پیغمبرﷺ حکم ته غاړه کیږدو؟ ابولبابه ویل: هو! خپل حلق ته یې اشاره وکړه یعنې که دده حکم ته مو غاړه کیښوده وژل کیږئ، خو ډیر ژر پوه شو چې له الله او رسول سره یې خیانت وکړ. له دې امله د پیغمبرﷺ حضور ته راستون نشو، بلکې د نبوي جومات په لوري ولاړ، خپل ځان یې په یوې ستنې پورې وتاړه او قسم یې وکړ چې پرته له پیغمبره به هغه بل څوک خلاص نه کړي، کله چې دا خبر نبي کریمﷺ ته ورسید، ویې فرمایل: که ما ته راغلی وای، ده ته مې ښښنه غوښتله، خو اوس چې ده دا کارکړی دی زه دی نه خلاصوم تر څو یې چې الله توبه نه وي قبوله کړې. د ابو لبابه له مشورې سره سره یهودیانو، چې د مسلمانانو تر فشار لاندې وو او دا یو رواني جنګ و، د رسول اللهﷺ حکم ته غاړه کیښوده. بیا پیغمبرﷺ امر وکړ چې سړي یې بندیان او ښځې او ماشومان یې له سړیو څخه په یوه لرې ګوښه کې وساتئ.

## د سعد بن معاذرضي الله عنه حکمیت

د اوس قبیلې خلک له یهودیانو سره همژمني وو، دوی د پیغمبرﷺ حضور ته راغلل او له دوی څخه یې د نیک چلند غوښتنه وکړه. پیغمبرﷺ وفرمایل: آیا راضي کیږئ که ستاسو یو تن په دې هکله حکم وکړي؟ دوی وویل، هو، پیغمبرﷺ وفرمایل: دا حکمیت د سعد بن معاذرضي الله عنه کار دی، دوی وویل: راضي یو. نبي کریمﷺ څوک سعد بن معاذ ته ورولیږه، څکه هغه د احزاب په غزا کې د رسیدلي ټپ له امله په مدینه کې پاتې و. هغه یې په خپل مرکب سپور نبي کریمﷺ ته راووست. کله چې د پیغمبرﷺ حضور ته راورسید، پیغمبرﷺ خپلو صحابه وو ته وفرمایل: د خپل سردار د هرکلي لپاره ودریږئ. ده ته یې وفرمایل: ای سعده، دا قوم ستا په حکم راضی شوی دی. سعد وویل: آیا زما حکم ددوی په هکله لازم الاجراء دی؟پیغمبرﷺ وفرمایل: هو، ویې ویل: چې داسې ده نو زه د دوی په هکله حکم کوم چې سړي دې ووژل شي، ښځې او ماشومان دې بندیان شي او مالونه دې تقسیم شي.

پیغمبرﷺ وفرمایل: د دوی په هکله دې هماغه حکم وکړ، چې الله تعالی د اووم آسمان د پاسه کړی و.

د سعدؓ حکم په بشپړه توګه د انصاف نه ډک و، ځکه بني قريظه برسيره په دوکه او خيانت، چې مرتکب شوي وو، ۱۵۰۰ تورې، ۲۰۰۰ نيزې، ۳۰۰ جنګي زغرې او۵۰۰ ډالونه يې له مسلمانانو سره د جنګ لپاره تيار کړي وو چې له فتحې وروسته مسلمانانو ته د غنيمت په توګه پاتې شول.

## (۲) هڅونه

دا چې يهودو خپله ژمنه ماته کړه او د پيغمبر ﷺ او مسلمانانو سره يې خيانت وکړ- زده کوونکي دې په دې هکله په خپلو کې بحث وکړي.

## د سعد بن معاذؓ د حکم تطبيق

پيغمبر ﷺ امر وکړ چې د مدينې منورې په بازار کې دې کندې وايستل شي، دوی دې ډله ډله يوړل شي او غاړې يې دې ووهل شي. په دې توګه د دوی شپږ سوه يا اووه سوه تنه ووژل شول او له ښځو څخه يې يوازې يوه ښځه ووژل شوه، ځکه هغې د خلاد بن سويدؓ پر سر لويه تيږه غورځولې وه او هغه يې په شهادت رسولی و.

د بنی قريظه وو يو شمير خلک مسلمان شوي وو، د هغوی وينې، مالونه او کورنۍ په امن پاتې شوې.

کله چې د بنی قريظه وو کار يوې خوا ته شو، سعد بن معاذ ؓ د هغه زخم له امله چې د احزاب په غزا کې ورته رسيدلی و او زياتې وينې ترې بهيدلې د هغه په اثر شهيد شو. د ده د شهادت په هکله نبي کريم ﷺ وفرمايل: د پروردګار عرش د سعد د مرګ له امله ولړزيده. «صحيح بخاری او صحيح مسلم.» سعد ابن معاذ ډير لوی صحابي دی امام نسايي له ابن عمر څخه روايت کړی دی چې اويا زره (۷۰۰۰۰) ملايکې د ده جنازې ته حاضرې شوې وې، بيا پيغمبر ﷺ د بني قريظه وو غنيمتي مالونه د پنځمې برخې له بېلولو څخه وروسته د غزا په شريکانو وويشل.

## د ابو لبابه برخليک

ابولبابه شپږ شپې په ستنې تړلی پاتې شو چې د لمانځه په وخت کې به يې ښځې خوشې کاوه او بيا به ستنې ته راستنيده او ځان به يې تاړه. د سحر په وخت يې پيغمبر ﷺ ته د توبې د قبلېدو زيری راغی. خلکو وغوښتل چې هغه خلاص کړي، خو ده قبوله نه کړه چې له رسول الله ﷺ پرته يې بل څوک خلاص کړي. نو کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه د اداء کولو لپاره دده تر څنګ تيريده،

نو دی یی خلاص کړ.

د ابو لبابه په ایماني موقف کې د مسلمانانو لپاره دا درس دی چې که چېرې له مسلمان څخه گناه ترسره شي، سمدلاسه دې په خپله گناه پښېمانه شي او توبه دې وباسي.

الله ﷻ د احزاب او بني قریظه وو په غزاگانو کې د احزاب سورت څو آیتونه نازل کړل چې په هغو کې د پیښې جزئیات، د مومنانو او منافقانو حالت او بیا د احزابو ذلت او سپکتیا او د اهل کتابو د خیانت پایلې بیان شوې دي.

## د لوست گټې

• د بنی قریظه یهودو د دوکې، خیانت او ژمنې ماتولو بیان په هغه حساس وخت کې چې کفارو له مختلفو لوریو پر مدینه یرغل راوړی ؤ.

• د بنی قریظه یهودو د لوی خیانت له امله د سعد بن معاذ ﷺ مناسبه جزا ټاکل، ځکه که د مشرکانو او عربی قبیلو سره په مرسته ددوی برنامه بر لاسې شوې وای نو د مدینې نوي پر پښو دریدلي دولت حتماً سقوط کاوه.

• د ابو لبابه ﷺ ایماني دریځ، وروسته له دې چې په خپلې سهوې وپوهید، د هر مسلمان لپاره باید د لارې څراغ واوسي.

## ارزونه

۱ـ کعب بن اسد د بني قریظه وو رئیس د دوی د کلابندۍ پر مهال خپل قوم ته څه وړاندیز وړاندې کړ؟

۲ـ ابولبابه ﷺ بني قریظه وو ته څه مشوره ورکړه او د ده برخلیك څرنگه و؟

۳ـ بني قریظه وو د مسلمانانو په وړاندې د جنگ لپاره څومره وسله تیاره کړې وه؟

## کورنۍ دنده

گران زده کوونکي دې د سعد بن معاذ د حکمیت جریان په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د خندق غزا او حديبيې د سولې ترمنځ مهمې پېښې

## د سراياوو ليږل

پيغمبرﷺ د اسلامي دولت د واک خپرېدو او دهغه دستنو د ټينګښت لپاره دمدينې منورې په چاپيريال کې او د هغو قبيلو د تأديب لپاره چې د مسلمانانو په وړاندې يې دوکې او خيانتونه کړي وو، څه سرېې وليږلې چې دلته يې ځينې په لنډ ډول بيانيږي.

## ۱ _ د محمد بن مسلمه سريه

دا سريه پيغمبرﷺ د خندق له غزا وروسته قرطاء ته (د نجد په څمکه کې د يوه ځای نوم دی) وليږله.

دا سريه د هجرت په شپږم کال د محرم په لسمه د بني بکر بن کلاب د قبيلې د يوې څانګې لوري ته وليږل شوه، په پايله کې مسلمانان له زياتو غنيمتونو سره مدينې منورې ته راستانه شول. د بنديانو په منځ کې ثمامه بن اثال، چې د پيغمبرﷺ د وژلو قصد يې هم درلود، و. هغه يې د نبوي جومات په يوې ستنې پورې وتاړه. پيغمبرﷺ دده لوري ته راغی. ويې فرمايل: ای ثمامه څه درسره دي؟ ويې ويل: ای محمدﷺ زما سره خير دی، که مې وژنې يو روح لرونکی وژنې اوکه احسان وکړې په هغه چا احسان کوې چې شکر کوونکی دی، نبي کريمﷺ يې له څنګه تير شو او ځواب يې ورنه کړ. دويم ځلي چې کله نبي کريمﷺ يې له څنګه تيريده، خپله خبره يې تکرار کړه. پيغمبرﷺ هغه خوشې کړ. ثمامه د خرماوو باغ ته چې جومات ته نږدې و، ولاړ غسل يې وکړ او بيا راغی اسلام يې راوړ.

### (۱) هڅونه

زده کوونکي دې له ثمامه بن اثال سره د نبي کريمﷺ چال چلن په هکله فکر وکړي او د اسلامي بلنې په هکله دې د عفوې او تيريدنې په نتيجه بحث او خبرې وکړي.

## ۲_ ذي القصه ته د محمد بن مسلمه رضي الله عنه سريه

پیغمبرﷺ د هجرت په شپږم کال د ربیع الاول په میاشت کې محمد بن مسلمه له لسو تنو سره د ذی القصه یعنې د بني ثعلبه د ځمکو په لوري ولیږه. د بني ثعلبه قوم سلو تنو سنګر نیولی و، نو کله چې محمد بن مسلمه او ملګري يې ویده شول، مشرکانو ټول په شهادت ورسول، پرته له محمد بن مسلمه چې زخمي ورځنې وتیښتیده.

## ۳_ د ابو عبیده بن جراح رضي الله عنه سریه

د هجرت په شپږم کال د ربیع الاول په میاشت کې پیغمبرﷺ دا سریه د محمد بن مسلمه د ملګرو د شهادت وروسته سمدلاسه ذي القصه ته ولیږله. د سهار په وخت بني ثعلبه ته ورسید او په هغوی يې حمله وکړه. هغوی يې غرونو ته په تیښته مجبور کړل.

## ۴_ د زید بن حارثه سریه

د هجرت د شپږم کال په جُمادی الاولی کې زید بن حارثه رضي الله عنه له یو سل اویا تنه سپرو ملګرو سره د قریشو د تجارتي قافلې مالونه په غنیمت ونیول. ابو العاص د پیغمبرﷺ زوم، چې د دې قافلې مسؤول و، وتښتید. او ځان يې خپلې مېرمنې زینب رضي الله عنها ته ورساوه او پناه يې وروړه.

ابو العاص مکې ته ستون او مسلمان شو. هجرت يې وکړ. رسول اللهﷺ خپله لور زینب رضي الله عنها وروسته له دريو کلونو بېرته ده ته په نکاح کړه.

## ۵_ د خبط سریه

رسول اللهﷺ درې سوه سپاره د ابو عبیده رضي الله عنه تر قوماندې لاندې ولیږل. دوی د قریشو د کاروان د راتلو په انتظار کې وو. مسلمانان په دې سفر کې په سخته لوږه اخته شول. په څو ورځو کې يې شپږ اوښان حلال کړل او هغه يې وخوړل. له هغه وروسته الله تعالی یو سمندري حیوان له سمندر څخه را وایست، چې عنبر نومیده، یوه زیاته موده يې له هغه څخه ګټه پورته کوله.

## ۶- د بنی لحیان غزوه

بنو لحیان هغه کسان دي چې خیانت یې کړی ؤ او لس تنه صحابه یې شهیدان کړي وو.

پیغمبرﷺ د دوی د تأدیب لپاره د هجرت په شپږم کال په جمادي الاول کې د (۲۰۰) صحابه وو سره هغه خوا ته حرکت وکړ. کله چې بنی لحیان له دې حرکت څخه خبر شول غرونو ته وتښتېدل یو هم دوی ته په لاس ورنغی او بېرته مدینې منورې ته راستانه شول.

### (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د سریې او غزا تر منځ څه توپیر دی؟ او د دغو سرایاوو اغیزې د مدینې د اسلامي دولت په ټینګښت کې وارزوئ.

### د لوست ګټې

- د سریو د لیږلو موخه د اسلام د واکمنۍ او دبدبې خپرېدل او د خیانتونو مخنیوی وه.
- د سرایاوو لیږل د پیغمبرﷺ د صحابه وو تدریب او تمرین و او هم له قبایلو سره د مسلمانانو د چلن بیانوونکې وې.
- نبي کریمﷺ به تل له بندیانو سره ښه چلند کاوه، چې همدغه نیک اخلاق او غوره چلند د دوی د اسلام راوړلو لامل شول.

## ارزونه

۱_ په ذي القصه کې د محمد بن مسلمه د سریې پیښه څرګنده کړئ؟

۲_ مسلمانانو د قریشو له تجارتي مالونو سره څه وکړل او ولې؟

۳_ د خبط په سریه کې کومه ستر او مهمه پیښه منځ ته راغلې وه؟

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو، د سرایاوو د لېږلو پایله په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د حدیبیې سوله (۱)

## د پیغمبرﷺ د حرکت انگیزې او لاملونه

د جزیرة العرب جاري حالتونه او بدلونونه د مسلمانانو په گټې دوام درلود. د مسلمانانو د بري او فتح نښې نښانې څرگندې او جوتې وې او د مسلمانانو لپاره د عبادت د حق اداء کولو د تثبیت پیلامې په مسجد الحرام کې تیارې شوې وې. پیغمبرﷺ په خوب کې ولیدل چې له خپلو ملگرو سره مسجد الحرام ته راغلی وي، د کعبې شریفې کلی یې اخستې وي، طواف او عمره کوي. یوې ډلې صحابه وو خپل ویښتان خریلي وو او یوې ډلې خپل ویښتان لنډ کړي وي.

پیغمبرﷺ ددې خوب په بیانولو خپلو ملگرو ته خبر ورکړ چې د عمرې په نیت به وځو او ټول د سفر لپاره چمتو شول.

## د مسلمانانو حرکت د مکې په لوري

نبي کریمﷺ د هجرت په شپږم کال د ذی القعدې د میاشتې په لومړۍ نېټه د دوشنبې په ورځ په داسې حال کې چې خپله بي بي ام سلمه رضي الله عنها هم ورسره وه، له یو زرو څلورو سوو صحابه وو او په بل روایت د یوزرو پنځه سوه صحابه وو سره د مکې مکرمې په لوري وخوځېدل.

پیغمبرﷺ له ذو الحلیفه څخه د عمرې په نیت احرام وتاړه او خپله قرباني یې نښاني کړه. او کړۍ یې په غاړه کې ور واچوله.

رسول اللهﷺ چې کله خبر شو، چې کعب بن لویي د حبشې خلک او خپل همژمني د پیغمبرﷺ او اصحابو پر ضد تحریک او هڅولي دي، له خپلو ملگرو سره یې مشوره وکړه. ابوبکر رضي الله عنه وویل: "موږ د عمرې په نیت راغلي یو، نه د جنگ لپاره، مگر څوک چې زموږ او کعبې ترمنځ مانع شي، له هغه سره جنگیږو. بیا نبي کریمﷺ د خپل تگ په ادامه امر وکړ.

## د کعبې شریفې څخه د مسلمانانو د منع کولو لپاره د قریشو هلې ځلې

کله چې قریشو د مسلمانانو له حرکت څخه خبر ترلاسه کړ، مشورتي مجلس یې ترتیب کړ، هوډ یې ونیو چې په هره ممکنه بڼه کېږي، کعبې ته به د مسلمانانو د راتلو مخنیوی کوي.

د قریشو دوه سوه تنه سپاره جنګیالي د خالد بن ولید تر قوماندې لاندې چې په کراع الغمیم (د یوه ځای نوم دی) مکې ته د راتلو په لاره وو، سنګر ونیوه. دواړه خواوې یو بل ته دومره نژدې شوې وې، چې یو او بل یې سره لیدل.

خالد مسلمانان د ماسپښین په لمانځه ولیدل چې رکوع او سجده کوي. ویې ویل: که چیرې په دې حالت کې موږ حمله کړې وای یو شمیر مو وژل. دوی د حملې قصد د مازدیګر د لمانځه په وخت درلود، چې الله ﷻ د ویرې د لمانځه (صلاة الخوف) حکم نازل کړ او خالد ونشو کولای څه کار مخکې یوسي.

## له خونړۍ جګړې څخه ځان ژغورنه

پیغمبر ﷺ ددې لپاره چې له مشرکانو سره مخامخ نشي، خپله تګلاره یې بدله کړه. په حدیبیه کې، چې د مکې په لاره پرته ده، میشت شول، خالد ددې حالت په لیدلو په تیزۍ ځان قریشو ته ورساوه، ترڅو هغوی له موجوده حالت څخه وویروي. نبي کریم ﷺ په حدیبیه کې له چینې سره نژدې دمه شوی و، بدیل بن ورقه خزاعي د خزاعه له څو نورو کسانوسره پیغمبر ﷺ ته راغلی و، پیغمبر ﷺ ته یې وویل: ماکعب بن لویي په داسې حال کې پریښود، چې له خپلې کورنۍ او مالونو سره د حدیبیې د اوبو تر څنګ میشت شوي وو. غواړي له تا سره وجنګیږي او له کعبې څخه مو منع کړي.

رسول الله ﷺ و فرمایل: موږ د چا سره جنګ ته نه یو راغلي بلکې د عمرې اداء کولو لپاره راغلي یو.

بدیل وویل: په بیړه ستاسو خبره دوی ته رسوم. قریشو ته ورغی او هغوی ته یې وویل: "زه ددې سړي له خوا تاسو ته راغلی یم او اوریدلي مې دي، داسې خبره کوي. که غواړئ هغه تاسو ته وایم. قریشو د بدیل د خبرو له اوریدو وروسته مکرز بن حفص د پیغمبر ﷺ حضور ته ورولیږه. نبي کریم ﷺ هغه خبرې، چې بدیل او ملګرو ته یې کړې وې ده ته یې هم وکړې او هغه قریشو ته راستون شو او دوی ته یې خبرې ورسولې.

بیا قریشو حلیس بن علقمه، عروه بن مسعود ثقفی یو په بل پسې پیغمبر ﷺ ته ورولیږل. هر یوه هماغه ځواب اوریده چې پیغمبر ﷺ بدیل ته ویلی و او د استازیتوب نتیجه یې هماغه د پیغمبر ﷺ د طرحې او پیشنهاد تصدیق و.

خو د قریشو بې عقلو ځوانانو چې کله سولې ته د خپلو مشرانو مینه ولیده، نو په دې کوښښ کې شول چې داسې کار وکړي، چې سوله و نشي او د جنګ اور بل شي. ددوی اویا، اتیا تنو کوښښ وکړ چې د مسلمانانو تمځای ته لاره ومومي، خو د معسکر قوماندان محمد بن مسلمه ﷠ د دوی د ساتونکو قوماندان بندي کړ او حضرت محمدﷺ سولې ته د مینې په دلیل ټول آزاد او عفوه کړل.

## د قریشو په وړاندې د مسلمانانو سفیر

په دې حالت کې نبي کریمﷺ هوډ وکړ یو سفیر قریشو ته ولیږي چې له دې سفر څخه ددوی موخه قریشو ته روښانه شي. له عمر ﷠ څخه یې وغوښتل دا مهم کار ترسره کړي، خو هغه د څه دلایلو له امله معذرت وغوښت. بیا یې حضرت عثمان ﷠ دې دندې ته مامور کړ او ده ته یې وویل: دوی ته ووایه، چې موږ جنګ ته نه یو راغلي، بلکې د عمرې لپاره راغلي یو او دوی اسلام ته هم راوبوله.

عثمان﷠ مکې ته روان شو چې د رسول اللهﷺ پیغام د قریشو مشرانو ته ورسوي. ابان بن سعید عثمان ﷠ ته هر کلی ووایه او بیا یې ده ته پناه ورکړه او په خپل آس یې سپور کړ، تر څو مکې ته ورسید. عثمان ﷠ خپله دنده ترسره کړه. قریشو ورته وویل: له کعبې شریفې څخه طواف وکړه. خو ده دا پیشنهاد قبول نه کړ چې له پیغمبرﷺ څخه مخکې طواف وکړي. له دې کاره یې ډېره وکړه، قریشو عثمان ﷠ له ځانه سره وساته، ځکه غوښتل یې مشوره او پریکړه وکړي، هر کله چې د عثمان راستنیدنې زیات وخت ونیوه، نو د مسلمانانو په منځ کې د عثمان﷠ د وژنې آوازه خپره شوه. پیغمبرﷺ وفرمایل: "له دې ځایه نه ځو ترڅو له قریشو سره خپل کار یو طرفه نه کړو". بیا یې له خپلو ملګرو څخه وغوښتل چې له ده سره بیعت وکړي، له یو منافق پرته نورو ټولو مسلمانانو چې له پیغمبرﷺ سره وو بیعت وکړ. دا بیعت هماغه بیعت الرضوان دی چې الله د هغه په هکله آیت نازل کړ: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُومِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ الفتح/ ۱۸.

ژباړه: الله له مومنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی تر ونې لاندې له تا سره بیعت کاوه، د هغوی د زړونو حال هغه ته معلوم دی. له دې امله یې په هغو ډاډینه نازله کړه او هغو ته یې په انعام کې نژدې فتح نازله کړه. د الفتح سورت په مبارکو آیاتونو کې او ځینو مبارکو حدیثو کې هم هغه

کسان چې په بیعت الرضوان کې یې حضور درلود په نیکۍ او مکافات سره یاد شوي دي د جابر ابن عبدالله رضي الله عنه څخه امام مسلم روایت کړی چې داسې لارښوونه کوي: «انتم الیوم خیر اهل الارض» یعنې تاسو نن ورځ د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره خلک یاست.

## (۲) هڅونه

دا چې پیغمبر ﷺ سولې ته ډېر لیواله او مینه وال و او د مکې د مشرکانو سره یې جنګ نه کاوه په دې هکله دې زده کوونکي فکر وکړي او نتیجه دې ټولګیوالو ته بیان کړي.

## د لوست ګټې

- په مهمو او برخلیک جوړوونکو مسائلو کې باید په حوصله او زغم عمل وشي.
- د منازعاتو د حل لپاره تفاهم مثبتې پایلې منځ ته راوړي.
- په حق ثابت پاتې کیدل د مسلمان له اساسي صفتونو څخه دی.
- د حق په لاره کې باید هرې قربانۍ ته حاضر واوسو.
- هغه صحابه چې په بیعت الرضوان کې یې ګډون کړی دی د هغوی د فضیلت بیان.

## ارزونه

۱ـ څه لامل شو چې پیغمبر ﷺ د مکې مکرمې په لوري د حرکت قصد وکړ؟

۲ـ د قریشو ځوانانو په کراع الغمیم کې څه هوډ وکړ او نتیجه یې څرنګه وه؟

۳ـ د مسلمانانو سفیر د قریشو په وړاندې څوک و او د سفارت پایله یې څه وه؟

## کورنۍ دنده

ګران زده کوونکي دې په خپلو کتابچو کې د بیعت الرضوان اسباب ولیکي چې له شپږو کرښو څخه کم نه وي.

# د حدیبیې سوله (۲)

## د سولې تړون

قریش چې کله پوه شول ستونزمن دریځ په مخکې لري ویې پتېیله له مسلمانانو سره د سولې پریکړه او تړون وکړي. په هغه کې یې دا یادونه وکړه چې پیغمبرﷺ او صحابه یې باید سږ کال هرو مرو بیرته ولاړ شي ترڅو عرب و نه وایي چې پیغمبرﷺ په زور داخل شوی دی. هماغه و چې سهل بن عمرو د نبي کریمﷺ حضور ته راغی او د سولې د تړون غوښتنه یې وکړه. وروسته له زیاتو خبرو اترو په لاندې تړون موافقه وشوه:

## د سولې د تړون بندونه او مادې

۱_ رسول اللهﷺ به سږ کال بېرته مدینې ته ستنیږي او مکې ته به نه داخلیږي، په راتلونکي کال کې به له وسلو سره سپاره مکې ته داخلیږي. درې شپې او ورځې به هلته استوګنه کوي، پرته له دې چې له هیڅ برید سره مخامخ شي.

۲_ تر لسو کلونو پورې به دواړو طرفونو ترمنځ جنګ نه کیږي او خلک به په امن کې ژوند کوي.

۳_ په دې موده کې هر څوک چې غواړي د محمدﷺ په ژمنه او تړون کې داخل شي کولای شي او څوک چې غواړي له قریشو سره ژمنه او تړون وکړي کولای شي. هره قبیله چې له دې دوو ډلو سره یوځای کیږي، کیدای شي او هره یوه قبیله چې له برید سره مخامخ شي، دا کار د همغې ډلې پر همژمنې برید ګڼل کیږي.

٤_ که د قریشو هر وګړی د ولي له اجازې پرته وتښتي او له محمدﷺ سره یوځای شي هغه به دوی ته ورسپاري او که څوک له محمدﷺ څخه قریشو ته راشي هغه به محمدﷺ ته نه سپارل کیږي.

نبي کریمﷺ حضرت علیرضي الله عنه راوغوښت څو د سولې تړون ولیکي او پیغمبرﷺ د تړون متن ورته ولوست.

## د سولې د تړون پایله

د ځینو صحابه وو له اندیښنې سره سره د حدیبیې د صلحې تړون لکه څنګه چې په قرآن کریم کې ورڅخه په فتح مبین یادونه شوې ده د مکې د فتحې لاره پرانستله او د قریشو مشرکان یې په بیوزلی او تنګسیا کې واچول.

د پیغمبرﷺ او صحابه وو صبر او زغم، ثبات او استقامت په مکې او دهغې په چاپیریال کې د اسلام د خپراوي لامل وګرځید او د مسلمانانو د لویې کامیابۍ او د قریشو د ابدي ماتې زمینه یې برابره کړه.

## هڅونه

زده کوونکي دې وارزوي چې دا تړون د مسلمانانو لپاره ماتې ګڼل کیږي یا بری؟

## د سولې له تړون څخه وروسته مهمې پیښې

۱ـ د خزاعه قبیله، چې د عبدالمطلب له وخته له بنی هاشمو سره هم ژمني وو، له رسول الله ﷺ سره یې د همغه پخواني تړون د تایید لپاره نوې ژمنه وکړه.

۲ـ د سولې د تړون د لیکل کیدو پر مهال ابو جندل بن سهیل په داسې حا ل کې چې د خپلو پښو زنځیر یې راکشاوه، ځان یې د مسلمانانو منځ ته ورساوه. سهیل وویل دا هغه لومړنی تن دی چې غواړم دی بیرته موږ ته تسلیم کړئ. هر څومره چې پیغمبر ﷺ د هغه د نه ورکولو کوښښ وکړ، خو سهیل د سولې د تړون په پلي کولو ټینګار کاوه. پیغمبر ﷺ موافقه وکړه او ابو جندل ته یې وویل: "صبر کوه او خپل ثواب د الله نه غواړه ځکه الله تا او نورو بیوزلانو ته د نجات او خلاصون لاره پیدا کوي."

## د لوست ګټې

- سره له دې چې مسلمانانو کافي پوځي واک او دبدبه درلوده، د قریشو په وړاندې یې زغم او حوصله وښوده.
- د سولې تړون د مسلمانانو په موجودیت اعتراف او د مشرکانو د ماتې نښه وه.
- د اسلام په منلو کې زور او زیاتی په کار نه دی او په اسلام کې داخلیدل یو اختیاري کار دی.

## ارزونه

۱ـ د سولې د تړون بندونه په لنډه توګه ولیکئ؟

۲ـ کومې مهمې پیښې چې د سولې له تړونه وروسته رامنځ ته شوې هغه واضح کړئ؟

۳ـ ولې مسلمانانو د حدیبیې د سولې تړون قبول کړ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د حدیبیې د سولې د تړون او دهغه د برخلیک جوړوونکو پایلو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

# د حدیبیې سوله (۳)

## له حدیبیې څخه مدینې منورې ته د ستنېدلو تیاری

کله چې د سولې تړون لاسلیک شو، رسول اللهﷺ غوښتل داسې کاروانه ترسره کړي چې له مخه یې د احرام له حالت نه ووځي او مدینې منورې ته د ستنیدو لپاره تیاری ونیسي.

کله چې رسول اللهﷺ د سولې د تړون له لیکلو څخه فارغ شو، د احرام څخه د حلال کیدو په موخه یې صحابه وو ته وفرمایل: "پورته شئ او خپلې قربانۍ حلالې کړئ" درې ځله یې دا خبره تکرار کړه، خو څوک له ځایه جګ نشو، کله چې څوک د امر منلوته پورته نشو، نو نبي کریمﷺ پورته شو، ام سلمېرضي الله عنها ته ورغی او څه یې چې له صحابه وو څخه په دې هکله لیدلي وو ورته یې بیان کړل.

ام سلمه وویل: ای د الله رسوله که دا کار خوښوې، ووځه پرته له دې چې له چا سره خبره وکړې خپلې قربانۍ ذبح کړه او بیا خپل نایي راوغواړه، خپل سر وخریه.

نبي کریمﷺ پورته شو له چا سره یې خبره ونه کړه. خپله قرباني یې ذبح کړه او خپل سر یې وخرایه.

کله چې خلکو دا کار ولیده پورته شول خپلې قربانۍ یې ذبح کړې او سرونه یې وخریيل.

### (۱) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د سولې د تړون اغیزې د مسلمانانو په روحیه څرنګه ارزوئ؟

## د مهاجرو ښځو له بېرته ورسپارلو څخه اجتناب او ممانعت

کله چې د مهاجرو ښځو بېرته ورسپارل په تړون کې نه وو ذکر شوي او له بلې خوا د الممتحنه سورت دا آیت نازل شو: ﴿یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا إِذَا جَاءَکُمُ الْمُومِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ فَامْتَحِنُوهُنَّ

اللَّهُ أَعْلَمُ بِإِيمَانِهِنَّ فَإِنْ عَلِمْتُمُوهُنَّ مُومِنَاتٍ فَلَا تَرْجِعُوهُنَّ إِلَى الْكُفَّارِ لَا هُنَّ حِلٌّ لَّهُمْ وَلَا هُمْ يَحِلُّونَ لَهُنَّ وَآتُوهُم مَّا أَنفَقُوا وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ وَلَا تُمْسِكُوا بِعِصَمِ الْكَوَافِرِ وَاسْأَلُوا مَا أَنفَقْتُمْ وَلْيَسْأَلُوا مَا أَنفَقُوا ذَلِكُمْ حُكْمُ اللَّهِ يَحْكُمُ بَيْنَكُمْ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾ [الممتحنة: ۱۰ آیت] ژباړه: ای مومنانو! کله چې مومنې ښځې هجرت وکړي تاسې ته راشي نو (دهغو دمسلمانۍ) تحقیق وکړئ. او د هغو د ایمان په حقیقت باندې الله ښه پوهیږي. بیا کله چې تاسې ته معلومه شي چې هغوی مؤمنې دي نو هغوی بیرته کافرانوته مه لیږئ، نه هغوی د کافرانو له پاره روا دي او نه کافران د هغوی له پاره روا دي، د هغو کافرو میړونو چې کوم مهر هغوی ته ورکړئ و هغه هغوی ته بیرته ورکړئ. او له هغو سره په نکاح کولو کې پر تاسې څه ګناه نشته کله چې تاسې د هغو مهر هغوی ته ورکړې او تاسې په خپله هم کافرې پخپله نکاح کې مه ساتئ،کوم مهر چې تاسې خپلو کافرو میرمنوته ورکړی ؤ، هغه تاسې بیرته وغواړئ او کوم مهر چې کافرانو خپلو میرمنو ته ورکړی ؤ هغوی دې هغه بیرته وغواړي. دا د الله حکم دی هغه ستاسې ترمینځ فیصله کوي او الله د پوهې او حکمت څښتن دی.

د دې آیت د حکم سره سم مسلمانانو د هغو مسلمانو ښځو له بېرته ورکولو څخه چې له مسلمانانو سره یو ځای کېدلې ممانعت وکړ.

### د ابو بصیر پیښه

وروسته له هغه چې رسول اللهﷺ مدینې منورې ته راستون شو د ابو بصیر په نامه د ثقیف د قبیلې یو سړی چې له قریشو سره همژمنی ؤ له مکې څخه د تعذیب له امله وتښتیده، مدینې منورې ته راغی. قریشو دده د بیرته راوستو لپاره دوه تنه رسول اللهﷺ ته ورولیږل. نبي کریمﷺ هغه دوی ته وسپاره. دوی له هغه سره حرکت وکړ، څو ذو الحلیفې ته ورسیدل. ابو بصیر یوه ته وویل، ډېره ښه توره دې ده. هغه بل خپله توره له پوښه و ایسته ویې ویل هو. ډېره ښه ده. ابو بصیر وویل: ته یې راکړه چې ویې وګورم. کله چې هغه سړي ابو بصیر ته خپله توره ورکړه، ابو بصیر هغه مړ کړ او دویم سړی وتښتیده. ابو بصیر مدینې ته راغی جومات ته ننووت او د پیښې جریان یې رسول

الله‌ﷺ ته بیان کړې. کله چې ابو بصير پوه شو،چې د حديبيې د صلحې د تړون په اساس ممکنه ده چې قريشو ته مې تسليم کړي ولاړ او د درياب په غاړه ميشت شو.

بيا وروسته ابو جندل بن سهيل وتښتيد او له ده سره يوځای شو. وروسته هر څوک چې مسلمانيده او له قريشو څخه تښتيده له دوی سره يوځای کيده څو يوه لويه ډله ورځنې جوړه شوه. هر کله به چې د قريشو د کاروان له حرکته خبريدل په هغه به يې يرغل کاوه، سرې به يې وژل او مالونه به يې په غنيمت نيول. د ناچارۍ له امله قريشو نبي کريم‌ﷺ ته خط وليکه او ويې غوښتل ددوی هر څوک چې له مسلمانانو سره يوځای شي، هغه په امن دی.

همغه وو چې رسول الله‌ﷺ دې ډلې ته څوک وليږه او هغوی يې مدينې منورې ته را وغوښتل.

د هجرت د اووم کال په لومړيو ورځو کې عمرو بن عاص، خالد بن وليد او عثمان بن طلحه مسلمانان شول او د نبي کريم‌ﷺ حضور ته راغلل. رسول الله‌ﷺ ددوی په هکله وويل: خبره دا ده چې مکې د خپل ځيګر ټوټې زموږ خواته راغورځولې دي.

## د لوست ګټې

- د حديبيې سوله د مکې د فتحې پيلامه وه.
- د اسلام دين په وعده باندې په وفا کولو ټينګار کوي او پيغمبر‌ﷺ هيڅ وخت خپله وعده نه ده ماته کړې.
- د سولې مشروعيت او له دښمن سره متارکه.
- د مسلمانې ښځې نکاح له کافر سره روا نه ده.
- په رايه ورکولو او مشوره کې د ښځو د ګډون مشروعيت.
- په هغه صورت کې له کفارو سره د سولې جواز، چې په سوله کې د اسلام او مسلمانانو لپاره ريښتونی مصلحت موجود وي.
- پرته له پوښتنې کولو د رسول الله‌ﷺ د هر امر منل واجب دي.

## ارزونه

۱_ ابو بصير ځوك و او ولې مشركانو ته وروسپارل شو؟

۲_ پيغمبرﷺ له احرام څخه د حلالېدو په غرض له چا سره مشوره وکړه ؟

۳_ د حديبيې د سولې تړون څرنګه د مكې د فتح لپاره لاره هواره كړه؟

## كورنۍ دنده

ګرانو زده كوونكو د ابو بصير د كيسې لنډيز په خپلو كتابچو كې وليكئ.

# پیغمبرﷺ د هېوادونو مشران اسلام ته را بولي

د هجرت د شپږم کال په وروستيو کې کله چې رسول اللهﷺ له حديبيې څخه راستون شو، د هيوادونو مشرانو ته يې ليکونه وليکل. هغوی يې اسلام ته راوبلل، د هيوادونو مشرانو له مهره پرته ليک نه مانه، نو پيغمبرﷺ له سپينو زرو څخه ځان ته ګوتمۍ جوړه کړه او د محمد رسول اللهﷺ نقش يې پکې وليکه.

دلته په لنډ ډول ځيني ليکونه او د هغو پايلې بيانيږي.

## ۱ـ د حبشې پادشاه نجاشي ته د پيغمبرﷺ ليک

پيغمبرﷺ د اصحمه بن ابجر نجاشي لپاره په لاندې مضمون ليک وليکه:

دا د حبشې مشر، نجاشي اصحمه ته د محمد پيغمبر له طرفه ليک دی. سلام په هغه چا چې د هدايت د لارې پيروي کوي او په الله او رسول يې ايمان راوړي او زه ګواهي ورکوم چې برحق معبود او د عبادت لايق پرته له الله بل څوک نشته. هغه يوازنی ذات دی، شريک او ساری نه لري، نه يې ښځه شته او نه اولاد او دا چې محمد د الله بنده او د هغه استازی دی. زه تا ته د اسلام بلنه درکوم(تا اسلام ته رابولم) همدا زه د الله استازی يم. نو مسلمان شه، ترڅو سلامت(په امان کې) پاتې شې.

الله تعالى فرمايي: ((قل يا اهل الكتاب...))[العمران: ٦٤] ژباړه: ای د کتاب خاوندانو، راشئ د هغې کلمې په لوري چې زموږ او ستاسو ترمنځ برابره ده. هغه دا چې پرته له اللهﷻ د بل چا عبادت او لمانځنه ونه کړو، له هغه سره څه شريک و نه ګڼو، او له اللهﷻ پرته بل رب او خدای ونه نيسو، کله که دوی مخ وګرځاوه، نو ووايئ شاهد اوسئ چې موږ مسلمانان يو.

کله چې عمرو بن اميه ضمری د پيغمبرﷺ خط نجاشي ته ورکړ. نجاشي هغه واخيست پر سترګو يې کيښود او له تخته مځکې ته راکوز شو او د جعفر بن ابی طالب په وړاندې مسلمان شو.

نجاشي په ځواب کې پيغمبرﷺ ته خط وليکه او په هغه کې يې له مهاجرينو سره نيکه رويه او خپل بيعت ښکاره کړ.

## هڅونه

زده کوونکي دې د خپل ښوونکي په مرسته د مهاجرینو سره د نجاشي د نیکي رویې په هکله معلومات وړاندې کړي.

## ۲_ د مصر پاچا، مقوقس ته د پیغمبرﷺ لیک

پیغمبرﷺ جریج بن متی ته چې د مصر او اسکندریې پاچا (مقوقس) نومول کیده، په لاندې شرح لیک ولیکه:

"بسم الله الرحمن الرحیم. د محمد د الله د بنده او استازي له خوا د قبطیانو مشر مقوقس ته، سلامتیا په هغه چا چې د هدایت د لارې پیروي کوي.

زه تا د اسلامي دعوت منلو ته را غواړم. مسلمان شه، سلامت پاتې کیږې. مسلمان شه، الله ستا اجر دوه چنده درکوي او که مخ دې وګرځاوه، د قبط د خلکو ګناه ستا په غاړه ده."

د پیغمبرﷺ لیک حاطب بن ابی بلتعه، مقوقس ته ورساو. د لیک له لوستلو وروسته یې د رسول الله لپاره لیک ولیکه، په لیک کې یې د پیغمبرﷺ د استازي احترام او د دوو وینځو او یوې قچرې د تحفې ورکول ولیکل، خو په خپله مسلمان نه شو.

دا دوه وینځې یوه ماریه ده، چې نبي کریمﷺ د ځان لپاره وساتله او بلې یې سیرین نوم درلود چې نبی کریمﷺحسان بن ثابت انصاري ته ورکړه.

## ۳_ د ایران پاچا کسری ته د نبي کریمﷺ لیک

پیغمبرﷺ په هماغه پورتني مضمون کسری ته لیک ولیکه او هغه یې د عبدالله بن حذافه سهمي په لاس ورولیږه. کله چې لیک کسری ته ولوستل شو، هغه یې څیرې کړ او په تکبر یې وویل: زما له رعیت څخه یوه ووړکي بنده، خپل نوم زما له نامه څخه مخکې لیکلی. کله چې دا خبر پیغمبرﷺ ته ورسیده ویې فرمایل: الله پاک دې د ده پاچاهي ټوټه ټوټه کړي  هغه وه چې الله تعالی د پیغمبرﷺ دعا قبول کړه او د کسری مانۍ او پاچاهي یې د مسلمانانو په لاس درې _ وړې کړه.

## ۴. د روم پاچا قیصر ته د لیک لیږنه

پیغمبرﷺ په همغه ذکر شوي مضمون د روم پاچا هرقل ته هم لیک ولیکه او ددې خط د وړلو لپاره دحیه بن خلیفه کلبی وټاکل شو. هرقل ابو سفیان بن حرب او څو تنه نور چې د تجارت لپاره شام ته تللي وو، ځان ته راوغوښتل. بیا یې د نبي کریمﷺ په هکله ورځنې پوښتنې وکړې. وروسته له هغه یې وویل: که چیرې هغه څه چې ته وایې حق وي، ډیر ژر به زما د دواړو پښو د ځای مالک شي.

هرقل د پیغمبرﷺ استازي ته ډیرې تحفې ور وبښلې او هغه مدینې ته راستون شو.

## ۵. د بحرین حاکم ته د نبي کریمﷺ لیک

نبي کریم ﷺ د بحرین حاکم منذر بن ساوی ته لیک ولیکه او هغه یې اسلام ته دعوت کړ. دا لیک علاء بن حضرمي د بحرین حاکم ته یووړ او. هغه لیک یې د بحرین خلکو ته ولوست ځینې اسلام ته لیوال او مسلمان شول.

همدارنګه پیغمبرﷺ هر یوه هوذه بن علی د یمامه مشر، حارث بن ابی شمر غسانی د دمشق مشر او د عمان پاچا جیفر ته لیکونه ولیږل، چې د دې هیوادونو ځینو مشرانو ایمان راوړ او ځینې نور کافر پاتې شول، په دې توګه د ټولو هیوادونو پاچاهان او مشران د نبي کریمﷺ له نامه او دین سره آشنا شول.

### د لوست ګټې

- د اسلام حقانیت او د مسلمانانو نیک چلند ددې لامل شو چې خلک د اسلام په دین مشرف شول.
- د هیوادونو مشرانو ته د لیکونو لیږلو او دوی ته د اسلام ددین پیژندنې د اسلام په خپراوي کې مهم رول ولوباوه.
- هغه تکبر کوونکي چې د پیغمبرﷺ خطونه یې ونه منل له ناوړو پایلو سره مخامخ شول.
- پاچاهانو ته د رسول اللهﷺ پیغامونه ورلیږل په دې دلالت کوي چې اسلام یو نړیوال دین دی.

## ارزونه

۱_ د پیغمبرﷺ د لیک تر لوستلو وروسته نجاشي څرنګه عمل ترسره کړ؟

۲_ د مصر د پاچا مقوقس عکس العمل د پیغمبرﷺ د لیک په وړاندې واضح کړئ؟

۳_ د پیغمبرﷺ د لیک په وړاندې د کسرى او قیصر ترمنځ د عکس العمل توپیر واضح کړئ؟

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو، نجاشي ته د پیغمبرﷺ د خط متن په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د خیبر غزا

خیبر د سترو او محکمو کلاګانو او هم د کرنیزو ځمکو سیمه وه. له مدینې منورې څخه د سلو میلو په فاصله کې پرته ده.

کله چې رسول اللهﷺ د سولې له تړون څخه وروسته د قریشو له لوري ډاډمن شو، وېې غوښتل چې د یهودو او نجد له قبیلو څخه هم ډاډمن شي، ترڅو الهي دعوت او د اسلام د دین خپرولو ته وزګار شي.

خیبر، چې د مشرکانو د دسیسو، توطیو او د فتنو او فساد مرکز ګڼل کېده او د دې مجرمانو د تصفیې موقع را رسېدلې وه، نو ځکه پیغمبرﷺ د خیبر د یهودو د تأدیب هوډ وکړ.

## د خیبر په لوري خوځښت

څرنګه چې منافقانو د حدیبیې په غزا کې د رسول اللهﷺ له امر څخه سرغړونه کړې وه، کله چې پیغمبرﷺ وغوښتل د خیبر په لوري حرکت وکړي، نو د حرکت پر مهال یې اعلان وکړ چې زموږ سره هغه کسان تللی شي چې د جهاد مینه وا ل وي. په دې توګه منافقین د مسلمانانو له لښکر سره ملګري نشول.

عبدالله بن ابی بن سلول د منافقانو رئیس د خیبر یهودو ته د نبي کریمﷺ له حرکت څخه خبر ورکړ ترڅو د خیبر څخه دفاع وکړي. یهودو د خیبر په لوري د پیغمبرﷺدحرکت له خبرېدو وروسته له خپلو ملاتړیو او همژمنو څخه مرسته وغوښتله، نبي کریمﷺ او صحابه وو غوښتل د لارې په اوږدو کې د جبل عصر (د یوه ځای نوم دی) سره دېره شي. غطفان چې ځانونه یې د یهودو د مرستې لپاره چمتو کړي وو، کله یې چې د ډېرو کسانو د پښو آواز واورید فکر یې وکړ چې مسلمانانو یې په کورنیو او شارویو حمله کړې ده. له دې امله یې د رسول اللهﷺ لاره د خیبر په لوري پرانستې پرېښوده او خپلو کورونو ته راوګرځېدل.

## هڅونه

زده کوونکي دې د خپل ښوونکي په مرسته د هغو لاملونو په هکله بحث وکړي چې له امله يې منافقين د خيبر له غزا څخه منع شوي وو.

## د مسلمانانو لښکر د يهودو د ديوالونو تر څنګ

مسلمانانو شپه خيبر ته نژدې تيره کړه، په داسې حال کې چې يهود له دوی څخه خبر نه وو. کله چې سهار شو، د سهار لمونځ يې په تياره کې اداء کړ او د خيبر د کلاګانو په لوري ولاړل. د خيبر خلکو سهار وختي غوښتل چې خپلو کروندو ته لاړ شي، کله يې چې لښکر وليد، ويې ويل: "محمد راغلی دی". بيا بيرته خپلو کورونو ته وتښتيدل.

رسول اللهﷺ "وفرمايل: (الله اکبر، خربت خيبر، الله اکبر خربت خيبر، انا اذا نزلنا بساحة قوم فساء صباح المنذرين.")

ژباړه: الله اکبر، وران شو خيبر. الله اکبر وران شو خيبر. کله چې موږ د يوه قوم په ميدان کې راکوز شو بد دی سهار د ويريدونکو.

نبي کريمﷺ په يوځای کې قرارګاه ونيوله، خو حباب بن منذر راغی ويې ويل: "يا رسول الله، آيا الله تاسو دې قرارګاه ته راوړې يئ او يا جنګي رأيه او نظر دی؟ پيغمبرﷺ وفرمايل: "نه، دا جنګي رأيه او نظر دی. بيا حباب وويل: دا ځای مناسب نه دی ځکه کلا ته نژدې دی. د دښمن غشي موږ ته را رسيدای شي او زموږ غشي دوی ته نشي رسيدای او موږ ددوی د شپې له حملې څخه هم په امن نه يو. همدارنګه دا ځای د خرماوو د ونو ترمنځ پروت دی، که امر راکوې يو بل ځای د قرارګاه لپاره غوره کړو.

پيغمبرﷺ وفرمايل: "سم نظر دې ورکړ" بيا يې خپله قرارګاه بل ځای جوړه کړه.

## د جنګ لپاره چمتو والی

شپه راورسيده. پيغمبرﷺ وويل، "سبا بيرغ هغه چا ته ورکوم، چې الله او د هغه رسول دوست ګڼي او الله او د هغه رسول دی دوست ګڼي."

کله چې سهار شو هر یو هیله من و چې بیرغ ده ته ورکړل شي، خو نبي کریمﷺ وفرمایل: "علی بن ابی طالب چیرې دی؟ وویل شول سترګې یې خوږیږي. څوک یې ور ولیږه. حضرت علی رضي الله عنه راغی، رسول اللهﷺ د خپلې خولې لاړې د علی رضي الله عنه په سترګو کیښودې او دعا یې ورته وکړه، هغه جوړ شو او بیرغ یې ورکړ. او ویې ویل: دا خلک اسلام ته راوبوله او دوی ته الهی حقوقو څخه چې د دوی په ذمه دي، خبر کړه. په الله قسم هر کله چې الله یو سړي ته ستا په وسیله هدایت وکړي تا ته له سرو اوښانو څخه غوره ده. ( سره اوښان هغه وخت کې د عربو په وړاندې ډیر قیمت بها څیز و)

خیبر په دوو برخو ویشل کیده. په لومړۍ برخه کې پنځه محکمې کلاګانې وې؛ د ناعم کلا، د زبیر کلا د صعب بن معاذ کلا، د ابی کلا او د نزار کلا.

په دویمه برخه کې یې د نطاة، شق او ابی الحقیق کلاګانې وې. دا ټولې کلاګانې څو ورځې محاصره وې او د مسلمانانو په لاسونو فتح شوې، کله چې کومه کلا فتح کیده، دښمنان بلې کلا ته تښتیدل، په وروستنی کلا کې یې بله چاره و نه مونده، پرته له دې چې نبي کریمﷺ ته د سولې پیشنهاد وکړي.

دوی سوله وکړه چې خپل مال، طلا او نقره، غواوې او پسونه او جنګي آلات یې مسلمانانو ته تسلیم کړل. وړاندیز یې وکړ چې د خپلو جنګي کسانو د ځان او کورنیو په حفاظت به خیبر پریږدي. په دې توګه د خیبر ټولې کلاګانې مسلمانانو ته تسلیم شوې او د خیبر فتحې په دې شان پای وموند.

د خیبر د غزا له مهمو پیښو څخه یوه له حبشې څخه د نبي کریمﷺ حضور ته د جعفر بن ابي طالب او ابو موسی اشعري رضي الله عنهم راتلل، له صفیې بنت حیي بن اخطب سره د پیغمبرﷺ نکاح او د متعې نکاح حراموالی دی.

## د لوست ګټې

- په عمل کې اخلاص بریالیتوب لاس ته راوړي.
- په اسلام کې د مشورې د اصل ارزښت.
- د جنګ نه مخکې دښمن ته د اسلام دعوت د پیغمبرﷺ همیشنۍ طریقه وه.
- د خیبر په غزا کې د نبي کریمﷺ ځنې معجزات ښکاره شوي دي.
- د مهمو کارونو د پرمخ بیولو لپاره باید تکړه او باتوره خلك غوره شي.
- دښمن ته باید هېڅ وخت داسې فرصت ورنکړل شي چې توانمن شي او د اسلامي دولت لپاره ستونزې را ولاړې کړي.
- د مسلمانانو امیر باید د ښو او نیکو مشورو څخه په هر وخت کې ګټه واخلي او د خپلې رایې له استبداد څخه ځان وژغوري.

## ارزونه

۱ـ د غطفان قبیلې د مسلمانانو په وړاندې څه ډول موقف ونیو؟

۲ـ ولې پیغمبرﷺ خپله قرارګاه له یوه ځایه بل ځای ته بدله کړه؟

۳ـ د غزا په پای کې مشرکان کوم ډول سولې ته راضي شول؟

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو، د خیبر د غزا لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# قضایې عمره

د هجرت په اووم کال د ذی القعدې په میاشت کې پیغمبرﷺ له خپلو ملګرو څخه وغوښتل چې عمره وکړي. د تیرې عمرې قضایې راوړي او له هغو کسانو څخه چې په حدیبیه کې وو، هیڅوک تخلف ونه کړي.

## د قریشو د خیانت له ویرې احتیاط

پیغمبرﷺ له دې ویرې چې د قریشو له لوري خیانت او دوکه ونه شي، نو له وسلې سره یې د مکې په لور حرکت وکړ. د قافلې تر مخ یې دوه سوه سپاره جنګي سرې د محمد بن مسلمه په مشرۍ ولیږل. قریشو مکرز بن حفص له یو شمیر نورو خلکو سره یوځای یأجج(د یو ځای نوم دی) ته ولیږه، ترڅو د مسلمانانو د مسلح لښکر له هوډه خبر شي. پیغمبرﷺ دوی ته خبر ورکړ چې د مخکني شرط بربنسټ به پرته له وسلې مکې ته داخلیږو.

پیغمبرﷺ په همغه سیمه کې خپلې جنګي وسلې، لکه تورې، غشي، لیندۍ او نیزې پریښودې. محمد بن مسلمه یې له دوو سوو نورو کسانو سره د وسلې د ساتنې لپاره همدلته مؤظف او په خپله له نورو صحابه وو سره تورې په تیکو کې مکې ته داخل شول.

## مکې ته داخلیدل، طواف او سعی

نبي کریمﷺ چې کله مکې ته ننووت په خپله قصوا او ښه سپور و او مسلمانان هم په داسې حال کې چې وسلې یې په تیکو کې وې، د نبي کریمﷺ یوې او بلې خواته تلبیه ویونکي روان وو.

پیغمبرﷺ له هغه غاښې چې حجون ته وخې مکې ته ننووت. حجر اسود یې په خپله همسا لمس

کړ، بیا یې طواف وکړ او مسلمانانو هم طواف تر سره کړ.

نبي کریمﷺ او صحابه وو په دریو لومړیو طوافونو کې پهلواني وکړه. کله چې مشرکانو دوی ولیدل وېې ویل: دا هغه خلك دي چې تاسو گومان کاوه د مدینې تبو دوی کمزوري کړي دي، په داسې حال کې چې چست او چالاکه دي.

کله چې نبي کریمﷺ له طوافه خلاص شو، د صفا او مروه ترمنځ یې سعې وکړه. وروسته یې وفرمایل: دا د قربانۍ ځای دی او د مکې ټولې لارې او کوڅې د قربانۍ ځای دی. هماغه وو چې د مروه په څنگ کې یې خپله قرباني ذبحه کړه. بیا یې خپل ویښتان وخریيل او صحابه وو هم همداسې وکړل.

دا یو رواني جنگ و چې پیغمبرﷺ د مشرکانو په ضد په لار واچاوه. پنځه گوني لمونځونه یې په جماعت سره اداء کړل او بلال بن رباح رضي الله عنه په خپل لوړ آواز د کعبې د پاسه آذان کاوه چې په مشرکانو د تندر په شان لگیده.

وروسته له هغه یې یو شمیر صحابه یأجج(د یو ځای نوم دی) ته ولیږل چې هلته د خپلو وسلو ساتنه وکړي او هغه کسان چې د وسلو په ساتنه مشغول وو، د مناسکو د اداء کولو لپاره راشي. هغوی راغلل او د قضایي عمرې مناسك یې اداء کړل.

## دمدینې په لور ستنیدل

رسول اللهﷺ درې ورځې په مکه کې پاتې شو او د څلورمې ورځې په سهار مشرکان د حضرت علي رضي الله عنه حضور ته راغلل وېې ویل خپل دوست ته دې ووایه چې ټاکلې موده پوره شوه. له مکې څخه دې ووځي.

نبي کریمﷺ او صحابه له مکې څخه ووتل او په سرف سیمه کې یې استوگنه غوره کړه.

پیغمبرﷺ د قضایي عمرې څخه وروسته له میمونې بنت الحارث رضي الله عنها سره نکاح وکړه دا د مؤمنانو مور د نبي کریمﷺ تر ټولو وروستنۍ بي بي ده.

## د قضایي عمرې پایلې

دې عمرې په عربو، خصوصاً په قریشو، ډېره زیاته اغیزه وکړه. قضایي عمرې د قریشو پر روحیاتو ډېر لوی اثر درلود. یو شمیر قریش په دار الندوه کې او یو شمیر نور پر هغو لوړو ځایونو ولاړ وو چې کعبه ورڅخه ښکاریده.

کعبې ته یې د پیغمبرﷺ او صحابه وو د داخلیدلو ننداره کوله. خالد بن ولید د قریشو په یوه ډله کې ودرید او ویې ویل: هر هوښیار سړی پوهیږي چې محمد ساحر، جادوگر او شاعر نه دی، خبره یې د الله له لوري ده، نو هر هوښیار باید له ده څخه پیروي وکړي. له خالد بن ولید څخه وروسته عمرو بن عاص او عثمان بن طلحه د کعبې متولي هم ایمان راوړ، آن تر دې چې د اسلام تأثیر د قریشو په هر کور کې لږلږ په پټه او ښکاره توگه څرگند و. په مکه کې د اسلام د خپریدو لپاره زمینه مخکې له مخکې څخه برابره وه.

## د لوست گټې

• د حدیبیې د تړون پربنسټ رسول الله او مسلمانانو په خپله وعده وفا وکړه او له مکې څخه د ټاکلي وخت له پوره کیدو سره سم ووتل. دا د مسلمان لپاره داسې درس ورکوي، څو په خپله وعده وفا وکړي.

• هغه مسلمانان چې په بیوزلۍ یې له مکې څخه هجرت کړی و اوس په قوت او غیرت مکې ته داخل شول او دې کار د مشرکانو روحیه ډېره ضعیفه کړه.

• د دښمنانو سره په معاملو کې له احتیاط څخه کار اخیستل په هر حال کې غوره دي.

## ارزونه

۱ـ مسلمانانو د قریشو د خیانت له ویرې څه تدبیرونه ونیول؟

۲ـ قضايي عمرې د مسلمانانو د روحیې په پیاوړتیا او د مشرکانو د روحیې په کمزورتیا کې څه اغیزه وکړه؟

۳ـ دا عمره ولې قضايي عمره نومول شوې ده؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د قضایی عمرې د پایلو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

# د موته او ذات السلاسل سریه

## ۱_ د موته سریه

دا هغه خونړۍ جګړه وه چې د مسلمانانو او کافرانو تر منځ د نبي کریمﷺ په ژوند کې وشوه او په واقعیت کې د مسیحیانو د ځمکو د فتحې پیل و.

دا جګړه د هجرت په اتم کال د شام د بلقاء په پای سیمه د (موته) په کلي کې، چې فاصله یې بیت المقدس ته له دریو پړاوو څخه زیاته نده، واقع شوه.

## ددې جګړې لامل

پیغمبرﷺ له خپل لیک سره حارث بن عمیر ازدي د بصرې حاکم ته ولیږه. شرحبیل بن عمرو غسانی، چې د روم د امپراطور له خوا د شام د بلقاء حاکم و، د هغه لاره ونیوله او هغه یې وواژه. د دې خبر په اوریدو رسول اللهﷺ ډیر زیات غمجن شو او له هغوی سره یې د جګړې لپاره د دریو زرو تنو په شمیر جنګي لښکر چمتو کړ.

## د لښکر مشران او د پیغمبرﷺ نصیحت

رسول اللهﷺ زید بن حارثه ددې لښکر د قوماندان په توګه وټاکه او ویې فرمایل: که زید په شهادت ورسید، جعفر د لښکر قوماندان دی او که هغه هم شهید شو، عبدالله بن رواحه به د لښکر قومانده په غاړه اخلي. دوی ته یې وفرمایل: "د حارث بن عمیر د شهادت ځای ته به ځئ، مخکې له جنګه به خلک اسلام ته دعوتوئ، دا یې هم ورته وویل: د الله په نامه او د الله په لاره کې وجنګیږئ، خیانت مه کوئ، له چور او چپاول څخه ځانونه وساتئ. ماشومان او ښځې او بوډاګان او هغه کسان، چې له خلکو څخه لرې په عبادتخانو کې په عبادت بوخت دي، مه وژنئ. ونې او خرماوې مه پرې کوئ او آبادي مه نړوئ.

**(۱) هڅونه**

زده کوونکي دې لښکر ته د پیغمبرﷺ د نصیحتونو په هکله بحث او خبرې وکړي.

## د مسلمانانو د لښکر حرکت او له ناڅاپي حالت سره مخامخ کېدل

د مسلمانانو لښکر حرکت وکړ تر څو د حجاز په شمال کې د شام سرحد معان ته ورسیدل. په دې ځای کې مسلمانانو خبر ترلاسه کړ چې هرقل د روم امپراطور له سل زره رومیانو سره په بلقاء کې میشت شوی او نژدې سل زره تنه عرب د لخم، جزام، بلقین او بهراء له قبیلو څخه هم ددوی سره یوځای شوي دي.

مسلمانانو د معان په سیمه کې له لوی دښمن سره د مخامخ کېدو په هکله مشوره وکړه او ویې ویل: پیغمبرﷺ ته به لیک ولیکو او ده ته به خبر ورکړو، هغه مبارک چې هر څه وویل همغسې به وکړو. عبدالله بن رواحه له دې نظر سره مخالفت وکړ او ویې ویل: ایا له شهادت څخه ویرېږئ چې په طلب پسې یې راوتلي یاست، موږ په قوت نه جنګیږو، بلکې موږ د هغه دین په وسیله، چې الله موږ ته په هغه سره عزت راکړی، جنګ کوو. ولاړ شئ یو له دې دوو نیکیو ستاسو سره ده یا فتح یا شهادت، په پای کې ټول مسلمانان دده سره هم نظره شول.

## له دښمن سره مخامخ کېدل او د جګړې پیل

د مسلمانانو لښکر د شام د بلقاء په کلي کې له دښمن سره مخامخ شو. د جګړې بیرغ زید بن حارثه رضي الله عنه پورته کړ. په بې ساري قهرمانی او میړانه وجنګید تر هغه چې د کفارو نیزو له پښو ورغورځاوه او شهید شو. وروسته له هغه بیرغ جعفر رضي الله عنه واخیست هغه وجنګیده، تر څو ښی لاس یې پرې شو او بیرغ یې په چپ لاس کې ونیوه. هغه هم پرې شو، بیا یې بیرغ د دواړو متو ترمنځ په غیږ کې ونیوه او هغه یې ریانده وساته، تر څو په شهادت ورسید. له جعفررضي الله عنه څخه وروسته د اسلام بیرغ عبدالله بن رواحه واخیست هغه هم خپله قهرماني ترسره کړه، ترڅو شهید شو.

د عبدالله بن رواحه له شهادت څخه وروسته له بني عجلان څخه یو سړی د ثابت بن ارقم په نامه را مخکې شو. بیرغ یې جګ کړ او ویې ویل: "ای مسلمانانو د ځانونو لپاره امیر غوره کړئ، خلکو خالدرضي الله عنه د خپل قوماندان په توګه غوره کړ." امام بخاري په خپل سند له خالد رضي الله عنه څخه روایت

کوي، چې د موته په ورځ مې نهه تورې په لاس کې ماتې شوې.

حضرت خالدؓ چې کوم جنګي ابتکارات درلودل د هغه له مخې يې د لښکر په ځايونو او موضعګانو کې بدلون راوړ. په دې سره کافرانو داسې ګومان وکړ چې مرستندويه لښکر مسلماناتو ته رارسيدلی دی. مسلمانانو ورو ورو ځانونه شاته وايستل او کفارو هم له دې ويرې چې دوکه او فريب رانه کړي، له تعقيبه لاس واخيست او مسلمانان سالم مدينې منورې ته راستانه شول.

## ددې جنګ اغيزې

مسلمانانو که څه هم ونشو کړای بشپړه کاميابي او بريا لاس ته راوړي، خو دې جنګ د مسلمانانو په جنګي اعتبار لويه اغيزه وکړه. هغه سرسختې قبيلې چې د مسلمانانو په ضد به يې پاڅونونه کول، لکه بنو سليم، اشجع، غطفان او ذبيان، له دې جنګ څخه وروسته د اسلام په دين مشرفې شوې. دا جنګ له روميانو سره د مسلمانانو د مخامخ جنګ او د روم د ښارونو او د لرې ځمکو د فتح مقدمه وه.

## ۲_ د ذات السلاسل سريه

ددې لپاره چې له روميانو سره د شام د عربو د ائتلاف مخه ونيول شي، پيغمبرﷺ د هجرت په اتم کال په جمادی الاخر کې عمرو بن عاص ؓ، چې مورنی نيايې له هغو قبيلو څخه وه، ورولیږه، څو ددوی مينه او محبت را جلب کړي.

عمرو بن عاص به د شپې سفر کاوه او د ورځې به يې سنګر نيوه. هغه خبر تر لاسه کړ چې د قضاعه قبيلې خلکو لويه ټولنه درلوده، نو مکيث جهنيؓ يې پيغمبرﷺ ته وليږه او له هغه څخه يې مرسته وغوښته. نبي کريمﷺ دوه سوه تنه مهاجرين او انصار چې ابوبکر صديق، ابو عبيده بن جراح او عمر ؓ هم د دوی په منځ کې وو، د عمرو بن عاص مرستې ته وليږل. د مسلمانانو لښکرو د قضاعه ځمکې تر خپلې ولکې لاندې راوستې او کامياب بيرته راوګرځېدل.

دا سريه له دې امله د ذات السلاسل په نامه ونومول شوه، چې مسلمانان د جذام په ځمکه کې د سلسل په نامه يوې چينې ته نژدې ميشت شول.

## د لوست ګټې

• د یوه مسلمان ژوند ډېر لوی ارزښت لري، ځکه نبي کریم ﷺ د اسلام د سفیر د وینې غوښتلو لپاره یو لښکر ولیږه.

• د اسلام دین د پیغمبرﷺ د صحابه وو په سرښندنو موږ ته را رسیدلی دی، نو د صحابه وو لوړ مقام ته احترام د هر مسلمان شرعي وجیبه ده.

• د دښمن د له منځه وړلو او د خپل ځان د ژغورلو لپاره باید له هر ډول جنګي لارو چارو څخه کار واخیستل شي.

• پر دښمن د مسلمانانو د بر لاسی اصلي لامل د لښکر او اسلحې زیاتوالی نه دی بیلکې ایماني پیاوړتیا او اخلاص دی.

• په جنګ کې د احتیاط او ویرې مراعاتول د قیادت له مسؤلیتونو څخه دي.

## ارزونه

۱ـ د موته د سریې د لیږلو لامل څه و؟

۲ـ د پیغمبرﷺ نصیحتونه د لښکرو مشرانو ته څه وو؟

۳ - د ذات السلاسل په سریه کې د چا په قومانده کومې سیمې فتح شوې؟ همدارنګه ولیکئ چې دې سریې ته ولې ذات السلاسل وایي؟

## کورنی دنده

ګرانو زده کوونکو، د موته سریه په تفصیل سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د مکې فتحه (۱)

## د مکې په لوري د حرکت لپاره اسباب او چمتو والی

د مکې فتحه تر ټولو لویه فتحه ده چې د هغې په وسیله الله ﷻ ، پیغمبر ﷺ او مسلمانانو ته عزت ورپه برخه کړ او له هغه وروسته ډله ډله خلك د اسلام په دین مشرف شول.

## ددې غزا لامل

د حدیبیې د سولې په تړون کې یو بند ذکر شوی و چې هر څوك غواړي کولای شي د محمد ﷺ په پیمان او ژمنه کې داخل شي او هر څوك چې غواړي د قریشو په پیمان او ژمنه کې داخلیدای شي. هره قبیله چې یو له دې دواړو لوریو سره تعهد وکړي د هماغه لوري برخه ګڼل کیږي او پر هغه تجاوز په حقیقت کې په هغه قبیله تجاوز دی چې پیمان یې ورسره کړی دی.

له دې بند څخه په ګټه اخیستلو د حدیبیې د سولې په تړون کې د خزاعه قبیله له مسلمانانو سره او د بنو بکر قبیله له قریشو سره یو ځای شوه.

## د مکې د فتحې لپاره تیاری نیول

د هجرت په اتم کال بنوبکر په بنو خزاعه د شپې برید وکړ او یو شمیر خلك یې ژوبل کړل. په دې پېښه کې ځینو قریشو هم بني بکر ته اسلحه ورکړې وه، دې پېښې قریش اندیښمن کړل.

کله چې د قریشو له لوري د حدیبیې تړون مات شو پیغمبر ﷺ صحابه وو ته امر وکړ څو تیار شي

او ورته و یې ویل چې پخپله هم مکې ته تشریف وړي. نبي کریمﷺ غوښتل په نا څاپي توګه مکې ته داخل شي. له دې امله یې نه غوښتل خلک د سفر له نیتې څخه خبر شي.

حاطب بن ابی بلتعه د هغو مسلمانانو له جملې څخه و چې د بدر په غزا کې یې هم برخه اخیستې وه، غوښتل یې په پټه قریش د رسول اللهﷺ له ارادې څخه خبر کړي، خو رسول اللهﷺ دده له دې ارادې نه خبر شو، د هغه مخه یې ونیوه. په دې توګه د مسلمانانو د چمتووالي خبر قریشو ته ونه رسید.

**(۲) هڅونه**

ګران زده کوونکي دې د مهمو اسرارو د پټ ساتلو په هکله یو له بل سره بحث او خبرې وکړي.

## د مکې په لوري د اسلامي لښکر حرکت

رسول اللهﷺ د هجرت په اتم کال د رمضان د میاشتې په لسمه نیټه له لسو زرو صحابه وو سره له مدینې څخه د مکې په لور روان شو.

نبي کریمﷺ د مکې د لارې په اوږدو کې له خپل تره حضرت عباس او کورنۍ سره یې چې مسلمان شوي وو، مخامخ شو.

د مسلمانانو لښکر په مر الظهران کې (د یو ځای نوم دی) دمه شو او رسول اللهﷺ امر وکړ څو اور بل کړي. په دې شپه حضرت عباس رضي الله عنه د رسول اللهﷺ په سپین آس سپور له لښکر څخه ووت ترڅو قریشو ته احوال وروړي، مخکې له دې چې نبي کریمﷺ مکې ته داخل شي، د ده له مخې

راووځي او له ده څخه امان وغواړي. حضرت عباسؓ په لاره کې له ابوسفيان سره مخامخ شو او هغه يې له ځانه سره رسول اللهﷺ ته راوست. ابو سفيان د حق شهادت اداء کړ، د توحيد کلمه يې وويله، مسلمان شو.

حضرت عباسؓ پيغمبرﷺ ته وويل: ابوسفيان يو داسې سړی دی چې وياړ او شرف غواړي، نو هغه ته په يوه اعتبار قايل شئ. رسول اللهﷺ وفرمايل: څوک چې دده کور ته داخل شي په امن او امان کې دی او هغه څوک چې خپله دروازه په ځان پسې وتړي په امن دی او څوک چې مسجد الحرام ته داخل شي په امن دی.

## د لوست ګټې

- د مکې فتحه د مسلمانانو لپاره يوه برخليک جوړوونکې واقعه وه.
- د اسرارو پټ ساتل د برياليتوب راز دی.
- که څوک د مسلمانانو له ډلې څخه دښمن ته د اسلام د لښکر معلومات ورکوي، له الله تعالی او رسول سره يې خيانت کړی دی.
- پيغمبرﷺ هغه وخت د مکې د فتح کولو نيت وکړ، چې په خپله د مکې خلکو عهد او تړون مات کړ.

## ارزونه

۱ـ د حدیبیې د سولې د تړون د ماتې لامل څه ؤ.

۲ـ د مکې فتحې د اسلام لپاره څه ارزښت او لاس ته راوړنې درلودې؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مکې د فتحې او د هغه د نتیجو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

# د مکي فتحه (۲)

## مکې ته د پیغمبرﷺ فاتحانه داخلیدل

د هجرت په اتم کال د رمضان د میاشتې په اوو لسمه نېټه د سه شنبې په سهار نبي کریمﷺ له مر الظهران څخه د مکې په لوري حرکت وکړ او حضرت عباسرضي الله عنه ته یې امر وکړ، چې ابوسفیان په یوه ځای کې کېنیوي څو د مسلمانانو لښکر دده په وړاندې تیر شي او دی په خپلو سترګو د مسلمانانو قوت ووینې.

هره ډله به چې د ابوسفیان په مخ کې تیریده، ده به پوښتنه کوله دا څوک دي؟ ترڅو رسول اللهﷺ د مهاجرینو او انصارو په ډله کې، چې له سره تر پښو په اوسپنیزو زغرو پوښلي وو، تیر شو. ابوسفیان پوښتنه وکړه دا ډله څوک ده؟ عباسرضي الله عنه وویل: دا رسول اللهﷺ د مهاجرینو او انصارو په منځ کې دی. ابوسفیان وویل هیڅوک ددې خلکو په وړاندې د مقاومت توان نه لري.

حضرت عباسرضي الله عنه ابوسفیان ته وویل: خپل قوم ته منډه کړه. ابوسفیان په بیړه مکې ته ولاړ، چیغه یې کړه ای قریشو! دا محمد دی، له خپل لښکر سره تاسې ته راغلی. هیڅوک یې د مقابلې وس نه لري څوک چې د ابوسفیان کور ته ننوزي په امن کې دی.

ځینې خلک خپلو کورونو ته ننوتل، څوک مسجد الحرام ته ولاړل او یو لږ شمیر د عکرمه بن ابی جهل صفوان بن امیه او سهیل بن عمرو سره په خندمه (د یو ځای نوم دی) کې راټول شول چې له مسلمانانو سره وجنګیږي.

د مسلمانانو لښکر په ذي طوی کې په دریو ډلو وویشل شو او له دریو لارو مکې ته داخل شو. خالد بن ولیدرضي الله عنه کیڼ لوري ته و، پیغمبرﷺ ورته امر وکړ چې د مکې له ښکته لوري څخه داخل شي. زبیر بن عوامرضي الله عنه د لښکر ښي خواته و. هغه ته یې امر وکړ چې د مکې له برې خوا داخل شي او ابو عبیده رضي الله عنه له پلو او بېوسلو خلکو سره و، پیغمبرﷺ ورڅخه وغوښتل چې د وادي له منځ څخه راشي په دې ډول په مکه کې درې واړه لښکرې له رسول اللهﷺ سره یوځای شوې.

## مکې ته د مسلمانانو داخلیدل

د مسلمانانو لښکر له هغو دريو لارو څخه، چې مخکې ټاکل شوي وې، حرکت وکړ او مکې ته ننوتل. يوازې هغه کسان چې په خندمه کې راټول شوي وو. دولس تنه يې د حضرت خالدﷺ د ملګرو له خوا ووژل شول او نور وتښتیدل.

خالدﷺ په صفاکې(د يو ځای نوم دی) د پيغمبرﷺ حضور ته ورسيد. زبيرﷺ هم په حجون کې خيمه ووهله او همله‌ته و ترڅو رسول اللهﷺ ورسره يوځای شو.

## پيغمبرﷺ مسجد الحرام له بتانو پاکوي

پيغمبرﷺ له مهاجرينو او انصارو سره مسجد الحرام ته داخل شو. په داسې حال کې چې هلته (۳۶۰) بتان ايښودل شوي وو، نبي کريمﷺ په خپل لاس کې لیندۍ واخيسته، بتان يې پرې وهل او فرمايل يې: ﴿وَقُلْ جَاء الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا﴾ اسراء/۸۱.

ژباړه: او دوی ته ووايه حق راغی او باطل له منځه ولاړ او نابود شوی دی. بيشکه باطل همیشه له منځه تلونکی دی.

بتان يو پر بل ولويدل. بيا پيغمبرﷺ خپل طواف پوره کړ. عثمان بن طلحه د کعبې متولي يې راوغوښت. کلي يې ورڅخه واخسته او کعبې ته داخل شول. بيا يې په کعبه کې لمونځ اداء کړ او د قريشو په وړاندې يې خطبه پيل کړه، ويې فرمايل: خبر اوسئ، هر ډول وياړنې، وينې او مالونه زما تر پښو لاندې دي. ای د قريشو ډلې، الله د جاهليت وياړنې، کبر او ځان ستاينه له منځه يوړه.

خلك له آدم څخه پيدا شوي او آدم له خاورې څخه، بيا يې دا آيت تلاوت کړ: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ﴾ حجرات/ ۱۳.

ژباړه: ای خلکو ! موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې نه پيدا کړئ او بيامو تاسې قومونه او قبيلې وګرځولئ ترڅو چې تاسې يوتر بله سره وپيژنئ په حقيقت کې د الله په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی چې په تاسې کې ترټولو زيات پرهيزګار وي . په باوري ډول الله په هر څه

پوهیدونکی او باخبره دی.

بیا حضرت بلال رضي الله عنه د کعبې پر بام اذان وکړ رسول الله ﷺ د مکې د فتحې شکرانه لمونځ اداء کړ او د هغو ځو مشرکانو وینې چې په خندمه کې راټول شوي وو، هدر او عبثې اعلان کړې او د فتحې په دویمه ورځ یې بله خطبه هم وویله.

## ۲) هځونه

زده کوونکي دې د بشري عدالت او مساوات په هکله چې نبی کریم ﷺ د مکې په فتح کې څرګند کړ بحث او خبرې وکړي.

پیغمبر ﷺ د مکې له خلکو څخه د بیعت له اخستلو څخه وروسته نهه (۹) ورځې په مکه کې استوګنه وکړه او د اسلام احکام یې خلکو ته وروښودل.

د عربو نورې قبیلې دې برخلیک جوړوونکې غزا ته سترګې په لاره وې، چې ووینې د مسلمانانو او مشرکانو ترمنځ ددې جنګ او مبارزې پایله څه کیږي. هغوی له فتحې وروسته ولیدل چې په دې فتحه کې د مسلمانانو سیاسي او دیني دریځ په ټوله جزیرة العرب کې لوړ شوی او ټولو عربو ته له دې پرته بله لار نه ده پاتې چې نبي کریم ﷺ ته راشي، اسلام قبول کړي او په خپله د اسلام داعیان شي.

## د لوست ګټې

- د مسلمانانو ترمنځ د هر ډول تبعیض له منځه وړل.
- د مشرکانو پر روحیه د مسلمانانو د یوځي قوت اغیزې.
- له فتحې وروسته په جزیرة العرب کې د مسلمانانو د سیاسي او دیني دریځ سرلوړي.
- د شرکي مظاهرو له منځه وړل.
- له بریالیتوب څخه وروسته د عمومي بښنې اعلانول.

## ارزونه

۱_ د مکې فتحه په کوم کال وشوه او پيغمبرﷺ ولې امر وکړ چې ابوسفيان د مسلمانانو د لښکر حرکت ننداره کړي؟

۲_ کله چې نبي کريمﷺ د مسجد الحرام بتان له منځه وړل څه يې ويل؟

۳_ د اسلام لښکر د کومو کسانو په قومانده او له کومو لارو مکې ته داخل شو؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د مکې د فتح مهمې پېښې د تاريخي ترتيب په مراعاتولو وليکي.

# د حنين او طائف غزاګانې

## ۱ - دحنين غزا

که څه هم د مکې فتحې عربان حيران او انديښمن کړل. ځينې مغروره او پیاوړې عربي قبيلې، لکه د ثقيف، هوازن او څه نورې ورې قبيلې د قيس بن عيلان له پرګنې څخه سره يوځای شوې او هوډ يې وکړ چې د مسلمانانو سره د جنګ ميدان ته راووځي.

مشرکان د مالك بن عوف په قومانده له خپلو کورنيو سره د اوطاس په سيمه کې سره راټول شول او د مسلمانانو سره يې د جنګ لپاره چمتوالی وښود.

نبي کريمﷺ د هجرت په اتم کال د شوال د مياشتې په اوومه (۷) نېټه د شنبې په ورځ له دولس زرو کسانو سره (لس زره تنه له مدينې منورې راغلي وو دوه زره د مکې تازه مسلمانان وو) يوځای د حنين په لور وخوځيد. د مسلمانانو د اطلاعاتو کسان پيغمبرﷺ ته راغلل، ويې ويل: "فلاني او فلاني غرونو ته وختو او موليدل ټول هوازن له ښځو، اوښانو او پسونو سره راغلي دي." نبي کريمﷺ تبسم وکړ او ويې فرمايل: "دوی ان شاء الله سبا د مسلمانانو په غنيمت کې راځي."

### پر مسلمانانو د دښمن ناڅاپي حمله

پيغمبرﷺ او لښکر يې د شوال په لسمه نېټه د چهارشنبې په شپه حنين ته ورسيدل، خو مالك بن عوف د مشرکينو قومندان له مسلمانانو څخه مخکې هلته رسيدلی و او خپل لښکر يې وادی(خوړ) ته داخل کړی و، وادي ته په ټولو رانوتو لارو کې يې کمينونه نيولي وو. سهار چې کله د مسلمانانو لښکر په څو ډلو تقسيم شو او له بيرغونو او منظمو ډلو سره وادي ته داخل شول، په دې وخت کې د مالك بن عوف کسانو پرې سخته حمله وکړه او شاتګ ته يې اړ کړل. داسې سخته ماتې يې وخوړه چې يو او بل ته يې هيڅ پام نه درلود.

رسول اللهﷺ په دې حالت کې فرمايل: ای خلکو زما په لوري رامنده کړئ. زه د الله رسول يم. زه محمد د عبدالله زوی يم.

په دې حالت کې له یو شمیر لږو مهاجرینو او د پیغمبرﷺ له خپلې کورنۍ پرته نور څوک ورسره پاتې نه وو. پیغمبرﷺ خپله سپرلۍ د دښمن په لور ځغلوله او فرمایل یې:

انا النبي لا کذب    انا ابن عبدالمطلب

زه پیغمبر یم دا خبره دروغ نه ده، زه د عبدالمطلب زوی یم

ابوسفیان بن حارث او حضرت عباس رضی الله عنهما د نبي کریمﷺ اوښه له قیزې او رکابه نیولې وه او له تیزوالي یې منع کوله.

رسول اللهﷺ له اوښې راکښته شو. له الله څخه یې مرسته وغوښته او دا دعا یې کوله: یا الله خپل مدد او مرسته دې راورسوه.

پیغمبرﷺ عباسؓ ته امر وکړ چې د لښکر په منځ کې په لوړ آواز غږ وکړي او لښکر را وغواړي. مهاجرینو او انصارو د نبي کریمﷺ دعوت او بلنې ته لبیک ووایه په میدان کې سخت جنګ ونښت. پیغمبرﷺ له ځمکې څخه یو موټی خاورې راواخستې او د مشرکانو په مخ یې ور وشیندلې او ویې فرمایل: «شاهت الوجوه» یعنی بد او ناوړه دې وي دا مخونه، د دښمن سترګې له خاورو ډکې شوې وروسته په ماتې او تیښته شول.

## د دښمن ماتې او تعقیب یې

له دې یو موټی خاورو شیندلو څخه لږ وروسته دښمن سخته ماتې وخوړله، یوازې د ثقیف له قبیلې اویا تنه ووژل شول. مالونه او وسله یې د مسلمانانو په لاس کې ولویدل.

دا هماغه تحول دی چې الله ﷻ په خپل دې قول کې ورته اشاره کوي او فرمايي: ﴿وَيَوْمَ حُنَيْنٍ إِذْ أَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنكُمْ شَيْئًا وَضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ وَلَّيْتُم مُّدْبِرِينَ* ثُمَّ آنَزلَ اللّهُ سَكِينَتَهُ عَلَى رَسُولِهِ وَعَلَى الْمُؤمِنِينَ وَأَنزَلَ جُنُودًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعذَّبَ الَّذِينَ كَفَرُواْ وَذَلِكَ جَزَاء الْكَافِرِينَ﴾ توبه/ ۲۵-۲٦.

ژباړه: او اوس د حنین د غزا په ورځ به تاسو د هغه ملاتړ لیدلی وي. په دې ورځ تاسې د خپل شمیر په زیاتوالي غره وئ، خو هغه ستاسې هیڅ په کار رانغی او ځمکه له خپل پراخوالي سره سره

پر تاسې تنګه شوه او تاسو شا واړوله وتښتیدئ. بیا الله خپله ډاډینه پر خپل پیغمبر او پر مومنانو نازله کړه او هغه لښکر یې راکوز کړ چې تاسو نه لیده او د حق منکرانو ته یې سزا ورکړه، چې همدا د هغو خلکو لپاره بدله ده چې له حقه منکر شي.

کله چې دښمن ماتې وخوړله، یوه ډله یې د طائف په لور او ځینې د نخلې او اوطاس په لوري وتښتیدل. رسول اللهﷺ د دښمن د تعقیب په خاطر د ابوعامر اشعري په مشرۍ یوه ډله صحابه اوطاس او سپاره یې د نخله په لوري ولیږل او خپله نبي کریمﷺ د غنیمتونو له راټولو وروسته ددښمن د تعقیب لپاره د طائف په لوري ولاړ.

**(۲) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، انسان باید په ظاهري قوت غره نشي، په الله توکل او په الهي مرسته ډاډه کېدل تر بحث لاندې ونیسئ.

## ۲ـ د طائف غزا

دا غزا د حنین د غزا ادامه ده، ځکه د دښمن قوماندان له خپل یو شمیر لښکر سره هغه لوري ته وتښتید. پیغمبرﷺ ماتې خوړلی دښمن تعقیب کړ.

خالد بن ولیدرضي الله عنه له زرو تنو سره له پیغمبرﷺ څخه مخکې طائف ته داخل شو او بیا نبي کریمﷺ طائف ته ورسید او دښمن یې په یوه کلا کې کلابند کړ.

دا کلابندي څو ورځې اوږده شوه. په دې موده کې دواړو خواوو د یو او بل په لوري غشي ویشتل چې له امله یې یو شمیر مسلمانان ژوبل او دولس تنه په شهادت ورسیدل.

د مچنغوزې په واسطه د دښمن د کلا په دیوالونو کې یو سورۍ وشو مسلمانانو غوښتل چې د سوري له لارې کلا ته اور واچوي خو د دښمن تر غشو لاندې راغلل.

د نبي کریمﷺ منادي اعلان وکړ: هر غلام چې له کلا څخه راکوز شي او زموږ لوري ته راشي، آزاد دی. په دې اعلان ۲۳ درویشت تنه مسلمانانو ته راغلل. کله چې کلابندي اوږده شوه او

د کلا فتح هم سخته شوه، پیغمبرﷺ له مشورې وروسته هوډ وکړ چې کلابندي ماته او طائف پرېږدي او د ثقیف خلکو ته یې د هدایت دعا وکړه، کله چې نبي کریمﷺ د عمرې ادا کولو په قصد مکې ته ولاړ. د عمرې له اداء کولو وروسته مدینې منورې ته ستون شو او په مکه مکرمه کې یې عتاب بن اسید د والي په توګه وټاکه. کله چې رسول اللهﷺ مدینې منورې ته راغی، نو د ځینو سرکشو قبیلو د ټکولو لپاره یې ځینې سریې ولیږلې او یو شمیر نورېې د خلکو د دعوت او زکات جمع کولو لپاره کلیوالو سیمو ته ولیږلې.

## د لوست ګټې

- ایمان د مسلمانانو لپاره د دښمن په وړاندې تر ټولو لوی قوت دی.
- صبر او زغم د ستونزو په وړاندې د برلاسی او کامیابۍ شرط دی.
- پیغمبرﷺ د غچ اخیستلو پر ځای عفوه غوره او دښمنانو ته یې د هدایت دعا کوله.

## ارزونه

۱_ د حنین د غزا لپاره څومره مسلمانان له مکې څخه ووتل؟

۲_ د دښمن د ماتې لاملونه څه وو؟

۳_ په مکه کې د مسلمانانو لومړی والي څوک و؟

## کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو، د حنین د غزا واقعه په لنډه توګه په کتابچو کې ولیکئ.

# د تبوک غزا

## د مسلمانانو د حملې لپاره د روميانو تياري نيول

مدينې ته پرله پسې خبرونه رارسيدل چې روميانو او غسانيانو دمسلمانانو د سفير حارث بن عمر ازدي له وژلو وروسته چې د نبی کريم ﷺ خط يې د بصرې والي ته وړلو، لوی لښکر تيار کړی، چې له مسلمانانو سره يوه برخليك جوړوونکې او خونړۍ جګړه پيل کړي. منافقينو هم په دې وخت کې د ضرار جومات د بنسټ ايښودلو ښه موقع موندله او د روميانو د چمتو والي خبرونه هيله من کړل، کيدای شي، خپلو شومو او ناوړو هيلو ته، چې د مسلمانانو له منځه تلل دي، ورسيږي.

له راپورونو څخه جوته وه چې قيصر د روميانو او عربي مسيحيانو څخه څلوېښت زره جنګي لښکر تيار کړ. د لښکر مخکيني کسان بلقاء ته رسيدلي وو. دې خبر د مسلمانانو په وړاندې يو لوی خطر رامنځ ته کړ. خطر ورځ په ورځ زياتيده. له يوې خوا د هوا ګرمي او له بلې خوا د فصلونو د راټولولو وخت و. خلکو غوښتل د خپل باغ د ونو تر ميوو او سيوري لاندې پاتې شي. په دې سربيره د واټن لرې والی هم يوه لويه ستونزه وه.

## د پيغمبر ﷺ غوڅ اقدام

پيغمبر ﷺ په ډير ژور نظر حالاتو ته کتل او په دې پوهيده چې د روميانو په وړاندې له سستۍ او تنبلۍ څخه کار اخيستل د مسلمانانو په جنګې شهرت او اسلامي دعوت ناوړه اثر لري. له بلې خوا منافقان، چې له روميانو سره يې له مخکې اړيکې درلودې، دوی به هم موقع ومومي د مسلمانانو په ضد به لاس پورې کړي، د مسلمانانو هغه برياوې چې د سختو جنګونو او زياتو زحمتونو په نتيجه کې يې لاس ته راوړې وې، ټولې به له لاسه ولاړې شي، نو پيغمبر ﷺ پورته مطلبونو ته په پام سره هوډ وکړ چې له ستونزو او مشکلاتو سره سره په يوه برخليك جوړوونکي جنګ لاس پورې کړي او روميانو ته ددې مهلت ورنه کړي چې د اسلامي حکومت څمکو ته مخکې راشي. صحابه وو ته يې خپل قصد بيان کړ او څه خلك يې د مکې او عربي قبيلو خلکو

ته هم ولیږل چې د جنګ لپاره خپل ځانونه چمتو کړي. له بلې خوا یې مسلمانان د الله په لار کې لګښت او مال ورکولو ته هڅول.

## د جهاد په خاطر د لښکر سمبالول

مسلمانانو د الله په لار کې په مال او صدقو ورکولو کې مسابقه پیل کړه او نبي کریمﷺ ته یې تسلیم کړل. د دوی له جملې څخه عثمان بن عفان رضي الله عنه خپل تجارتي کاروان، چې دوه سوه مجهز اوښان، او له ۲۰ کیلو زیات سپین زر پکې وو، شام ته یې د سفر لپاره تیار کړی و، صدقه کړ او بیا یې سل اوښان له ټولو لوازمو سره او له پنځو کیلو زیاته طلا صدقه کړه. رسول اللهﷺ وفرمایل: هر عمل، چې عثمان پس له دې ترسره کړي، زیان نه ورته رسوي. د حضرت عثمان رضي الله عنه ټولې صدقې په دې غزا کې په نغدو روپیو برسیره نه سوه اوښانو او سل آسونو ته رسیدلې.

حضرت ابوبکر رضي الله عنه خپل ټول مال صدقه کړ. حضرت عمر رضي الله عنه خپل نیم مال صدقه کړ. عبدالرحمن بن عوف، حضرت عباس، طلحه، سعد بن عباده، محمد بن مسلمه او عاصم بن عدي زیات مالونه صدقه کړل. په دې توګه د مسلمانانو لښکر سره له دې چې ځینې اړتیاوې یې درلودې، چمتو شو او د زیاتو ستونزو له امله په جیش العسرة ونومول شو.

پیغمبرﷺ د پنجشنبې په ورځ له دیرش زریز لښکر سره مدینه د تبوک په مقصد پرېښوده. د لارې په منځ کې لښکر اوبو ته اړ شو. تردې چې شکایت یې رسول اللهﷺ ته ورسید. پیغمبرﷺ دعا وکړه، یوه وریځ را پیدا شوه. او داسې باران وشو چې ټول خلک یې په اوبو ماړه شول او د خپلې اړتیا اوبه یې هم ورسره واخیستې.

پیغمبرﷺ په لار او یا تبوک ته نژدې وفرمایل: "نن شپه به سخت باد ولګیږي. هیڅوک باید ولاړ پاتې نشي. هر څوک دې خپل اوښان په ګونډه وتړي.همغه و د شپې سخت باد ولګید.

## د تبوک په لوري اسلامي لښکر

اسلامي لښکر تبوک ته ننووت. خپله قرارګاه یې جوړه کړه. په داسې حال کې چې له دښمن سره مخامخ جنګ ته ټول چمتو ولاړ وو، رسول اللهﷺ د لښکر په منځ کې خطبه وویله، مسلمانان یې دنیوي او اخروي ښیګڼو ته وهڅول او ددوی جنګي معنویات یې لوړ کړل.

رومیانو او هم ژمنو یې د مسلمانانو د لښکر په خبریدو خپل جرأت او میړانه له لاسه ورکړه، تیت او پرک شول. په دې توګه د مسلمانانو پوځي شهرت ټولو ځایونو ته ورسید او لوړې سیاسي موخې

او هدفونه يې ترلاسه کړل.

د ايله، جرياء او اذرح حاکمان پيغمبرﷺ ته راغلل د جزيې په ورکولو يې ورسره موافقه وکړه.

رسول اللهﷺ دوی ته ليکونه وليکل چې له خپلو ځانونو سره يې وساتي.

همدارنګه پيغمبرﷺ خالد بن وليدرضي الله عنه له ۴۲۰ تنو سپرو مجاهدينو سره د اکيدر مشر دومة الجندل ته وليږه. خالدرضي الله عنه د هغه ځای مشر ونيوه او نبي کريمﷺ ته يې راوست. له هغه سره يې په دوه زره اوښانو، اتو سوو وزو، څلور زره زغرو او څلور سوه نيزو سوله وکړه او هغه په جزيه ورکولو موافقه وکړه.

## د مدينې په لوري ستنيدل

د مسلمانانو برلاسی لښکر پرته له کوم جنګ او مقاومته په داسې حال کې چې اللهﷻ جنګ يو طرفه کړ، مدينې منورې ته راستانه شول.

تبوک ته د نبي کريمﷺ وتل د رجب په مياشت او راستنيدل يې د رمضان په مياشت کې وو. دا غزا پنځوس ورځې اوږده شوه. ديرش ورځې يې په تبوک او پاتې ورځې يې په تګ او راتګ کې ووتې. د تبوک غزا د پيغمبرﷺ وروستی غزا ګڼل کيږي.

## د لوست ګټې

- د عربو له زړونو څخه د روميانو د هيبت او ويرې وتل او د اسلامي حکومت د ستنو ټينګښت.
- په سيمه کې د اسلامي هيواد قدرت او طاقت د يوازني قدرت په توګه داسې څرګنديدل چې د هغې زمانې تر ټولو لويو نړيوالو قدرتونو ته يې چلنج ورکاوه.
- د پيغمبرﷺ تر فرمان لاندې د جزيرة العرب يووالی.

## ارزونه

۱ـ د تبوک د غزا لامل څه و؟

۲ـ رومیانو د مسلمانانو په وړاندې څرنګه تیاری نیولی و او پیغمبرﷺ څرنګه قاطع او غوڅ عمل وکړ؟

۳ـ د اسلامي لښکر د چمتو والي تر ټولو لویه برخه چا او څرنګه یې په ذمه واخیسته؟

٤ـ د کومو پیښو څخه چې پیغمبرﷺ مخکې له پیښیدو خبر ورکړی و هغه ذکر کړئ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د تبوک د غزا د اغیزو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

# د پيغمبرﷺ غزاګانو ته يوه لنډه کتنه

کله چې د نبي کريمﷺ غزاګانو، سريو او پوځي پلاوو ته وګورو او د هغو پايلو او اغيزو ته ژور نظر وکړو، ډير ښه څرګنديږي چې پيغمبرﷺ د نړۍ تر ټولو لوی او تر ټولو ډير زړور قوماندان و او د اسلامي نوي دولت سياسي او نظامی چارې يې په پوره حکمت او درايت سره اداره کولې.

## په غزاګانو کې د پيغمبرﷺ لياقت

نبي کريمﷺ د وخت د شرايطو په غوښتنه په هوښياری او زړورتيا سره لازم تدبيرونه نيول. په هر جنګ کې يې ستراتيژيک مرکزونه او له دښمن سره د مقابلې لپاره منظم پلانونه جوړول او د ډيرو کوچنيو جنګي ملاحظاتو په رعايتولو کې يې هم کومه اشتباه نه څرګنديدله.

## د جهاد روزنتون

دا غزاګانې د هغو قوماندانانو روزنتونونه وو چې د نبي کريمﷺ له وفات څخه وروسته د جګړو په ډګرونو کې د فارس، روم او عراق په ضد وجنګيدل او ويې کولای شول د هغه وخت دوه ډير قوي هيوادونه له پښو وغورځوي.

## په اسلام کې د جنګونو موخې:

نبي کریمﷺ د جاهلیت د دورې د جګړې موخې او هدفونه بدل کړل، ځکه په جاهلیت کې د جګړې موخه چور، لوټ، تیری، غچ اخیستل، د بیوزلو حقوق تر پښو لاندې کول، د خلکو وژل، د ښځو بې عفته کول او داسې نور وو.

جنګ په اسلام کې په هغه جهاد اسماً او ماهیتاً بدل شو، چې د لوړو هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره ترسره کیږي او انساني ټولنه په هر وخت او زمان کې په هغه نازیږي، ځکه جهاد انسان د ظالم نظام له منګولو څخه ژغوري. د عدل او انصاف د نظام په لوري یې بیایي او له هغه نظام څخه چې په هغه کې زورور د بیوزلو حق خوري، د هغه نظام په لور لارښوونه کوي چې پکې بیوزلي قدرت مومي او خپل حق له بډای او زورور څخه اخلي.

جنګ په هغه جهاد بدل شو چې هدف د ظالمانو له ولکې څخه د سړیو، ښځو او ماشومانو ژغورل دي او په هغه جهاد بدل شو چې هدف یې د الله د ځمکې پاکي ده او په ځای یې د امنیت سولې، مینې او مهربانۍ خپریدل او یو د بل د حقونو مراعاتول او میرانه ده.

نبي کریمﷺ د نسل له منځه وړل، د کښتونو تباهي او له اړتیا پرته د ونو پرې کول منع کړي دي او د مکې د فتحې په وخت یې وفرمایل: بندي او زخمي هیڅکله ونه وژنئ او څوک چې تښتي په هغه پسې ولاړ نشئ.

نبي کریمﷺ دا قانون او طریقه جاري او نافذه کړه چې استازی به نه وژل کیږي او د ذمیانو(هغه کسان چې له مسلمانانو سره یې ژمنه او تړون کړی وي) وژل یې په ټینګه منع کړي او فرمایلي

يې دي: "څوك چې ذمي ووژني، د جنت بوی به هم ونه مومي." حا ل دا چې د جنت بوی له څلويښتو کلونو فاصلې ليرې موندل کيږي.

د تبوك او حجة الوداع د غزاګانو تر منځ چې کومې مهمې پيښې رامنځ ته شوې دی هغه د ثقيف د قبيلو ايمان راوړل او د منافقانو د مشر عبدالله بن ابی بن سلول مړه کيدل او په نهم هجري کال د ابوبکر صديقؓ په امارت د حج مراسم تر سره کيدل، د برائت سورت نازليدل، د مشرکانو سره د معاهدې پای ته رسيدل، د دوی له حج څخه منع کيدل او په جزيرة العرب کې بت پرستی ختميدل دي.

**(۱) هڅونه**

ګرانو زده کوونکو، د جنګ د جاهلي دودونو په ځای د اسلامي او انسانی جهاد د عالي موخو په تر سره کېدو په خپلو کې سره بحث وکړئ.

## د لوست ګټې

- په غزاګانو کې د نبي کريمﷺ لياقت او رهبري.
- جهاد د مسلمانانو لپاره د عقيدو او اخلاقو د تربيت او پالنې مدرسه ده.
- د الله جل جلاله په لاره کې د جهاد څخه موخه د ظلم او بې عدالتی له منګولو څخه د انسانانو ژغورل او آزادي ده.

## ارزونه

۱ـ په غزاگانو کې د نبی کریمﷺ د رهبرۍ رول بیان کړئ؟

۲ـ د اللهﷻ په لار کې د جهاد انساني هدفونه ولیکئ؟

۳ـ د جاهلي جنګونو او اسلامي جهاد تر منځ تو پیر واضح کړئ؟

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د جهاد او د هغه د لوړو موخو په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکي.

# حجة الوداع

## د حج اداء کولو لپاره د مکې په لوري د سفر اراده

الله جلاله وغوښتل چې پيغمبر يې د خپل دعوت او بلنې ميوې او پايلې ووينې. نبي کريمﷺ اعلان وکړ چې په دې حج کې ټول مسلمانان برخه واخلي. څکه زيات شمير خلك مدينې منورې ته راغلل او هيله من وو چې په نبي کريمﷺ پسې اقتداء وکړي. د شنبې په ورځ د ذی القعدې (۲۵) يا (۲۶) نېټه نبي کريمﷺ ځان د سفر لپاره تيار کړ، ويښتان يې ږمنځ کړل، لنگ او څادر يې واغوست، خپلو قربانيو ته يې پټارې واچولې. له ماسپښين څخه وروسته يې حرکت وکړ او د مازديگر له لمانځه مخکې ذو الحليفې ته ورسيدل. هلته يې دوه رکعته لمونځ اداء کړ او شپه يې هلته تيره کړه.

## د حج د نيت اعلان

کله چې سهار شو نبي کريمﷺ خپلو صحابه وو ته وويل: نن شپه د الله له طرفه ماته پرښته راغلې وه او راته يې وويل: "په دې مبارکه وادي کې لمونځ وکړه او له هغه وروسته ووايه، عمره سره له حجه اداء کوم. بيا يې د ماسپښين دوه رکعته لمونځ اداء کړ د لمانځه په ځای کې يې د حج او عمرې تلبيه شروع کړه او دواړه يې يو ځای ذکر کړل. وروسته په قصوی نومې اوښه سپور شو او تلبيه يې ويله. کله چې دښتې ته ورسيد بيا يې هم تلبيه ويله او خپل سفر ته يې دوام ورکړ، تر څو مکې ته نژدې شو. شپه يې په ذی طوی(د يو ځای نوم دی) کې تيره کړه.

## پيغمبرﷺ په مکه کې

نبي کريمﷺ د سهار له لمانځه وروسته د هجرت په لسم کال د ذی الحجې په څلورمه د يکشنبې په ورځ غسل وکړ او له اتو ورځو پس مکې مکرمې ته ورسيد. کله چې مسجد الحرام ته داخل شو، له کعبې نه يې طواف وکړ او د صفا او مروه ترمنځ يې سعی وکړه، خو ځان يې حلال نه کړ، څکه ده د قران حج نيت کړی و. (قران حج هغه دی چې عمره او حج دواړه په يوه نيت سره په يوه احرام وکړې او د حج له مناسکو وروسته ځان حلال کړې) خپله قرباني يې هم له ځانه سره راوړې وه.

## د منی او عرفات په لور

نبي کریمﷺ د حجون په سیمه کې استوګنه غوره کړه. د ترویې په ورځ (د ذو الحجې) په اتمه منی ته روان شو او هلته یې د ماسپښین، مازدیګر، ماښام، ماخوستن او سهار لمونځونه اداء کړل. د لمر له راختلو وروسته عرفات ته روان شو، کله چې عرفات ته ورسید، ویې لیدل چې خیمه یې په نَمِره سیمه کې دریدلې او هلته له خپلې سپرلۍ څخه راکوز شو، تر څو چې لمر زوال وکړ. کله چې لمر زوال وکړ نو اوښه ورته تیاره شوه او د میدان منځ ته راغی، په داسې حال کې چې شاوخوا یې سل زره خلک راټول شوي وو، دوی ته یې ډېره ارزښتناکه او اوږده خطبه او موعظه واوروله.

ربیعه بن امیه بن خلف په عرفات کې د پیغمبرﷺ خبرې تکرارولې چې ځینې برخې یې دا دي.

## په عرفات کې د نبي کریمﷺ سپارښتونه(نصیحتونه)

ای خلکو زما خبرې واورئ، ځکه زه نه پوهیږم ښایي له تاسو سره له دې کاله وروسته په دې ځای کې بیا ونه وینم. پرته له شکه ما ستاسو په منځ کې داسې دوه شیان پریښي دي چې هر کله په هغو منګولې ولګوئ هیڅکله به لار ورکي نشئ. هغه د الله کتاب او زما سنت دي.

ای خلکو، یقیناً زما څخه وروسته بل پیغمبرﷺ نشته او له تاسې وروسته بل امت هم وجود نه لري، نو د خپل پروردګار عبادت وکړئ، یوه میاشت روژه ونیسئ، د خپلو مالونو زکات په خوشحالۍ سره ورکړئ، د الله د کور حج وکړئ، د خپلو چارواکو فرمان منئ او د خپل پروردګار جنت ته داخل شئ.

کله چې پیغمبرﷺ خپله خطبه او موعظه پای ته ورسوله، الله تعالی دا آیت نازل کړ: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا﴾ [مائده: ۳]

**ژباړه**: نن ورځ مې ددین(احکام) تاسو لپاره بشپړ کړل او تاسو ته په عزت ښنلو او د تاسو د قدمونو په محکمولو مې خپل نعمت پر تاسو بشپړ کړ او اسلام مې د کړنلارې په توګه تاسو ته خوښ او غوره کړ.

له خطبې وروسته حضرت بلا لؓ اذان او اقامت وواېه او رسول اللهﷺ له خلکو سره د ماسپښین او مازدیګر لمونځونه دواړه په یوه آذان او دوو اقامتونو په جماعت اداء کړل. بیا په خپله سپرلۍ سپور او موقف ته راغی په دعا ودرید تر څو چې لمر ډوب شو.

## پیغمبرﷺ په مزدلفه کې

نبي کریمﷺ اسامهرضي الله عنه له خپل ځان سره تر شا په سپرلۍ سپور کړ او مزدلفې ته یې تشریف راوړ، د ماښام او ماسختن لمونځونه یې په یوه اذان او دوو اقامتونو اداء کړل.

له هغه وروسته یې استراحت وکړ، تر څو سهار شو، د سهار لمونځ یې اداء کړ او بیا په خپله اوښه سپور او مشعر الحرام ته راغی او مخ په قبله یې د الله ذکر کاوه.

## له مزدلفې څخه د منی په لوري

بیا په مشعر الحرام کې تر هغه پاتې شو، تر څو لمر پوره روښانه شو. بیا یې له مزدلفې څخه د منی په لور حرکت وکړ. فضل بن عباس یې تر شا په خپله سپرلۍ سپور کړ او لویې جمرې ته ورسید چې د جمرة العقبة په نامه یادیږي. هغه یې په اوو شګو وویشته او په هر وار یې الله اکبر وویل، بیا د ښارویو د حلالولو ځای ته راغی. درې شپېته (۶۳) اوښان یې په خپل لاس حلال کړل. نور یې حضرت علیرضي الله عنه ته امر وکړ. عليرضي الله عنه اوه دېرش نور اوښان ذبح کړل، ترڅو سل اوښان پوره شول.

د خپلو قربانیو د غوښې ښوروا یې وڅښله. بیا په خپله سپرلۍ سپور او د افاضه یا فرضی طواف په نیت کعبې شریفې ته روان شول. د ماسپښین لمونځ یې په مکه کې اداء او د زمزم اوبه یې وڅښلې.

## د لوی اختر په ورځ د پیغمبرﷺ خبرې

پیغمبرﷺ د ذی الحجې په لسمه د لوی اختر په ورځ یوه خطبه وویله چې دځینو برخو یادونه یې په لاندې ډول ده.

ویې فرمایل: پرته له شکه ستاسو وینې، مالونه او پت (عزت) یو په بل داسې حرام دي، لکه ستاسو ددې ورځې په شان په دې ښار او پدې میاشت کې.

ډیر ژر به د خپل الله دیدار وکړئ او له تاسو څخه به د خپلو عملونو پوښتنه کیږي، نو زما څخه وروسته بې لارې نشئ چې ځینې ستاسو د ځینو نورو غاړې پرې کړئ.

آیا تاسو ته مې دین ورساوه؟ ټولو صحابه وو وویل: هو! بیا رسول اللهﷺ وفرمایل: ای الله ګواه(شاهد) اوسه، باید کوم کسان چې دلته حاضر دي دوی دې غائبینو ته ددین پیغام ورسوي.

پیغمبرﷺ د تشریق په ورځو کې په منی کې استوګنه درلوده. خپل مناسک یې اداء کړل او خلکو د حج مناسک له رسول اللهﷺ څخه زده کړل.

## د حج د مناسکو ترسره کول او د مدینې په لوري د سفر هوډ

د ذی الحجې په دیارلسمه، چې د اختر څلورمه ورځ کیږي، پیغمبرﷺ له منی څخه ووت او کعبې شریفې ته راغی د وداع طواف یې اداء کړ او د حج د مناسکو ترسره کولو څخه وروسته مدینې منورې ته ستون شو.

### د لوست ګټې

- پیغمبرﷺ د حج مناسک مسلمانانو ته عملاً وروښودل.
- د دې لوست له محتوی نه له دنیا څخه د نبي کریمﷺ د رخصتیدو نږدېوالی معلومیږي.
- د حجة الوداع خطبه په حقیقت کې د آزادۍ او عدالت اعلان او د انسانانو تر منځ د تبعیض ختمول او د تل لپاره د ګډ ژوندانه لارښوونه ده.

### ارزونه

۱_ د حجة الوداع خطبې مهم ټکي ولیکئ؟

۲_ د اختر په ورځ د نبي کریمﷺ د خطبې مهم ټکي ولیکئ؟

۳_ د حجة الوداع خطبې بشریت ته څه پیغام وړاندې کړی دی؟

### کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو د حجة الوداع د خطبې د ارزښت په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د پيغمبرﷺ ناروغي او رحلت

کله چې د اسلامي دعوت چارې بشپړې شوې او اسلام پياوړی او پر نورو اديانو مسلط او غالب شو، نو د نبي کريمﷺ په ژوند، مشاعرو او احساساتو کې د وداع او خدای په امانی نښې نښانې ښکاره شوې. دا مطلب په حجة الوداع کې دده له وينا او کړو وړو څخه ښکاره معلوميده.

## له دنيا سره د پيغمبرﷺ د وداع نښې نښانې

نبي کريمﷺ د هجرت په لسم کال د رمضان په مياشت کې شل ورځې اعتکاف وکړ.

جبرائيل عليه السلام دوه ځلې قرآن کريم ورباندې تلاوت کړ.

پيغمبرﷺ په حجة الوداع کې وفرمايل: ښايي هيڅکله له دې کاله وروسته په دې ځای کې له تاسو سره ونه ګورم.

همدارنګه د عقبې جمرې په څنګ کې يې وفرمايل: د حج مناسک زما څخه زده کړئ، ښايي له دې کال وروسته حج ونه کړم.

## د پيغمبرﷺ د ناروغۍ پيل

د هجرت په يوولسم کال د صفرې په مياشت کې د دوشنبې په ورځ پيغمبرﷺ د يوې جنازې په مراسمو کې په جنت بقيع کې برخه واخيسته او له هغه ځايه په راګرځيدو د سر په خوږو اخته او سختې تبې ونيو.

نبي کريمﷺ يوولس ورځې د ناورغۍ په حالت کې خلکو ته د لمانځه امامت کاوه او د ناروغۍ ټولې ورځې يې ديارلس يا څوارلس ورځې وې.

د پيغمبرﷺ بيبيانو ده ته اجازه ورکړه او د فضل بن عباس او حضرت علی بن ابی طالب رضي الله عنه په مرسته د بي بي عائشې رضی الله عنها کور ته په داسې حال کې داخل شو چې خپل مبارک سر يې تړلی او قدمونه يې په ځمکه ورپسې کشيدل او د خپل ژوند وروستۍ اونۍ يې هلته تيره کړه.

## له وفات نه پنځه ورځې مخکې

د چهارشنبې په ورځ د وفات نه پوره پنځه ورځې مخکې دده ناروغي سخته شوه. په مبارک سر یې اوبه واچولې او څه اندازه د تبې د سپکتیا احساس یې وکړ. خپل سر یې تړلی و. جومات ته داخل شو او په منبر کیناست. په داسې حال کې چې خلک شاوخوا ترې راغونډ شوي وو، خطبه یې وویله او ویې فرمایل: "د الله لعنت په یهودو او نصارا وو چې د خپلو پیغمبرانو قبرونه یې جوماتونه گرځولي. همدارنگه یې وفرمایل: زما قبر د بت په شان ونه لمانځئ.

بیا پیغمبرﷺ اعلان وکړ چې که څوک په ما حق لري یا زما څخه د قصاص غوښتونکي وي کولای شي خپل حق تر لاسه کړي او کله یې چې د لمانځه د امامت توان په ځان کې ونه موند، نو څوک یې حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته ورولیږل، ویې فرمایل: "خلکو ته د لمانځه امامت وکړه."

حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه د نبي کریمﷺ په ژوند کې صحابه وو ته د اوولسو لمونځونو امامت وکړ.

## له وفات څخه یوه ورځ مخکې

پیغمبرﷺ له وفات څخه یوه ورځ مخکې خپل ټول غلامان آزاد کړل. اوه دیناره یې، چې درلودل، هغه یې صدقه کړل. او خپله وسله یې هم مسلمانانو ته وروبښله.

## د پیغمبرﷺ د ژوند وروستۍ ورځ

پیغمبرﷺ د خپل ژوند په وروستۍ ورځ د خپلې کورنۍ خلک ځان ځان ته ولیدل. خپلو بیبیانو ته یې نصیحت وکړ او بي بي فاطمې رضي الله عنها ته یې زیری ورکړ چې هغه د نړۍ د ښځو سرداره ده. په غوږ کې یې ورته وویل: ته د پیغمبرﷺ د کورنۍ لومړنۍ ښځه یې چې له پیغمبرﷺ سره به پیوسته شې. حسن او حسین رضي الله عنهم یې مچې کړل او د دوی په هکله یې د ښېگڼې وصیت وکړ. خلکو ته یې وصیت وکړ او ویې ویل: لمونځ قایم کړئ.

## (۲) هڅونه

زده کوونکي دې له حسن او حسین رضي الله عنهما سره د نبي کریمﷺ د مینې په اړه په خپلو کې بحث او خبرې وکړي.

## د احتضار شیبه

د پیغمبرﷺ د احتضار او الله تعالی ته د ځان سپارلو شیبې راورسیدې. حضرت عائشېؓ نبي کریمﷺ خپل ځان ته تکیه کړی و. عبدالرحمن د حضرت ابوبکر صدیقؓ زوی راننووت. په داسې حال کې چې مسواک یې په لاس کې و، د پیغمبرﷺ په غوښتنه یې مسواک ده ته ورکړ او خپل غاښونه یې ښه مسواک کړل. کله چې له مسواک څخه فارغ شو، لاس یا ګوتې یې پورته کړې او سترګې یې د چت لوري ته ونیوې، ورو ورو یې فرمایل: (مع الذین انعم الله علیهم من النبین والصدیقین و الشهداء والصالحین و حسن اولئك رفیقا). ژباړه: له هغو کسانو سره چې په هغوی دې انعام پیرزو کړی له پیغمبرانو، صدیقینو، شهیدانو او نیکانو څخه او دوی غوره ملګري دي.

ای الله! ما ته ښښنه وکړه او په ما رحم وکړه او ما له غوره ملګري سره یوځای کړه!.

ای الله! له غوره ملګري سره یوځای کیدل له تانه غواړم.

او دا وروستنۍ جمله یې درې ځله تکرار کړه، لاس یې د څنګ سره پیوست او له رفیق اعلی سره یوځای شو. (انا لله وانا الیه راجعون، سبحان الذی لا یموت)

دا پیښه د هجرت په یوولسم کال د ربیع الاول په دولسمه د دوشنبې په ورځ منځ ته راغله، په داسې حال کې چې له عمر څخه یې درې شپیته کاله او څلور ورځې تیریدې.

## د لوست ګټې

• مسلمانان باید له وفاته مخکې د خلکو پور او یا حق که وربانديې وي اداء او یا ببښنه ورڅخه وغواړي.

• پیغمبرﷺ په پوره امانتدارۍ د نبوت دنده ترسره او ددې له بشپړیدو وروسته د الله تعالی سره پیوست شو.

• قرآن کریم او نبوي سنت د بشریت لپاره دوه تل پاتې مصدرونه او د هدایت سر چینې دي.

## ارزونه

۱ـ پیغمبرﷺ څوکلن و چې له نړۍ یې رخصت واخیست؟

۲ ـ له دنیوي ژوند سره د پیغمبرﷺ د وداع نښې ولیکئ؟

۳ـ د پیغمبرﷺ د ناروغۍ په ورځوکې د مسلمانانو د لمانځه امامت د چا په غاړه و؟

٤ـ د پیغمبرﷺ د احتضار او الله ته د ځان سپارنې شیبې ولیکئ؟

## کورنۍ دنده

خپلو اصحابو او خپلې کورنۍ ته د ناورغۍ په ورځوکې د نبي کریمﷺ سپارښتونه په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# د پيغمبرﷺ د رحلت په وړاندې د صحابه وو دريځ او د حضرت ابوبکرؓ غوره کول

د پيغمبرﷺ وفات د صحابه رضوان الله عليهم اجمعين په ژوند کې تر ټولو ناوړه پيښه ګڼل کيږي، دکورنی خلك او صحابه دده د رحلت څخه ډير زيات متأثره شول اما په ايمان ،زغم او د الله په قضا يې ددې ناوړه پيښې په وړاندې رضا څرګنده کړه.

## د حضرت ابوبکرصديقؓ دريځ

حضرت ابوبکرصديقؓ په آس سپور له کوره راغی. جومات ته نژدې کوز شو، مسجد ته ننووت. له صحابه وو سره يې خبره ونه کړه. د حضرت عائشېؓ کور ته ننووت. د پيغمبرﷺ په مبارك بدن باندې خط لرونکی يمني څادر اچول شوی و. کله چې حضرت ابوبکر صديقؓ څادر لرې کړ، پيغمبرﷺ يې مچوکړ او ويې ويل: هغه مرګ چې تا ته ليکل شوی و پيدا دې کړ. حضرت ابوبکر صديقؓ له کوره راووت او خلك د حضرت عمرؓ شاوخوا راټاو وو، ابوبکر صديقؓ وويل: "ای عمره، کښينه، حضرت عمرؓ کښيناست. خلکو هغه پريښود او د حضرت ابوبکرصديقؓ په شاوخوا راټول شول. ابوبکرصديقؓ وويل: له تاسو څخه چا چې د محمد عبادت کاوه بايد پوه شي چې محمد مړ شوی او څوك چې د الله لمانځنه او عبادت کوي. هغوی دې پوه شي چې د محمد الله ژوندی دی او نه مري. الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ

فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ ﴿١٤٤﴾ آل عمران/١٤٤.

**ژباړه**: محمدﷺ نور څه نه دی، مګر یوازې یو پیغمبر دی. له هغه نه مخکې نور پیغمبران هم تیر شوي دي. که هغه ومري یا ووژل شي، نو تاسې به په خپلو پوندو په شاګرځئ! په یاد ولرئ څوک چې شا واړوي، هغه به الله ته هیڅ زیان ونه رسوي، البته څوک چې د الله شکر ایستونکي بندګان شي هغو ته به الله د دې بدله ورکړي.

وروسته له دې چې حضرت ابوبکر صدیقؓ ذکر شوی آیت تلاوت کړ، ټولو باور وکړ چې پیغمبرﷺ وفات شوی دی.

حضرت عمرؓ چې د نبي کریمﷺ د وفات له خبر څخه ډیر زیات تر اغېزې لاندې راغلی و، د حضرت ابوبکرصدیقؓ د خبرو په اورېدو یې آرامي احساس کړه.

## د مسلمانانو د خلیفه په توګه د حضرت ابوبکر صدیقؓ انتخابېدل

د پیغمبرﷺ له تکفین او تجهیز څخه مخکې د مسلمانانو د خلافت او امارت په هکله اختلاف رامنځ ته شو، د مهاجرینو او انصارو ترمنځ په سقیفه بنی ساعده کې خبرې او بحثونه وشول او په پای کې د حضرت ابوبکر صدیقؓ په خلافت اتفاق وشو.

## د پیغمبرﷺ تکفین او تجهیز

د نبي کریمﷺ رحلت او د مسلمانانو د خلیفه په توګه د حضرت ابوبکر صدیقؓ انتخاب د دوشنبې په ورځ و. د سه شنبې په ورځ د پیغمبرﷺ د غسل او کفن چارې تر سره شوې.

د ښخولو د ځای په هکله حضرت ابوبکرصدیقؓ وویل: ما له رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: هیڅ پیغمبرﷺ نه دی وفات شوی مګر دا چې د خپل وفات په ځای کې ښخ

شوی دی.

بیا یې هغه بستره چې دی وربانديې وفات شوی و، پورته کړه او تر هغه لاندې ځای یې وکیندلو او قبر او لحد یې ورته جوړ کړ.

لس لس کسان به داخلیدل او په رسول اللهﷺ به یې د جنازې لمونځ اداکاوه. لومړی د پیغمبرﷺ کورنۍ او اهل د جنازې لمونځ اداء کړ. بیا وروسته مهاجرینو او بیا انصارو د جنازې لمونځ اداء کړ. په دې ترتیب د سه شنبې د ورځې تر اخیره د جنازې د لمانځه اداء کولو دوام درلود. چهارشنبه شوه. حضرت عائشې رضی الله عنها وفرمایل: "زه د پیغمبرﷺ له ښخولو خبره نه شوم، تر څو چې د چهارشنبې په نیمه شپه کې مې د بیلونو غږ واورید.

رسول اللهﷺ د ام المؤمنین حضرت عائشې صدیقې رضي الله عنها په کوټه یعنې هغه ځای کې چې خپل روح یې الله ته سپارلی و، ښخ شو.

## د لوست ګټې

- د پیغمبرﷺ د خلیفه ټاکنه د مسلمانانو په اتفاق له تکفین او تجهیز څخه مخکې ترسره شوه.
- صحابه وو د نبی کریمﷺ د وفات خبر په صبر او زغم چې د ایمان او د الله جل جلاله قضا ته له تسلمیدو څخه رامنځ ته شوی و، کار واخیست.

## ارزونه

۱ـ د حضرت ابوبکر دریځ د پیغمبرﷺ له وفاته وروسته څرنګه و؟

۲ـ په پیغمبرﷺ د جنازې لمونځ څرنګه اداء شو؟

۳ـ پیغمبرﷺ یې چیرته ښخ کړ؟

٤ـ د پیغمبرﷺ له وفاته وروسته څوک د مسلمانانو لپاره د خلیفه په توګه غوره شو؟

## کورنی دنده

زده کوونکي دې د نبي کریمﷺ د ژوند د وروستیو ورځو ـ شپو او وفات په هکله یوه مقاله ولیکي.

# د پيغمبرﷺ کورنۍ

عربو خلکو په خپل تقليد، دود او رواج کې د خپلوانو لپاره ځانګړې درناوی درلود. ددوی په نظر کې خپلوان د نژديوالي وسيلې ګڼل کيدل. له خپلوانو سره جنګ او دښمني بد نامي او شرم بلل کيدل. له دې امله نبي کريمﷺ وغوښتل چې له امهات المؤمنينو سره د نکاح له لارې له اسلام سره د ځينو قبايلو د دښمنۍ اور مړ کړي. پيغمبرﷺ د داسې لوړو هدفونو له لارې غوښتل، د عربي قبيلو ترمنځ د خپلوۍ اړيکې ټينګې کړي.

د پورتنيو عواملو او موخو په نظر کې نيولو سره نبي کريمﷺ له يوولسو (۱۱) بيبيانو سره نکاح وکړه چې دوه يې د دهﷺ په ژوند کې وفات شوې او نهه (۹) نورې يې د دهﷺ د رحلت په وخت ژوندۍ وې.

## د پيغمبرﷺ بيبياني

۱- پيغمبرﷺ په ۲۵ کلنۍ کې د حضرت خديجې بنت خويلد رضی الله عنها سره نکاح وکړه چې د څلويښتو کلونو په عمر وه، نبوي کورنۍ يې جوړه کړه.

ددې نکاح نتيجه او ميوه د نبي کريمﷺ زامن او لوڼې وې چې زامن يې په وړوکوالي کې وفات شول او لوڼې يې له زينب، رقيه، ام کلثوم او فاطمې رضوان الله عليهن څخه عبارت وې. رقيه او ام کلثوم يوه د بلې په وفات پسې د حضرت عثمان بن عفانرضی الله عنه په نکاح کې وې، او فاطمهرضی الله عنها د حضرت علی کرم الله وجهه سره نکاح وتړله، د نکاح ميوه يې حسن، حسين او ام کلثوم وو.

۲- نبي کريمﷺ له سوده بنت زمعه سره، چې يوه کونډه بي بي وه، د پيغمبرۍ په لسم کا ل د خديجېرضی الله عنها له وفات وروسته نکاح وکړه.

۳- عائشه بنت ابوبکر صديقرضی الله عنها د اسلامي امت له ټولو ښځو څخه عالمه او پوهه ښځه ګڼل کيږي. پيغمبرﷺ د پيغمبرۍ په يوولسم کال له دې سره نکاح وتړله. دا يوازنۍ پيغله ده چې پيغمبرﷺ ورسره نکاح کړې ده.

٤- حفصه بنت عمر رضی الله عنها چې ميړه يې وفات شوی و. بيا پيغمبرﷺ د هجرت په دريم کال له دې سره نکاح وکړه.

٥- زينب بنت خزيمهرضی الله عنها: چې په ام المساکين مشهوره وه. ميړه يې د احد په غزا کې په شهادت رسيدلی و. پيغمبرﷺ د هجرت په څلورم کال ورسره نکاح وکړه چې له نکاح څخه دوې يا درې مياشتې وروسته وفات شوه.

٦- ام سلمه بنت ابی اميهرضی الله عنها: چې ميړه يې د هجرت په څلورم کال په جمادی الاخر کې وفات

شوی و. او رسول الله ﷺ ورسره د همدې کال د شوال په میاشت کې نکاح وکړه.

۷- زینب بنت جحش رضي الله عنها د رسول الله ﷺ د عمه لور او د نبي کریم ﷺ د متبنی(په زوی ولی نیولي) زید بن حارثه مېرمن وه. زید هغې ته طلاق ورکړ او د الله په امر رسول الله ﷺ له هغې سره نکاح وکړه. څو د زوی ولی نیولو رسم له منځه یوسي.

۸- جویره بنت حارث رضي الله عنها چې د بني مصطلق له بندیانو ښځو څخه وه او د ثابت بن قیس بن شماس په برخه رسیدلې وه. حضرت ثابت رضي الله عنه د قیمت په مقابل کې جویره آزاده کړه. نبي کریم ﷺ د هغې قیمت ورکړ او د هجرت په شپږم کال یې ورسره نکاح وکړه.

۹- ام حبیبه رمله بنت ابی سفیان رضي الله عنها لومړی له خپل مېړه سره چې مسلمان شوی و، حبشې ته هجرت وکړ. مېړه یې هلته مرتد او مسیحي شو او بالآخره مړ شو. ام حبیبه په اسلام محکمه پاتې وه. رسول الله ﷺ د هجرت په اووم کال د یوه لیک په واسطه د حبشې پاچا نجاشي په مرسته ورسره نکاح وکړه او د شرحبیل بن حسنه سره یې پیغمبر ﷺ ته ولیږله.

۱۰- صفیه بنت حیی بن اخطب رضي الله عنها : دا بي بي د خیبر په غزا کې له بندیانو ښځو څخه وه. پیغمبر ﷺ آزاده کړه او د هجرت په اووم کال یې ورسره نکاح وکړه.

۱۱- میمونه بنت حارث رضي الله عنها پیغمبر ﷺ د هجرت په اووم کال په ذی القعده کې له قضایي عمرې وروسته ورسره نکاح وکړه.

له دې بیبیانو څخه یوازې خدیجه او زینب(ام المساکین) د نبي کریم ﷺ په ژوند کې وفات شوې او نورې نهه بیبیانې د نبي کریم ﷺ د وفات په وخت کې ژوندۍ وې.

### د لوست ګټې

- د پیغمبر ﷺ کورنی ژوند د بشریت لپاره یوه ډېره غوره بیلګه ده.
- د پیغمبر ﷺ ژوند د یوه نمونه یي مېړه او پلار په توګه د انسانانو لپاره تر ټولو لوی سر مشق دی.

### ارزونه

۱_ د پیغمبر ﷺ لومړنۍ بي بي څوک وه؟ له ده سره یې څو کاله ژوند وکړ؟ له هغې څخه څو زامن پیدا شول؟

۲_ د پیغمبر ﷺ د بیبیانو نومونه واخلئ؟

### کورنۍ دنده

ګرانو زده کوونکو، د پیغمبر ﷺ د کورني ژوند په هکله یوه لس کرښیزه مقاله ولیکئ.

## شپږ. څلویښتم لوست

# د حضرت محمدﷺ صفتونه او څېره

### د نبي کريمﷺ صفتونه

الله تعالی په قرآن کريم کې د پيغمبرﷺ غوره اخلاق په داسې ټينګار سره ستايلي دي: ((وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ)) پرته له شکه ته د لويو خويونو لرونکی يې.

پيغمبرﷺ سربيره په معنوي خويونو او اخلاقو په ظاهري توګه هم د نوراني څېرې يعنې تر ټولو د ښايسته او د نيکو خويونو خاوند و.

سترګې يې ډېرې تورې، باڼه يې اوږده او وروځې يې د ليندۍ په شان يو له بل سره پيوستې وې. کله به دې چې ده ته کتل، نو له ځانه سره به دې ويل چې سترګې يې په رنجو تورې کړې دي حال دا چې داسې نه وه.

مخ يې لږ شان ګرد، سپين او مالګين و. کله به چې چا دده مخ ته کتل، نو ګواکې چې لمر ته د راختو په وخت کې ګوري. روښانه رنګ يې درلود نه يې رنګ سپين او نه غنم رنګی و.

غاښونه يې تر ټولو ښايسته وو او د مخې د دوو غاښونو ترمنځ يې فاصله وه او د خبرو کولو په وخت کې داسې ښکاريده چې ګواکې د مخکينيو غاښونو له منځه يې نور ځلېږي.

د نبي کريمﷺ ږيره ګڼه، ټنډه يې پراخه، سريې لوی، پوزه يې لوړه نرۍ او عقابي وه، غومبوريو يې ډېره غوښه نه درلوده.

غاړه يې لوړه، ونه يې منځنۍ او اندامونه يې ميانه، برابر او متوازن وو. اوږو يې پراخي درلوده او د دوو اوږو ترمنځ پلن و. د دوو وليو ترمنځ يې د نبوت مهر، چې د کوترې د هګۍ په شان او له بدن سره يې همرنګی و، موجود و.

دا راوتلی مهر يې د موتيې په شان په چپه اوږه غاړې ته نژدې چې غوښين خالونه پرې وو، ځای پرځای و.

اوږې او بندونه يې قوي وو. د پښو پنډيو يې زياته غوښه نه درلوده. ويښتان يې نه ډېر پېچلي وو او نه ډېر نرم. د بدن ويښتان يې له غاړې څخه تر تشيو پورې نري وو.

د سر ویښتان یې د غوږو تر نرمیو پورې رسیدل او د سر له منځ څخه به یې خلاصول په ګیډه او سینه یې ویښتان نه درلودل، خو متې او اوږې یې له ویښتانو ډکې وې.

نبي کریمﷺ په داسې حال کې وفات شو چې، په سر او مبارکه ږیره کې یې شل تارونه سپین نه و. د دوو شقیقو ترمنځ یې ویښتان لږ سپینوالي ته مایل وو. لاس او پښې یې چاغې وې، ګیډه یې له سینې څخه راوتلې نه وه، سینه یې پراخه او متې یې اوږدې او د لاس ورغوي یې پراخه او ډیر نرم وو. ګوتې یې اوږدې او د پښو تلې یې له معمولې اندازې څخه لږې ژورې وې. پنډۍ یې لوړې وې. تیز تګ یې درلود او کله چې په لاره تلو، ګواکې مخ په ځوږ یې لاره وهله، مخکې ته به مایل کیده او په عاجزۍ سره به په لاره تلو.

کله چې به چُوپ و، وقار او عزت یې ځلاکوله او کله یې چې خبرې کولې خپل لوی خصلتونه یې ښکاره کیدل. خوږ ژبی و، خبرې یې له تناقض څخه خالي او ډیرې خبرې کوونکی هم نه و.

کله یې چې چاته کتل خپل ټول بدن به یې دده په لوري وګرځاوه. کله چې په غصه کیده څیره یې داسې د ګل په شان غوړیده چې ګواکې په غومبوریو کې یې د انار دانه نښتې ده.

## د نبي کریمﷺ خویونه

نبي کریمﷺ د لوړو انساني اخلاقو او خویونو خاوند و چې ځینو ته یې داسې اشاره کوو:

نبي کریمﷺ تر ټولو ډیر عطاکوونکی د لویې حوصلې خاوند، رښتیا ویونکی، با عزته او مهربانه و. هر چا به دی په لومړنۍ لیدنه با هیبته او له دبدبې ډک مونده او هر چا به چې له ده سره ژوند کاوه د زړه له کومې به یې دوست ګاڼه.

زغم او حوصله او د قدرت په وخت کې عفوه، د نا خوالو په وړاندې یې صبر او ثابت قدمي درلوده. په یادو شوو صفتونو الله تعالی روزلی او چمتو کړی و. په کارونو کې آساني کوونکی و. هیڅکله یې له چا څخه خپل غچ نه دی اخیستی، مګر دا چې د شریعت حریم او حق به تر پښو لاندې کیده نو بیا به یې د الله لپاره انتقام اخیست.

پیغمبرﷺ له فوق العاده فصاحت او بلاغت څخه برخمن و. د عربو په ټولو لهجو پوهیده. الله

تعالی حضرت محمدﷺ ته جوامع الکلم په برخه کړی و او خبرو يې له وحې څخه منشأ اخيسته.
بد ويونکی نه و. پر چا يې لعنت نه وايه. په بازار او عمومي لارو کې يې په لوړ غږ خبرې نه کولې.
نبي کريمﷺ اوږد سکوت درلود او له اړتيا پرته يې خبرې نه کولې. څه چې په ده پورې اړه نه درلوده په هغو شيانو کې نه غږيده. که به يې خبره پيل کوله نو له پيله تر آخره به يې په ټوله خوله خبره کوله نه د خولې په گوښه او څنډه.
نبي کريمﷺ په زړورتوب او غيرت کې ممتازه مرتبه درلوده. تر ټولو خلکو ډير زړور و، په ډيرو سختو حالاتو کې به تل حاضريده او د ميدان قهرمانان او اتلان تل دده له مخې تښتيدلي دي. هيڅ زړور نشته چې يو ځل پر شا نه وي تللی، مگر پيغمبرﷺ هيڅکله په شاتگ نه دی کړی د سيرت په کتابونو کې دده د زړورتيا نمونې دده له نژدې يارانو څخه نقل شوې دي.
نبي کريمﷺ په سخا او کرم کې داسې لوړې پوړۍ ته رسيدلی و چې د نورو په وس کې نه وه.
پيغمبرﷺ په حيا او شرم کې له ځوانې پېغلې څخه هم ډير حياناك و او که به يې څه نه خوښول نو د څيرې څخه يې ښکاره معلوميدل.
نبي کريمﷺ ډيره تواضع او عاجزي درلوده او له تکبر څخه يې ځان ساته. په کومه طريقه چې خلك د پاچاهانو په وړاندې پاڅيږي، ده منع کړي وو. د غلامانو دعوت به يې منلو او د صحابه وو په منځ کې به داسې کښيناسته چې له دوی څخه به يې ځان لوړ نه گاڼه. په خوراك او پوښاك کې د غلامانو او وينځو فرق ته قايل نه و. آن تردې چې د خپلو خادمانو خدمت به يې کاوه او هيڅکله يې خپل خادم ته په قهر او غصه خبره نه ده کړې. هغه يې د کوم کار په پرېښودو نه دی گواښلی او نه يې پرې ملامتيا ويلې ده.
عائشهؓ روايت کوي چې نبي کريمﷺ خپلو پڼو ته په خپله پيوند ايښوده. خپله جامه يې گنډله او په خپله يې د کور کارونه کول او د نورو انسانانو په شان يو بشر و چې خپله جامه يې پيوندوله. او ميږې يې لوشلې او خپل شخصي کارونه يې په خپله تر سره کول.
رسول اللهﷺ تر ټولو زياته صله رحمي درلوده او تر ټولو زيات په خلکو مشفق او مهربان و.
نبي کريمﷺ مسکينان خوښول او له دوی سره به يې تل ناسته ولاړه کوله. ددوی پوښتنه به يې

کوله، د مسکینانو په جنازو کې یې برخه اخیسته او هیڅکله یې فقیر د خالي لاس له امله خوار او ذلیل نه دی ګڼلی.

رسول اللهﷺ د الله له ذکره پرته نه کښیناسته او نه پاڅیده، په مجلسونو کې یې د ځان لپاره کوم خاص ځای نه ټاکه. په مجلس کې به چې چیرته ځای خالي و هلته کیناسته. ټولو ناستو خلکو ته یې برابره توجه اړوله.

هر خواړه به چې ورته وړاندې شول هغه یې نه ردول او نه یې د کوم شي په غوښتلو ټینګار کاوه. کله یې د ډیرې لوږې له امله په خپله خیټه تیږې تړلې. میاشتې میاشتې به دده په کور کې د خوړو د پخولو لپاره اور نه بلیده. څمکه دده دسترخوان وه چې د هغه په مخ به یې خواړه ایښودل. په دریو ګوتو به یې خواړه خوړل، د تکیې په حالت کې به یې څه نه خوړل او همیشه یې خواړه او اوبه په ښي لاس اخیستل او د الله په نامه به یې په خوړلو پیل کاوه او د الله په شکر ایستلو به یې پای ته رسول.

نبي کریمﷺ کله په بستره او کله په پوزکي او کله په څمکه او ځینې وختونه په تخت ویده کیده، تل به په ښي اړخ ویده کیده او خپل ښی لاس به یې تر خپل مخ لاندې ایښوده.

د شپې په پیل کې به ویده کیده او د شپې په آخره برخه کې به پاڅیده، په عبادت به مشغولیده او کله به یې شپه د مسلمانانو په کارونو ویښه تیروله.

پیغمبرﷺ په آس، اوښ، قچر او خره سپریده. یوازې او یا به یې څوک ترشا سپرول او ډیر په آس او اوښ سپریده او یوه قچر یې هم درلوده.

پیغمبرﷺ د بې ساري کمال په صفت ستایل شوی و او الله داسې ادب ورښودلی و چې د الله ددې کلام مستحق وګرځید﴿وَإِنَّكَ لَعَلى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾.

د نبي کریم چې کوم صفات ذکر شول، دا د دهﷺ د صفاتو یوه نمونه وه او د ټولو صفاتو ذکر کول او بیانول یې ممکن نه دي.

## (۲) هڅونه

ګرانو زده کوونکو، د نبي کريمﷺ د اخلاقو او خويونو په هکله په خپلو کې سره خبرې وکړئ.

## د لوست ګټې

- د نبي کريمﷺ اخلاق او صفتونه د کمال په درجه او زړه قبلوونکي وو.
- نبي کريمﷺ سربيره په اخلاقي لوړو فضايلو د ښايسته څيرې لرونکی و.
- نبي کريمﷺ په خپل کورني ژوند کې بې تکلفه او ډېر مهربان و.
- نبي کريمﷺ د ټولني بيوزلې طبقې ته ځانګړې پاملرنه او له هغوی سره مينه درلوده.
- په پيغمبرﷺ کې ټول ظاهري او باطني فضايل او ښېګڼې موجودې وې.

## ارزونه

۱ـ د نبي کريمﷺ ظاهره څيره څرنګه وه؟

۲ـ دده د تواضع او عاجزۍ څو بيلګې ذکر کړئ؟

۳ـ د نبي کريمﷺ د کورنيو اخلاقو په هکله د حضرت بي بي عائشېرضي الله عنها له خولې څخه ووايئ.

۴ـ نبي کريمﷺ کوم ډول خواړه خوښول؟

اللهم صل وبارك على محمد وعلى آله واصحابه اجمعين وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين.